















# تنفسي سیستم

## اناتومي او فزیولوژي



ډاکتر حامد شیر شینواري

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب نوم : دتنفسي سیستم اناتومي او فزیولوژي

لیکوال: دوکتورحامد (شیرشینواری)

کمپوز: دوکتور حامد (شیرشینواری)

چاپ کال:1393 هجري شمسي

لیکونکي پته:0700601282

0786751393

Dr.hamid1282@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ترټولو لمړی دهغه سترذات الله (ج) څخه ډیر شکرګزاره یم چې ماته ئې دا وړتیا راکړه ترڅو دالیکنه ترسره کړم.

څرنګه چې ټولو هیوادوالو ته دا جوته ده چې څو پرلپسي لسیزو ناخوالو زمونږ ګران هیواد افغانستان د ډیرو ستونزو سره مخ کړ، چې ددي ستونزو څخه یوه هم په علمي ډګرکي ددي هیواد دبچو وروسته پاتي کیدل وو، نو ددي لپاره چې دغه ستونزي ته مو دحل لاره پیداکړي وي او ځان مو د نورخلکو د پیغور څخه خلاص کړی وي نو یوازیني لاره ئې په علمي پرمختګ کي ده، چې دعلمي پرمختګ لپاره تازه او نوي معلوماتو ته لاس رسی حتمي خبره ده، نو ددي لپاره مي بهتره وګڼله چې دتنفسي سیستم اناتومي او فزیولوژي تر عنوان لاندي یو کتاب ولیکم .

پدغه کتاب کي ترډیره حد دنړی د متعبرو او منل شوو سرچینو څخه استفاده شوي ده چې وروسته د دقیقي کتني او څیړني وروسته ستاسو لاسونوته درسیدلی دی،خو څرنګه چې دا زما لمړني لیکنه ده نو یقیناً چې دمفهوم، جمله بندي او املا غلطي ګاني به ولري، نود ټولو لوستونکو څخه هیله کوم چې د غلطي ګانو د موندلو په صورت کي ئي له مونږ سره شریک کړي تر څو په راتلونکي کي اصلاح شي .

دیادوني وړ بولم چې د کتاب په بیا کتنه کي راسره زما ګران او د قدروړ استاد پوهندوي دوکتور بریالي (ولي زاده) ډیره مرسته کړي د زړه د کومي ورڅخه مننه کوم، او همدارنګه د محترم استاد اصف (صمیم) څخه هم ډیره مننه کوم چې په ادبي لحاظ ئي کتاب اصلاح کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د خپلو دوستانو دوکتور لیاقت (فضلي مومند)، دوکتور ګلدادخان (صافی) ، دوکتورسعادت الله (ابراهیم خیل)، ډاکترامید (نیازي) ډاکتر احمدجاوید (زرنج) او داکترحامد(نیازي) څخه هم مننه کوم چي د کتاب د محتویاتو په برابرولو کي راسره مرسته کړي ده.

همدارنګه د یادوني وړ بولم چي د دوکتوران برای افغانستان د غړو اوپه ځانکړي توګه د ډاکترصیب اوریا څخه مننه وکړم چي زه یي د تل په خیر د نورځوانانو پشان علمي زده کړو ته وهڅولم او زما کتاب یي په خپل ویب پاڼي کي نشر کړو.

ډاکترحامدشیرشینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه

د خپلوګرانو والدينوڅخه چي دژوند په هر پړاو کي ئي زما ملاتړ کړي او ماته ئي د تعليم زمينه مساعده کړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ټولو هغو ګرانو محصلينو ته چي د طب مسلک ئي دهيوادوالو د خدمت لپاره انتخاب کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


عمومیات ---------------------------------------------------------------- 13

تنفسي سیستم دندي ------------------------------------------------- 15

هوائي کڅوړوته د هوا انتقال -------------------------------------- 17

تنفسي سیستم اناتومي اوهستولوژي----------------------------- 17

پوزه ---------------------------------------------------------------------- 18

بلعوم--------------------------------------------------------------------- 23

حنجره ------------------------------------------------------------------ 26

شزن ------------------------------------------------------------------- 32

Trachiobronchial Tree ---------------------------------- 34

هدایتی ساحه -------------------------------------------------------- 34

تنفسي ساحه -------------------------------------------------------- 39

سږي ------------------------------------------------------------------ 43

صدري جدار او تنفسي عضلي--------------------------------- 46

پلورا ------------------------------------------------------------------ 50

(c) ketabton.com: The Digital Library

سږو اروا --------------------------------------------------- 52

لمفاوي تقويه ------------------------------------------------ 56

دټوخي او پرنجي عکسي ------------------------------------- 57

دسږو د دندو اندازه کول ------------------------------------ 68

دغازاتو دتبادلي فزيکي قوانين -------------------------------- 71

قسمي فشار --------------------------------------------------- 71

دمايعاتو څخه دغازاتونفوذ ---------------------------------- 83

دتنفسي غشا څخه د غازاتو تيريدنه---------------------------- 85

تنفسني غشا پيړوالی ---------------------------------------- 86

په غشاکي دغازاتو د نفوذ ضريب------------------------------ 87

دتنفسي غشا سطحي مساحت---------------------------------- 87

دغشاپه دواړو خواوکي دقسمي فشار تفاوت--------------------- 88

دتهوئي اوريوي شعريه رګونودويني جريان ترمنځ اړيکه--------- 90

دتنفس دتبادلي نسبت ---------------------------------------- 92

تنفسي ضريب ------------------------------------------------ 93

په ويني کي د اکسيجن او کاربن ډاي اوکسايد انتقال------------- 94

(c) ketabton.com: The Digital Library

داکسیجن دنفوذ تفاوت ---------------------------------------- 95

دکاربن ډاي اوکسایدد نفوذتفاوتونه ----------------------------- 96

هیموګلوبین اوداکسیجن انتقال-------------------------------- 97

په وینه کي د اکسیجن انتقال --------------------------------- 106

په نسجي $po_2$ په ثابت ساتنه کي د هیموګلوبین اغیزه --------- 110

داکسیجن دقسمي فشار اغیزه---------------------------------- 112

د کاربن داي اوکساید دقسمي فشار اغیزه --------------------- 115

حرارت ------------------------------------------------- 116

د ( DPG ) BPG اغیزه ---------------------------------- 119

دکاربن مونو اوکساید اغیزه --------------------------------- 119

رشیمي هیموګلوبین --------------------------------------- 122

دکاربن ډاي اوکساید انتقال---------------------------------- 123

په منتشرشکل سره دکاربن ډاي اوکساید انتقال---------------- 123

دکاربن ډاي اوکساید انتقال د مرکبونو په شکل---------------- 123

دکاربن ډاي اوکساید انتقال دباي کاربونیټ په شکل ----------- 124

کاربن ډاي اوکساید او دویني pH ---------------------------- 125

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتنفسي سیستم کنترول ----------------------------------- 128

ریتمي تهویه ------------------------------------------ 128

دتنفس تنظیم ------------------------------------------ 129

دتهوئي عصبي کنترول ---------------------------------- 130

تنفسي مرکزونه --------------------------------------- 130

اعصاب ---------------------------------------------- 133

دتنفسي مرکزونو همغږي اود ریتمي تهوئي جوړیدنه--------- 134

هغه فکتورونه چي تنفسي مرکزونه متاثره کوي ------------- 137

دتهوئي کیمیاوي کنترول --------------------------------- 141

تهوئي باندي د ورزش اغیزه ------------------------------ 148

دعمرتاثیرپه تنفسي سیستم باندي ------------------------ 150

دتنفسي سیستم پتالوژي ته یوه لنډه کتنه ------------------ 152

خفګي یا د تنفس دریدل ---------------------------------- 161

Hyperventilation ------------------------------------ 164

Hypoventilation ------------------------------------- 165

داکسیجن کمښت --------------------------------------- 165

(c) ketabton.com: The Digital Library


د Hypoxia ډولونه او علتونه ------------------------------ 166

د اکسیجن تراپي پواسطه دهایپوکسیا درملنه ----------------- 172

اکسیجن تسموم------------------------------------------ 173

دکاربن ډاي اوکساید ډیربښت------------------------------ 174

دکاربن ډاي اوکساید کمښت------------------------------- 175

Asphyxia----------------------------------------------- 176

Dyspnea ---------------------------------------------- 177

دوري تنفس ------------------------------------------- 179

Cheyne stokes تنفس---------------------------------- 179

Biot's تنفس ----------------------------------------- 180

سیانوزس ------------------------------------------- 181

Atelectasis --------------------------------------- 181

Pneumothorax ------------------------------------ 182

Pneumonia------------------------------------------ 182

سالنډي---------------------------------------------- 182

Pulmonary Edema ---------------------------------- 182

(c) ketabton.com: The Digital Library

Pleural Effusion ---------------------------------------- 186

توبرکلوز ------------------------------------------------- 186

Emphysema --------------------------------------------- 187

Index ------------------------------------------------------ 188

ماخذ ------------------------------------------------------- 193

لیکوال پیژندنه ------------------------------------------ 194

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اول فصل

# عمومیات

# تنفسی سیستم

# Respiratory System

تنفس او ساه اخستل داسی یو عمل دي چي ددي عمل کړنه او فریکونسي د ژوند په بهیرکي دبل هیڅ عمل سره پرتله کیداي نشي، که څه هم مونږ دتنفس په کولو او نه کولو کي واکمنيو خوپدي به لاس بري نشو چي ترډیر وخته پوري خپل تنفس بند کړو. دبلي خواڅخه تنفس دژوند ځانګړنه ده او د Puls سره یوځاي د یو کس دم ړینی او ژوند په معلوملوکي ټاکونکي رول لوبوي.

د ساه اخستل یوه اړینه پروسه ده ځکه چي د بدن حجري ددي لیوال دي چي اکسیجن واخلي او کاربن داي اوکساید ( $CO_2$ ) له ځان څخه لیري کړي . چي اکسیجن دتنفسي سیستم پواسطه اخستل کیږي او ويني ته ورکول کیږي او بیا د زړه او رګونوسیستم (Cardiovascular) له لاري د سږو څخه حجروته لیږدول کیږي. نو ځکه وايلاي شو چي حجروته د اکسیجن رسول او $CO_2$ بهر ته اویستل دتنفسي ، زړه او رګونو دواړه سیستمونو یوه ګډه دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنفسي سیستم خپله دنده په لاندي څلورو پړاونوکي ترسره کوي

1) Ventilation: دسږو څخه دهوا داخلیدلو او اویستلو څخه عبارت دي.
2) دغازونوتبادله دسږو او ويني ترمنځ چي ځيني وخت د External Respiration پنامه هم یادیږي.
3) دويني پواسطه د اکسیجن او $CO_2$ انتقال.
4) دحجرو او ويني ترمنځ داکسیجن او $CO_2$ تبادله.

اوس په ترتیب سره ددتنفسي سیستم عمومي دندي او وروسته ددي سیستم دهر غړی اناتومي، هستولوژي او فزیولوژي ترخیړني لاندي نیسو.

## دتنفسي سیستم دندي

## Function of Respiratory System

تفسی سیستم یو دډیرو اړینو سیستمونوله جملي څخه دي ځکه چي هره حجره د اکسیجن اخستلو او د کار بن داي اوکساید لیري کولو ته اړتیا لري. دتنفسي سیتستم دندو څخه په لاندي ډول یادونه کوؤ:

a) *دغازونو تبادله (Gases Exchange)*:مخکي مو تریادونه وکړه.
b) *دويني pH کنترول (Regulation of Blood pH)*: دا عمل عمدتاً دسږو پواسطه په وینه کي د کاربن داي اوکساید دکچي دبدلون پواسطه ترسره کیږي، داچي کاربن داي اوکساید دنسجونودمختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

استقلابي تعاملاتو په پایله کي منځته راځي او بیا ویني ته دداخلیدو وروسته د اوبو سره تعامل کوي اویو بي ثباته مرکب د کاربونیک اسید پنامه جوړوي چي دامرکب ډیر ژر په هایدروجن ایون او باي کاربونیټ باندي بدلیږي او پدي ترتیب دویني pH ښکته ځي خودبلي خوا په سږوکي دغه تعامل معکوس کیږي او دهایدروجن ایون سویه کمیږي اوپه پایله کي د ویني pH لوړیږي.

$$CO_2 + HOH \longrightarrow H_2CO_3 \longrightarrow H^+ + HCO_3^-$$

$$H^+ + HCO_3^{--} \longrightarrow H_2CO_3 \longrightarrow CO_2 + HOH$$

c) _داواز تولید ( Vocalization )_: دغه دنده دتنفسي سیستم عمدتاً دشزن ( Trachea) پواسطه ترسره کیږي چي وروسته به پري مفصلاً بحث ورکړو.

d) _دبوي کول (شامعي)( Olfaction)_ : دا دنده د پوزي تشي ( Nasal Cavity ) څخه دهوا دمغلقو مالیکولونو دتیریدو په وخت کي ترسره کیږي.

e) _ژغورنه او دفاع ( Defense )_: دتنفسي سیستم پواسطه نه یوازي اکسیجن ترقلبي وعایوي سیستم پوري لیږدول کي بلکي ددي لاري په اوږدوکي دهوا څخه بیګانه توکی هم لیري کیږي او بدن دانتان دمداخلي څخه دامکان ترحده پوري ژغوري، همدارنکه په سږو او سنخونو ( Bronchi ) کي د Leukocytes, Mast cells, Macrophage, Natural Killer Cells شتون ددي سیستم ددفاعي دندي ښکارندوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

f) دبدن دحرارت کنترول ( *Regulation of Body Temperature)*: دبدن ځخه دساه ویستلو( Expiration ) په وخت کي داوبو دمالیکولونو سره یو ځاي حرارت هم ضایع کیږي. نو پدي ترتیب تنفسي سیستم دبدن دحرارت په کنترول کي هم ونډه لري.

g) دبدن دابو توازن ساتنه ( *Maintenance of Body Water Balance ):* تنفسي سیستم دبدن داوبو په توازن کي کړوني لري، چي د ساه اویستلو په وخت کي یواندازه اوبه تبخیر کیږي اوپدي ترتیب دبدن ځځه یو اندازه اوبه ضایع کیږي.

h) دويني پرن کيدولو ځځه مخنيوي ( *Anticoagulant Function ):* په سږوکي د Mast Cell شتون لري چه لدي حجرو ځخه هيپارين افرازيږي کوم چي د وینې دپرن کیدوځخه مخنیوي کوی او نه پریږدي چه وینه درګونو په داخل کي پرن شي.

i) د *Angiotensine Converting Enzyme فراز*: دسږو دشعريه رګونو ( Pulmonary Capillary ) د Endothelial Cells ځخه د ACE فرازيږي کوم چي Angiotensine 1 په Angiotensine 2 باندي بدلوي چه دا Angiotensine 2 د حجري ځخه دباندی ( Extracellular Fluid ) او د ويني دفشار په کنترول کي مهم رول لوبوي.

j) دهورموني موادو جوړول ( *Synthesis of Hormonal Substance ):* اوس دا جوته شوي ده چي دسږو نسج ديو شمير هورموني موادو لکه Serotonin, Acetylcholine او Prostaglandins جوړوي کوم چي په بدن کي غوره فزيولوژيکي دندي ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فـصل

## Alveoli ته دهوا انتقال


## تنفسی سیستم اناتومي او هستولوژي

## Anatomy and Histology of Respiratory System

دتنفسي سيستم غړي په دوو لويو برخوباندي ويشو چي يو يي پورتني تنفسي لاره (Upper Respiratory Tract) دي چه پدي برخه کي پوزه (Nose) حنجره (Larynx) او نورمرستندونه جوړښتونه شامل دي او بله برخه يي ښکتني تنفسي لاره (Lower Respiratory Tract) دي چه پدي برخه کي شزن (Trachea)، سنخي (Bronchi) او دسږي شاملي دي. چه د هر غړي د جوړښت او دندي څخه په لاندي ډول يادونه کوو:

همدارنګه ديادوني وړده چه حجاب عجز (Diaphragm)، سيني صندوقچه اود بطن جدارونه دتنفسي حرکت مسوليت په غاړه لري.(۱-۲ ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library




ش۲-۱

## .1 پوزه ( Nose)

پوزه د جوړښت له پلوه د دوو برخو لرونکي ده چي یو یي خارجي برخه ده چي دا برخه په ډیره اندازه دغضروفونو څخه جوړه شوي ده، ددي برخي پوله ( Bridge ) د Nasal هډوکي اود Frontal او Maxillary هډوکو دیوي برخي څخه جوړه شوي ده او بله برخه د پوزي دخالیګا ( Nasal Cavity ) څخه عبارت ده چي دغتو جوړښتونو څخه یي په لاندي ډول یادونه کوؤ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. *دپوزي سوري ( Nares يا Nostrils ):*

دپوزي سوري چي دپوزي دخاليګا خارجي فوهه ده او پوزه دبهرسره وصلوي اوپه مقابل کي يي Choanae داخلي فوهه ده جي پوزي جوف دستوني سره وصلوي.

2. *Vestibule :*

د پوزي دسوريو په خلف کي موقعيت لري او د Stratified Squamous Epithelium پواسطه پوښل شوي چه دا اپيتليوم د جلد د پوستکي د Stratified Squamous Epithelium سره تماس لرونکي دي. Hard Plate چه هډوکين پليټ دي او دمخاطي غشا پواسطه پوښل شوي د پوزي دجوف ځمکه جوړوي او همدا پليټ دي چه د خولي او پوزي جوفونو يي سره بيل کړي دي. Nasal Septum چه قدامي برخه يي دغضروف پواسطه او خلفي برخه يي د Vomer هډوکي او Ethmoidهډوکي د Prependicular plate پواسطه جوړه شوي ده، دپوزي جوف پردوو برخو ويشي يو يي چپ او بل يي ښي برخه. ( ٢-٢ش)

3. *Conchea :*

دا جوړښت د Vestibule شاته دپوزي په وحشي جدارکي شتون لري د ماهي د غوږ يا کلي (کونجی) پشان شکل لري او دري ډوله دي. ( ٢-٢ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library

a. Superior Conchea
b. Middle Conchea
c. Inferior Conchea


4. *Meatus :*

دانل ته ورته جوړښت دی چه د Conchea شاته موقعیت لري په دري ډوله دي

a. Superior Meatus
b. Middle Meatus
c. Inferior Meatus

چي لدي ډلی څخه Sup. Meatus او Mid. Meatus ته دمختلفو Paranasal sinusesفوهي راخلاصیږي خو Inf. Meatus ته Nasolacrimal ductفوهه راخلاصیږي. (۲-۲ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۲-۲ش دپوزي جوړښت**

## <u>دپوزې فزيولوژي:</u>

1) هركله چه دخولي خاليګا د غذا څخه ډک وي نوپدي وخت کي دهوا تيريدو يوائيني لاره پوزه ده.

*2) <u>دهوا تصفيه کول:</u>*

لکه څنګه مو چه مخکي يادونه وکړه چي Vestibule دوينښتانولرونکي دي نو دا وينښتان دهوا څخه غټي ذري ايساروي دبلي خوا د Nasal Septum او Nasal Conchea پواسطه چه پدي جوف کي کومي کړ.ي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړې لاري جوړي شوي دي داددي لامل ګرځي چه هوا د Conchea او Septum په سطحه ولګیږي اودا چه دا دواړه سطحي د Columnar Epithelium کاذبه سلیاوي او Goblet Cells لري اوددي حجروپواسطه مخاط افرازیږي، نوځکه دزیات شمیر غیراړینو توکو دنیولو او ددویو دوړاندي تګ څخه مخنیوي کوي چه دا توکی بیا دیو قشر په ډول دمخاط سره یوځاي بلعوم ته انتقالیږي او بیا به یا تؤ شي اویا به بلع شي.

3) *دهواګرمول او مرطوبول:*

دپوزي دجوف دا دنده د Nasal Septum او Nasal Conchea دهغه پراخه برخي پواسطه چه مساحت یي $160\ cm^2$ دي په لاندي ډول ترسره کیږي:

داوښکو هغه نم او رطوبت چه د Nasolacrimal Duct لاري دپوزي جوف ته راځي دهوا په مرطوبوالي کي رول لري اوهغه ګرمه وینه چه په مخاطي غشاد شعریه رګونو په منځ کي بهیږي دهوا دګرمیدو سبب ګرځي، نوځکه دتنفسي سیستم پاتي برخي ته ګرمه، مرطوبه او فلترشوي هوا داخلیږي. اوددي سیستم دیادي برخي د خرابیدو مخه نیسي.

دیادوني وړده چه دپوزي دجوف دا دري دندي چه دهوا ګرمیدل، مرطوبول او فلترکولو څخه عبارت دي د Air Conditioning پنامه یادیږي.

4) *بوي حس (Olfaction):*

دا دنده دپوزي د Olfactory Epithelium پواسطه چه دپوزي دجوف په پورتني برخه کي شتون لري تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5) *دخبرود Resonance تاکنه:*

خبري دوه د Resonance جوفونه لري چي يو يي Paranasal Sinuses او بل يي همدا دپوزي جوف دي، چه دپوزي د جوف کړنه دخبروپه Resonance تاکنه کي هغه وخت ښه جوتيږي چه د لاس اويا کوم بل شي پواسطه پوزه بنده کړو اوبيا خبري وکړو.

## 2. بلعوم
## Pharynx

بلعوم داسي يو غړي دي چه د تنفسي او هضمي دواړوبيلابيلو سيستمونوپه ډله کي راځي. دغه غړي پورته خواکي دپوزي او دخولي سره اړيکي لري. چه دپوزي څخه هوا او دخولي څخه هوا، مايعات او غذا ورداخليږي او بيا ئي اړونده غړو ته يي چي په ښکتني برخه کي ورسره اړيکي لري انتقالوي.

بلعوم په ښکتني برخه کي دتنفسي سيستم دحنجري اودهضمي سيستم دمري سره اړيکي لري. بلعوم دري برخي لري چي عبارت دي له:

- ✓ Nasopharynx (د پزی برخه)
- ✓ Oropharynx (دخولی برخه)
- ✓ Laryngopharynx (حنجری برخه)

Nasopharynx دبلعوم پورتني برخه ده چي Choanae څخه تر Soft plate (دايو نابشپړ او منضم نسج دي چي Nasopharynx او

(c) ketabton.com: The Digital Library


Oropharynx دواړه سره بیلوي. ددغه پلیټ په خلفی برخه کي انګورداني ته ورته یوه بارزه (راوتلي) چوړښت د Uvula پنامه شتون لري. ددي پلیټ دنده داده چي د بلع شوي مواد نه پریږدي چي Nasopharynx اودپوزي جوف ته داخل شي) پوري غزیدلي دي، بیکاره او فاضله مخاط د Nasopharynx څخه تیریږي او ستوني ته راځي چي لدي وروسته بلع او یا داچه بهر ته خارجیږي.

Nasopharynx ته دمنځني غوږ څخه دوه Auditory تیوبونه راخلاصیږي کوم چي دمنځني غوږ او اتموسفیر ترمنځ فشار یوي شان کوي. د Nasopharynx په خلفي سطحه کي یو تانسل د Pharyngeal Tonsil یا Adenoid پنامه شتون لري چي دا تانسل دانتان په مقابل کي د بدن څخه دفاع کوي.

دبلعوم Oropharynx برخه د Uvula څخه تر Epiglottis پوري غزیدلي دي چي دخولي جوف سره د Fauces پواسطه ارتباط لري نو ځکه هوا، مایعات او غذا ورڅخه تیریږي. داچي دابرخه د مخاط لرونکي Stratified Squamous Epithelium پواسطه پوښل شوي نوځکه ددي موادو د تیریدو په وخت کي نه ګرول کیږي. د یادوني وړده چي دوه عدده نور تانسلونه د Lingual او Palatine پنامه د Fauces سره نژدي شتون لري.

دبلعوم Laryngopharynx برخه د Epiglottis دڅوکي څخه شروع او د ښکتني برخي په قدام کي د مري سره او په خلف کي دحنجري سره وصليږي چه بلعوم دا برخه هم د Oropharynx پشان د مخاط لرونکي Stratified Squamous Epithelium پواسطه پوښل شوي دي. (۳-۲ ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۲-۳ ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 3. حنجره
# Larynx

حنجره چي دبلعوم اوشزن ترمنځ ځاي لري.دحنجرى غضروفى چوکاټ د دريو طاق اودريو جوړه يي (چه شپږدانى کيږي) څخه جوړ شويدي چه ټول نهه غضروفى پوښ لرونکي دي. چه تر ټولو لوي غضروف ئي د Thyroid څخه عبارت دي. په طاق ډول پروت دي اودا غضروف د Adam’s Apple پنامه هم يادیږي.


دوهم طاق غضروف د Cricoid Cartilage څخه عبارت دي کوم چي د حنجري قاعده جوړه وي او د جنجري پاتى ټول غضروفونه ددي غضروف لپاسه واقع دي.

دريم طاق غضروف Epiglottis Cartilage څخه عبارت دي. دا غضروف د Thyroid غضروف دپاسه واقع او دژبي خواته امتداد لري د جوړښت له پلوه دنورو غضروفونو سره توپير لري پدي معني چي دا غضروف د Hyaline Cartilage پرځاي Elastic Cartilage لري. او غضروف دنده داده چي دبلع دعمل په وخت کي حنجره بندوي اونه پريږدي چي مواد ورته داخل شي.

لمړي جفت غضروف چي د قاشوغي (څمڅي) پشان شکل لري علوي او خلفي برخو کي د Cricoid Cartilage سره وصل دي د Arthynoid Cartilage پنامه يادیږي. اوهغه غضروف چي په علوي کي د Arthynoid غضروف سره څوکو سره وصل دي او دښکر پشان شکل لري د Corniculate غضروف پنامه يادیږي او دريمه جوړه غضروف Cuneiform غضروف څخه عبارت دي چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

Corniculate غضروف په قدام كي په Mucous Membrane كي امتداد لري. (۴-۲ ش)




۴-۲ ش

دوه جوړه رباطونه ( Ligaments) د Arthynoid غضروف دقدامي برخي څخه نیولي تر خلفي برخي د Thyroid غضروف پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزيدلي دي، چي علوي رباط يي ديوي مخاطي غشا پواسطه چي د Vestibular Folds اويا False Vocal Cords پنامه يادېږي پوښل شوي دي، دا Vestibular Folds كله چي دبلع عمل صورت نيسي نو حنجره بندوي اونه پرېږدي چي غذا او مايعات حنجري ته داخل شي او همدارنګه دسږو څخه دهوا خارجيدل هم يوڅه وخت دځنډسره مخامخوي.(۵-۲ش)

اوسفلي رباط يي هم دمخاطي غشا پواسطه احاطه شوي دي چي دامخاطى غشاد Vocal Folds يا True Vocal Cords پنامه يادېږي. د Vocal Folds او ددويوترمنځ سوري مجموعاً د Glottis پنامه يادېږي. Vestibular Folds او Vocal Folds داوړه د Stratified Squamous Epithelium پواسطه او دحنجري نوري برخي د Pseudostratified Squamous Epithelium پواسطه پوښل شوي دي.

ديادوني وړده چي هركله Vocal Folds په التهاب اخته شوي نو دغه حالت ته Laryngitis وايي.

اوس مونږ دحنجري په دندو (فزيولوژي) باندي رڼا اچو:

- ✓ د Thyroid او Cricoid غضروفونه دواړه دهوا دتيريدولو لپاره يو خلاصه لاره جوړوي.
- ✓ Epiglottis او Vestibular Folds دواړه حنجري ته دبلع شوو موادو له داخليدو څخه مخنيوي كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓ Vocal Folds د اوازدتوليد لمړني منبع ده: دا چي Vocal Folds په کوم مکانيزم سره اواز توليدوي په لاندي ډول تري يادونه کوؤ:


هغه هوا چي د Vocal Folds څخه تيريږي ددي Vocal Folds د اهتزاز سبب ګرځي او ددي اهتزاز په تيجه کي اواز توليديږي. همدارنګه هغه هوا چي د Vocal Folds څخه تيريږي د اهتزاز امپليتود هم تعينوي نوکه چيرته زياته هوا تيره شي نو امپليتود به لوړ او اواز به هم لوړوي او برعکس که چيرته داهتزاز امپليتود وړوکي وي نو اواز به هم ټيټ وي. د اواز زير او بم کيدل د اهتزاز دفريکونسي پوري اړه لري که چيرته داهتزاز فريکونسي لوړه وي نو Pitch (داهتزاز دغږ اوفريکانس لوړوالي) به هم لوړ وي او اواز به زير نوعيت ولري،خوکه فريکونسي ټيټه وي نو Pitch به يي هم ټيټ وي او اواز به بم نوعيت ولري، همدارنګه د Vocal Folds داهتزازکونکومساقو تغير هم د اهتزاز په فريکونسي باندي اغيزه لري که چيرته د Vocal Folds قدامي برخه اهتزاز وکړي نو لوړ Pitch لرونکي اواز به توليد شي نو اوس چي د Vocal Folds هر څومره ښکته برخه په اهتزاز راځي نو په هماغه اندازه به اواز Pitch کم وي. داچي د نارينو Vocal Folds نسبت ښځوته اوږد دي نوځکه دکمي فريکونسي (کم Pitch) لرونکي اواز لري. هرکله چي اواز د Vocal Folds څخه راتيرشي نودا اواز بيا د ژبي، شونډو، غاښونو او نورو جوړښتونو پواسطه تغيرپکي راځي (Modified کيږي).

همدارنګه غضروفونه د Vocal Folds دطول په تغيرسره په غيرمستقيم ډول د فريکونسي په ټاکني باندي غيزه لري، کله چي يوازي دتنفس عمل صورت ونيسي نو Arthynoid غضروفونه وحشي خواته تدور کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


Vocal Folds يوله بل څخه ليري کيږي او په نتيجه کي زياته هوا ورڅخه تيريږي، خو که چيرته همدا غضروفونه انسي خواته تدور وکړي نو Vocal Folds يو بل سره نژدي کيږي او کمه هوا د Vocal Folds څخه تيريږي د غضروفونو قدامي اوخلفي حرکتونه هم د Vocal Folds په کشش او طول باندي اغيزه کوي. (۵-۲ش )

ديادوني وړده که چيرته يو شخص حنجره د سرطان (Carcinoma) له وجي ليري کړاي شي نوبيا اواز دمري د اهتزاز پواسطه توليدلای شي.




(۵-۲ش )

(c) ketabton.com: The Digital Library




(ش۲-۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# 4. شزن
# Trachea

شزن یو غشايي تیوب دي چي د Dense Regular Connective Tissue او دملسا عضلاتو څخه جوړشوي دي داجوړښت د 15-20 عدده پوري دنګلسي د C توري ته ورته غضروفونوپواسطه تقویه کیږي. داغضروفونه دشزن قدامي او وحشي جدارونوکي موقعیت لري او دهوا د تیریدلو لپاره يي یو خلاصه لاره جوړه کړي ده،چه ددغه غضروفونوداخلي سطحه مخاطي غشاپواسطه پوښل شوي. د شزن خلفي جدار چي غضروف نلري بلکي Elastic Ligamentous Membrane او د Trachialis Muscles پنامه یو بنډل دملسا عضلاتو لري( ۲-۶ش)،چي ددي عضلاتو دتقلص په نتیجه کي دشزن قطر کمیږي چي دټوخي په وخت کي دا عمل دهوا د ډیري چټکي تیریدني سبب ګرځي او د بلعوم څخه مخاط او ناغوښتي مواد لیري کوي.

دشزن داخلي قطر 12 mm او طول يي 10-12 cm پوري دي چي د حنجري څخه ترپنځمي صدري فقري پوري غزيدلي دي. شزن په سفلي برخه کي د دوو کوچنیو تیوبونو باندي چي Primary Bronchi نومیږي ویشل شوي دي. د شزن ترټولو ښکتني غضروف یوتیغه مانند جوړښت جوړوي چي د Carina پنامه یادیږي، چي دا جوړښت د Primary Bronchi فوهي یوله بل څخه بیلوي. دبلي خوا Carina د راډیولوژي له مخي هم خاص اهمیت څخه برخمنه ساحه ده او همدارنګه دمیخانیکي تنبي په مقابل کي ډیر حساس جوړښت دي پدي معني چي هرکله بیګانه مواد دغه ساحي ته ورسیږي نو د ټوخي یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوي عکسه تولیدیږي او تر هغه دوام کوي ترڅو دغه بیګانه مواد له Carina څخه لیري شي.




**۶-۲ش**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Trachiobronchial Tree .5

لکه څنګه مو چي مخي ووایل چي شزن په سفلي برخه کي په دوو برخو ویشل کیږي چي هره برخه یي د Primary Bronchi پنامه یادیږي. دا Primary Bronchi بیا په خپل وار سره په مسلسل ډول په څانګو ویشل کیږي تردي چي دا تیوبونه دومره واړه شي چي د مایکروسکوپ پرته یي لیدل شوني نه وي. دشزن څځه تر اخره پوري ټوله تنفسي لاره د Trachiobronchial Tree پنامه یادیږي. چي دا Trachiobronchial Tree بیاد فزیولوژي له نظره په دوه برخو ویشل کیږي چي یو یي Conducting Zone (هدایتي ساحه) او بل یي Respiratory Zone (تنفسي ساحه) ده.

## .6 هدایتي ساحه : Conducting Zone

هدایتي ساحه دشزن څخه شروع او تر Terminal Bronchiolesپوري دوام لري چي پدي لړکي شزن 16 ځلي په څانګو ویشل کیږي. دا هدایتي ساحه د هوا تیریدلولپاره لاره جوړه وي، داچي دا ساحه د اپیتیلل نسج پواسطه پوښل شوي ده نوځکه امکان ترحده پري ناغوښتي ذري لیري کوي اوبیا یي Trachiobronchial Tree څخه بهر اوباسي.

دیادوني وړده چي Terminal Bronchioles ته هغه ذري د رارسیدو وړتیا لري کوم چي د 1-5 µ ولري نوځکه د ډبروسکرو کارکونکو کي د Terminal Bronchioles امراض زیات تر سترګو کیږي. ځني ډیري وړي ذري چي قطریي له یو مایکرون څخه هم کم


(c) ketabton.com: The Digital Library

وي د سږو ترجدار پوري ځان رسوي اوهلته له سنخي مايع ( Pleural Fluid) سره نښلي او مخکي نشي تللاي، خو هغه ذري چي د 0.5 µ څخه هم کم قطر لري دسږوپه جوفونو کي له هوا سره ګـډيږي چي بيرته د ساه اويستلو (Expiration) په وخت کي بهرته وځي. خو داچي دسکړتو د ذروجسامت د 0.3 µ سره سمون خوري نو دتنفسي لاري په يوي برخه کي هم نه بنديږي او ځان سږو ته رسوي چي له بده مرغه په سږوکي د دريمي برخي نه زيات يي د Diffusion د عمليي په اساس ترسب کوي او پاتي دوه برخي يي بيا د ضفيري هوا ( Expired Air) سره يوځاي بيرته بهرته اوځي. په سږو کي دا ترسب شوي ذري په زياته اندازه د Alveolar Macrophage پواسطه له منځه ځي او پاتي برخه يي د سږود لمفاوي چينل پواسطه له ساحي څخه وړل کيږي او هغه څه چي ددي ټولو ميخانيکتونو څخه بيا هم پاتي شول نو هغه بياد Alveolar Septum په برخه کي د فبروزي نسج درامنځته کيدو سبب ګرځي چي دا بيا په يودومداره تضعف باندي بدليږي.

اوس بيرته د Trachiobronchial Tree د جوړښت او دندو ته رګرځو:

شزن په ښي او چپ Primary Bronchi باندي کوم چي په سږو کي غزيدلي دي ويشل کيږي، دښي خوا سږي Primary Bronchi لنډ او پراخه دي خو د چپ خواسږي Primary Bronchi بيا اوږده او نري وي نو ځکه دچپ سږي په نسبت په ښي سږي کي زيات مرضونه تر سترګو کيږي.(۷-۲ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library




(ش۲-۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چي په پورته شکل کي ګورو چي ښي خواکي Primary Bronchi په دريو او چپ سږي کي په دوو Secondary (Lobar) Bronchi باندي ويشل شوي دي، چي دا Lobar Bronchi بيا هريو يي په Tertiary (Segmental) Bronchi باندي ويشل کيږي چي په څانګو باندي د ويشني دا لړي همداسي دوام کوي ترڅو چي قطر يي 1 mm څخه هم کم شي چي دا بيا د Bronchioles پنامه يادېږي، Bronchioles بياهم په څانګو ويشل کيږي او Terminal Bronchioles رامنځته کوي.

هرڅومره چي دهوا د انتقال لاره کوچني کيږي په هماغه اندازه ددي لارو په جدارونوپه جوړښت کي هم تغير او بدلون رامنځته کيږي د بيلګي په ډول د Primary Bronchi په جدارونوکي دغضروفونو شکل د انګلسي د C توري پشان او په زيات تعدادسره وي او ملسا عضلاتو بنډلونه پکي نسبتاً کم تر سترګو کيږي خوکه چيرته د Lobar Bronchi دجدارونو جوړښت ته نظر واچوؤ نو غضروفونه به يي د پليټ پشان شکل ولري او دملسا عضلاتو مقدار پکي زيات او دمخاطي غشا او دغضروف ترمنځ ديوي طبقي په ډول ترسترګو کيږي. اوس نو چي هر څومره د Bronchi قطر کميږي په هماغه اندازه دغضروفونو مقدار کم او دملسا عضلاتو مقدار زياتيږي ان تردي چي په Terminal Bronchioles په جدار کي غضروف هيڅ نه تر سترګو کيږي اوپه جدار کي يي ملسا عضلاتو مقدار په زياته اندازه ترسترګو کيږي.

په Bronchi او Bronchioles کي دملسا عضلاتواسترخا اوتقلص په نتيجه کي د دويو په قطرکي تغير منځته راځي، دمثال په ډول د تمرين په وخت کي د زياتي هوا تيريدوته ضرورت وي نودا عضلات استرخا کوي او دتنفسي لاري قطر لوييږي، خو دساه بندي په حمله

(c) ketabton.com: The Digital Library

( Asthma attack) کي بیا د Terminal Bronchioles ملسا عضلات تقلص کوي چي دا ددغو Bronchioles د قطر دکمیدو سبب ګرځي او په نتیجه کي دهوا په مقابل کي مقاومت زیات او دهوا مقدار بیخي کمیږي او حتي د مرګ سبب هم ګرځي.

Bronchi د Pseudostratified Columnar Epithelium پواسطه، لوي Bronchioles د Ciliated Simple Columnar Epithelium پواسطه او Terminal Bronchioles د Ciliated Simple Cuboidal Epithelium پواسطه پوښل شوي دي، داچي هر سیلیا لرونکي اپیتلیوم تر 200 دانو پوري سیلیاوي لري او دا سیلیا په مسلسل ډول په هره ثانیه کي د 10-20 ځلو پوري دوامدار حرکت کوي نو ځکه د تنفسي سیستم څخه د ناخوښو موادو په لیرد کي د خاص اهمیت څخّ برخمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنفسي ساحه
# Respiratory Zone

د Trachiobronchial Tree دوهمه ساحه دتنفسي ساحي پنامه يادېږي کوم چي د Terminal Bronchioles څخه شروع او ترهوايي کڅوړو (Alveoli) پوري چي دهوا او ويني ترمنځ د غازونو تبادلي ځاي دي رسيږي، چي تر هوايي کڅوړو پوري په تنفسي ساحه کي او ځلي په څانګو ويشنه صورت نيسي، Terminal Bronchioles په څانګو ويشل کيږي او Respiratory Bronchioles جوړوي کوم چي په کمه اندازه د غازونو دتبادلي وړتيا لري او دا ځکه چي لدي سره د وصلو هوايي کڅوړو تعداد کم دي، لدي وروسته Respiratory Bronchioles په سنخي مجرا ( Alveolar Duct) باندي ويشل کيږي چي هره سنخي مجرا بيا د دوو يا دريو سنخي کڅوړو( Alveolar Sac) لرونکي ده چي بلاخره بيا هر Alveolar Sac د دوه يا زياتو هوايي کڅوړو (Alveoli) لرونکي دي.


هره هوايي کڅوړه د داسي نسج پواسطه احاطه شوي چي الاستيکي الياف لري کوم چي د ساه اخستني او يا دساه اويستلو په وخت کي هوايي کڅوړي ته ددي وړتيا ورکوي چي پراخه اويا تنګه شي.

سږي خپل ذات کي ډير الاستيکي خاصيت لري، هرکله چي دويو د هواڅخه ډکي شي نو پراخيږي او دهواد ويستلو وروسته بيرته خپل اصلي شکل ته راګرځي که چيرته سږي دهوا څخه ډکي هم نه وي بيا هم دومره هوا لري چي دويو ته اسنفجي خاصيت وروبښي.

Primary Bronchioles د ملسا عضلاتو دبنډلونو سره يو ځاي دکولاجن او الاستيک منضم نسجونو لرونکي هم دي. هغه اپيتليوم چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

Respiratory Bronchioles کي شتون لري د Simple Cuboidal Epithelium په شکل او هغه چي په هوايي مجراؤ ( Alveolar Duct) او هوايي کڅوړو ( Alveoli) کي شتون لري د Simple Squamous Epithelium په شکل سره دي.که څه په تنفسي ساحه کي سيليا نشته خو بيا هم ناخوښي مواد لکه څنګه مو چي مخکي واويل د Macrophages او لمفاوي چينلونو پواسطه د ساحي څخه ليري کيږي.(۸-۲ش)




(۸-۲ش)

په دواړه سږوکي تقريباً 300 ميلونو پوري هوايي کڅوړي شتون لري چي په اوسط ډول يي قطر تر 250µ پوري رسيږي. دهوايي کڅوړو جدارونه ډير نري دي چي له دوه ډوله حجرو څخه شوي دي، يو يي Type I Pneumocytes دي کوم چي د Squamous


(c) ketabton.com: The Digital Library

Epithelium حجرو په ډله کي راځي او دهوايي کڅوړو جدار تر 90% پوري دهمدي حجرو څخه جوړشويدي او بل ډول حجري يي د Type II Pneumocytes پنامه يادېږي کوم چي معکبي شکل لري او د Surfactant پنامه ماده افرازوي چي دا ماده د ساه اخستلو په وخت کي د هوايي کڅوړو پراخيدل اسانوي.

په هغه ځاي کي چي د هوا او ويني ترمنځ د غازونو تبادله صورت نيسي پدغه ځاي کي دسږو تنفسي غشا ( Respiratory Membrane) هم شتون لري چي دا غشا عمدتاً د هوايي کڅوړود جدارونو پواسطه جوړه شوي چي ريوي شعريه رګونه ( Pulmonary Capillaries) يی رانغاړلي دي. دا غشا ډيره نري ده چي د غازونو تبادلي کي مرسته کوي اولاندي جوړښتونو لرونکي ده.(۹-۲ش)

- ✓ د مايعاتو هغه نري طبقه چي هوايي کڅوړي يي پوښلي دي.
- ✓ Alveoli Epithelium چي د Simple Squamous Epithelium څخه جوړ شوي دي.
- ✓ د Alveolar Epithelium قاعدوي غشا.
- ✓ نري بين البيني خلا (Interstitial Space).
- ✓ Capillary Endothelium قاعدوي غشا.
- ✓ Capillary Endothelium چي د Simple Squamous Epithelium څخه جوړشوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۹-۲ش)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سږي
# Lungs

سږي چي دتنفس اساسي عضوي دي چي د حجم له نظره په بدن کي تر ټولو نور غړو لوي غړي شميرل کيږي. هره سږه مخروطي شکل لرونکي ده چي قاعده يي په حجاب عجز (Diaphragm) او څوکه يي د Clavicle هډوکي څخه تقريباً 2.5 cm پورته ده. چپه سږه چي 560 gr وزن لري دښي سږي په نسبت کوچني ده پداسي حال کي چي ښي سږه تر 620 gr پوري وزن لري.


Hilum دسږي انسي سطحه ده چي لدي سطحي څخه يوزيات شمير جوړښتونه لکه Primary Bronchi، دويني او لمفاوي رګونه او اعصاب سږو ته داخل او هم د سږو څخه خارجيږي. ټول جوړښتونه چي سږو ته د Hilum له لاري داخليږي مجموعاً دسږو دجذر (Lung's Root) پنامه ياديږي.

دښي خوا سږي د دريو او دچپ خوا سږي د دوو لوبونو( Lobes) باندي ويشل شوي چي دا لوبونه يو له بل څخه د سږي په سطحه د يو ژور او متبارز درز( Fissure) پواسطه بيل شوي دي ( ۲-۱۰ ش). او هر Lobe د Lobar Bronchioles پواسطه تقويه کيږي، هر Lobe په خپل وار په Bronchiopulmonary Segments باندي چي د Segmental Bronchioles لرونکي دي ويشل شوي دي، نو پدي حساب سره ښي سږي کي 10 عدده او په چپ سږي کي 9 عدده Bronchiopulmonary Segments شتون لري چي هر يو Bronchiopulmonary Segment بيا د منضم نسج پواسطه په څو

(c) ketabton.com: The Digital Library


برخو ويشل شوي دي. كه چيرته په انفرادي توګه كوم Bronchiopulmonary Segment د جراحي عمل په نتيجه كي ليري كړاي شي نو په پاتي سرږي به بيا هم سالمي وي دا ځكه چي هيڅ يو لوي رګ او Bronchi لدي منضم نسج څخه ندي تيري شوي.

Bronchiopulmonary Segments بيا په خپل وار د هغه جدار پواسطه چي په بشپړ ډول د منضم نسج جوړښت نلري په Lobules باندي ويشل كيږي چي هر Lobules د Bronchioles پواسطه تقويه كيږي.




ش۲-۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library




**ش۲-۱۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# صدري جدار او تنفسي عضلي
# Thoracic Wall and Muscles of Respiration

صدري جدار د صدري فقرو، پښتیو، Costal Cartilages، سټرنوم هډوکي او یو تعداد عضلو څخه تشکیل شوي دي او هغه جوف چې د صدري جدار او دیافراګم ترمنځ شتون لري دصدري جوف ( Pleural Cavity) پنامه یادیږي، چې دا جوف دبطن څخه د Diaphragm پواسطه بیل شوي دي. Diaphragm دنورو اسکلیتي عضلو سره یو ځاي دتنفس سرته رسولو مسولیت په غاړه لري (۱۱-۱ ش). هغه عضلي چې په ساه اخستلو( Inspiration) کي رول لري عبارت دي له Diaphragm, External Intercostal Muscles، Pectoralis Minor Muscles او Scalene Muscles څخه، چې لدي جملي څخه د ساه اخستلو په وخت کي دیافراګم د تقلص پواسطه دصدري جوف تقریباً $^{2}/_{3}$ برخه پراخیږي او د Ext. Intercostal، Pectoralis Minor او Scalene عضلو دتقلص په نتیجه کي پښتي اوچیږي او صدري جوف پراخوالي سبب ګرځي. د ساه اویستلو (Expiration) عضلي هغه دي کوم چې د Sternum او پښتیو د ښکته کیدو دنده لري لکه د بطني او Internal Intercostal عضلي. که څه هم Internal Intercostal عضلي د ساه اویستلو په وخت کي او Ext. Intercostal عضلي د ساه اخستلو په وخت کي ډیري فعاله وي خو بیا هم ددي عضلو اصلي دنده په دواړه حالاتو کي د صدري قفس ثبات ساتل او ددي قفس د Collapseڅخه مخنیوي کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Diaphragm چي د ګومبزي پشان شکل لري قاعده يي د Inner Circumference سره وصله ده او پورتني برخه يي د منضم نسج هموار شيټ لرونکي ده چي داشيټ د Central Tendon پنامه ياديږي، په نورمال اوعادي ساه اخستنه کي د Diaphragm په شکل کي ډير کم تغير تر سترګو کيږي پدي معني چي دبطني عضلو د استرخا په نتيجه کي دبطن غړي د Diaphragm څخه ليري ځي او دا ددي سبب ګرځي چي Central Tendon ښکته شي، خو که چيرته د ساه اخستلو شدت ډير زيات شي نو بيا د Central Tendon ډير زيات ښکته کيدل د بطني غړو پواسطه نهي کيږي. برعلاوه لدي چي ښکتني پښتيي د يو شمير نورو عضلاتو پواسطه هم پورته ځي د Diaphragm د مسلسل تقلص هم ددي سبب ګرځي چي Diaphragm هموار شکل اختيار او ښکتني پښتيي او چتي کړي. نو هرکله چي پښتيي اوچتي شوي نو د Costal Cartilage پواسطه د پښتيو وحشي حرکت هم صورت نيسي او په نتيجه کي صدري جوف جنبي پراخوالي هم پيداکوي ( ۱۱-۲ ش). پښتيي عموماً دفقرو څخه د سټرنوم هډوکي په لور په مايل ډول واقع دي نو کله چي پښتي اوچتي شي نو دصدري جوف قدامي خلفي حجم هم زياتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۱-۲ش

دنارمل تنفس په وخت کي د Diaphragm او External Intercostalعضلو د استرخا په صورت کي د صدري جوف حجم کميږي او دسږو او صدر دالاستيکي خاصيت له مخي په Passive ډول ساه اويستل ( Expiration) صورت نيسي. او برعلاوه لدي څخه د بطني عضلاتو د تقلص په نتيجه کي Diaphragm پورته او بطني غړي بيرته خپل اصلي ځاي ته راکش کول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو عادي او قوي ساه اخستلو په وخت كي كه چيرته مونږ د بطن او صدر جوفونو ته متوجي شو نو يو زيات شمير توپيرونه به په دواړو حالاتونو كي تر ستر ګو كړو او دهغه دا چي په قوي تنفس كي ټول ساه اخستونكي عضلي د نارمل تنفس په نسبت ډير او قوي تقلص كوي چي دا دصدري جوف د زيات پراخيدو سبب ګرځي(   ۱۲-۲ش). خو له بلي خوا په قوي ساه اويستنه كي بيا د ساه اويستلو عضلي په اعظمي ډول استرخا كوي او دصدري جوف حجم د امكان تر حده راكموي.




۱۲-۲ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلورا
# Pleura

که څه هم سږي په صدري جوف کي قرار لري خو که لږ څه ښه زير شوو نو جوته به شي چي هرسږي بيا په يو بل جوف کي چي Pleural Serous Membranes څخه جوړ او د Pleural Cavity پنامه ياديږی ځاي پر ځاي شوي دي ( ۱۳-۲ش). دMediastinum Midline هغه ساحه ده چي د زړه، شزن، مري او نورو پيوسته جوړښتونو پواسطه جوړ شوي دي اويا په بل عبارت هغه ساحه ده چي د سږو د انسي سطحو ترمنځ واقع ده، چي دغه Mediastinumپواسطه د هري سږي پلورال جوف يو له بل څخه بيل شوي دي. پلورال جوف د دوو غشاو پواسطه احاطه شوي دي چي يوه يي جداري پلورا (Parietal Pleura) پنامه او بل يي د حشوي پلورا ( Visceral Pleura) پنامه ياديږي. جداري پلورا کوم چي د صدري جدار داخلي سطحه ، دحجاب عجز علوي برخه او Mediastinum احاطه کوي د Hilum په برخه کي د حشوي پلورا سره چي د سږو سطحه يی احاطه کړي ده اړيکه لري.


دپلورا جوف د Pleural Fluid پنامه ديوي مايع پواسطه چي د حشوي پلورا څخه افرازيږي ډک شوي دي او دا مايع لاندي دري دندي ترسره کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓ دا مايع د ښويه کونکي مادي ( Lubricant) پشان عمل کوي يعني کله چي دسږو او صدري جوف شکل تغير کوي نو نه پريږدي چي جداري پلورا او حشوي پلورا يو له بل سره وموښل شي.

✓ دا مايع حشوي او جداري پلورا يو له بل سره ټينګي ساتي او نه پريږدي چي د صدري جوف او سږو د تغير شکل په وخت کي يو له بل څخه جدا شي.

✓ داچي دسږو د کولپس څخه بايد هم مخنيوي وشي نو ددي لپاره منفي فشار ته ضرورت ليدل کيږي چي دا منفي فشار ددي مايع پواسطه داسي ايجاديږي چي لدغه ساحي څخه لمفاوي سيستم ته مايعات کميږي، او دا کټ مټ هغه مکانيزم دي د کوم پواسطه چي د بدن په نورو برخوکي منفي فشار منځته راځي. ددي لپاره چي سږي بايد کولپس نشي نو 4 mmHg- فشار ته ضرورت دي خو له نيکه مرغه د پلورا داخلي فشار 7 mmHg- دي، چي دا ډير منفي فشار ددي باعث ګرځي چي نارمل سږي د پلورا خواته کش شوي شکل باندي پاتي شي.




ش۱۳-۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سږو اروا
# Lung’s Blood Supply

سږو ته دوه ډوله وينه ورځي يو هغه وينه ده چي Deoxygenated Blood يي بولی چي د ښي بطين څخه په Pulmonary Artery کي ورځي او په سږو کي په Oxygenated Blood باندي بدليږي او بيرته د Pulmonary Vein له لاري چپ ازين ته راګرځي، چي دا ډول دويني جريان د سږو دنده بلل کيږي او بل هغه ډول وينه سږو ته ورځي چي ددي دندي د سر ته رسولو لپاره يي استعمالوي چي دا بيا Oxygenated وينه ده او په سږو کي په Deoxygenated ويني باندي بدليږي، دا وينه د Bronchial Vein او Azygos Vein له لاري بيرته زړه ته رادرمي.

1) <u>*دريوي رګونو خصوصيات:*</u> دريوي رګونه لاندي ځانګړني لري:

a. ريوي شريان د Systemic Aorta په نسبت نري جدار لري.
b. ريوي رګونه ډير الاستيکي خاصيت لري.
c. په ريوي رګونو کي ملسا عضلاتو کم انکشاف کړي دي.
d. په Arterioles کي ملسا عضلي الياف کم ترسترګو کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

e. ريوي شعريه رګونه ( Pulmonary Capillaries) د Systemic Capillaries په نسبت لوي دي.

2) *دريوي ويني جريان اوفشار اندازه:* سږو ته چي په يوه دقيقه کي کوم مقدار وينه ځي په همدغه وخت کي د قلبي دهاني ( Cardiac Output) سره مساوي ده.خو هغه فشار چي په ريوي رګونو کي منځته راځي د Systemic رګونو په نسبت ډير ټيټ دي چي په لاندي ډول تري يادونه کوؤ:

| شماره | دفشار نوعيت | Systemic Vessels | Pulmonary Vessels |
|---|---|---|---|
| 1 | Systolic Pressure | 120 mmHg | 25 mmHg |
| 2 | Diastolic Pressure | 80 mmHg | 10 mmHg |
| 3 | Main Arterial Pressure | 100 mmHg | 15 mmHg |
| 4 | Capillary Pressure | 17 mmHg | 7 mmHg |

3) *دريوي ويني جريان کنترول:* سږو ته د ويني جريان کنترول د لاندي فکتورونو پوري اړه لري.

a. *قلبي دهانه ( Cardiac Output):* ريوي ويني جريان دقلبي دهاني سره مستقماً متناسب دي، نو هرهغه فکتور چي قلبي دهانه متاثره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي د ريوي ويني جريان هم متاثره کولاي شي چي دافکتورونه عبارت دي له:

i. وريدي بازگشت (Venous Return).
ii. تقلص قوه (Contraction Force).
iii. دتقلص شمير( Contraction Rate).
iv. محيطي مقاومت (Peripheral Resistance).

b. *وعايوي مقاومت ( Vascular Resistance):* ريوي ويني جريان د وعايوي مقاومت سره معکوساً متناسب دي يعني هرڅومره چي وعايوي مقاومت ډير وي په هماغه اندازه به ريوي ويني جريان کموي او برعکس که وعاويوي مقاومت کم وي نو ريوي ويني جريان به زيات وي.

c. *عصبي فکتورونه (Nervous Factors):* په تجربوي ډول سره دا په ډاګه شوي ده چي د سمپاتيک اعصابو دتنبي په وجه Vasoconstriction صورت نيسي او سږوته د ويني جريان کميږي، خو د پاراسمپاتيک اعصابو د تنبي په وجه بيا Vasodilatation صورت نيسي او دويني جريان سږو ته ډيريږي، خو په نارمل او فزيولوژيکو حا لاتو کي بيا تر اوسه دانده جوته شوي چي ايا خودکاره عصبي سيستم ( Autonomic Nervous System) د سږو د ويني په جريان کومه اغيزه لري او که نه.

*d. کيمياوي فکتورونه ( Chemical Factors):* برخلاف د بدن د نورو برخو په سږو کي د کاربن داي اوکسايد د ډيربښت او يا د اکسيجن دکمبښت له وجي دلته Vasoconstriction صورت نيسي او داچي ولي علت يي لا تر اوسه پوري يي مکانيزم ندي څرګند.

(c) ketabton.com: The Digital Library


e. *هایدروستاتیک فشار ( Hydrostatic Pressure):* په نارمل حالاتو کي کله چي انسان ولاړ وي نو د جاذبي د کشش په د بدن په علوي برخوکي دسفلي برخو په نسبت فشار کم وي، چي همدا قانون په سږو کي هم تطبیق کیږي یعني دسږو په پورتني برخه کي فشار کم او په ښکتني برخه کي فشار زیات دي. دفشارد تفاوت په اساس سږي په دریو برخو ویشل کیږي(۱۴-۲ش).

i. <u>پورتني برخه ( Apical Part یا Zone 1):</u> دسږو پدغه برخه کي د کپیلرو په داخل کي کوم فشار شتون لري دا فشار هیڅکله دهغه فشار څخه چي په اسناخو په داخل کي د هوا دشتون له امله پیداکیږي نشي لوړیدلي نو ځکه پدغه ساحه کي دویني جریان د Cardiac Cycle په هیڅ یوي مرحلي کي هم شتون نلري.

ii. <u>منځني برخه (Zone II):</u> پدغه برخه کي د Cardiac Cycle په Systole صفحه کي د Alveoli فشار نسبت ریوي فشار ته کم او د Cardiac Cycle په Diastole صفحه کي د Alveoli فشار نسبت ریوي فشارته زیات وي، نو ځکه پدغه ساحه کي د Cardiac Cycle د Systole په صفحه کي دویني جریان موجود او په Diastole صفحه کي دویني جریان موجود نه وي.

iii. <u>ښکتني برخه( Zone III):</u> پدغه ساحه کي ریوي شریاني فشار د Alveolar Pressure په نسبت د Cardiac Cycle په دواړو مرحلو کي زیات وي نوځکه دلته دویني یو دوامداره جریان شتون لري.خو دیادوني وړ ده چي ستون ستاخ خملاستي حالت کي ټول سږي Zone III دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۱۴-۲ش).

## لمفاوي تقویه

## Lymphatic Supply

سږو ته دوه ډوله لمفاوي رګونه تللي دي چي یو یي سطحي لمفاوي رګونه (Superficial Lymphatic Vessels ) دي کوم تر حشوي پلورا پوري رسيږي او دسږو سطحي نسج او حشوي پلورا څخه لمفاوي مایع راوړي، او بل ډول يي رانتقالوي، چي دا دواړه ډوله لمفاوي رګونه د Hilum له لاري د سږو څخه خارجيږي.

Phagocytic حجري د کاربن ذري او نور ناغوښتي مواد د تنفس شوي هوا څخه راټولوي او لمفاوي رګونو ته یي انتقالوي.خو بلي خوا له بده مرغه همدا لمفاوي رګونه دي چي له سږو څخه سرطاني حجري د بدن نورو برخو ته انتقالوي. په زړو خلکو او خاصتاً په هغو کسانو کي چي سګريټ څکوي او يا په ګرد او غبار کي ژوند تير کړاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي نو د کاربن د ذراتو د تچمع په اثر يي د سږو رنګ د خاکستري څخه تر تور رنګ پوري تغير کوي.

# دټوخي او پرنجي عکسي
# Cough and Sneeze Reflexes

د ټوخي او پرنجي عکسي هغه وخت توليديږي کله چي د تنفسي لاري په اوږدو کي بيګانه او مخريش مواد لکه سلفرداي اوکسايد او د کلورين غاز پيدا شي. Bronchiاو شزن ( Trachea) ددغه دواړو موادو لپاره خاصي اخذي لري او کله چي دا مواد د خپلو اخذو سره وصل شي نو د Vagus اعصاب پواسطه Medulla Oblongata ته اکشن پوتنشيل انتقاليږي او دلته بيا د ټوخي عکسه په ماشه ((Triggered کيږي.

لمړي تقريباً 2.5 ليتره هوا اخستل کيږي او بيا Vestibular Folds او Vocal Folds په کلک ډول سره بنديږي او هوا په سږو کي بنه تخته کيږي، د بلي خوا بطني عضلي تقلص ددي سبب ګرځي چي Diaphragm پورته شي او پدي وخت کي ساه اويستونکي (Expiration) عضلي هم تقلص کوي او په سږو کي فشار تر 100 mmHg پوري او يا لدي څخه هم پورته ځي. بيا يوناڅاپه Vocal Folds او Vestibular Folds خلاصيږي، Soft Plate پورته ځي او هوا دسږو څخه په زيات سرعت ( $75\text{-}100\ ^{mile}/_{hour}$) سره د خولي له لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرته وځي اوپدي طریقه د بیګانه او مخریشو موادو د اویستلو سبب ګرځي.

دپرنجي عکسه هم دټوخي دعکسي پشان تولیدیږي خو یوڅه فرق لري چي په لاندي ډول تري یادونه کوؤ:

دپرنجي په عکسه کي د تخرش مرکز به دپوزي په اوږدو کي وي، نه په شزن اویا Bronchi کي او همدارنګه Medulla Oblongata د Trigeminal اعصابو پواسطه تنبي کیږي او هم Soft plate پدغه عکسه کي راښکته کیږي او هوا دپوزي له لاري بهر ته اوځي او بیګانه مواد تنفسي لاري څخه لیري کیږي.

## تـهویـه

## Ventilation

مونږ دوه ډول تهویه لرو یویي Pulmonary Ventilation او بل یي Alveolar Ventilationڅخه عبارت دي.

Pulmonary Ventilation دا یوه دوري پدیده ده چي په نتیجه کي یي تازه هوا سږو ته داخل او په مقابل کي په عین مقدار سره هوا د سږو څخه بهر ته اوځي، چیرته دغه مقدار د هوا په مونږ په یوه دقیقه کي محاسبه کړو نو دیته Respiratory Minute Volume (RMV) وایي چي نارمل اندازه یي 6000 ml ده، چي دا په لاندي ډول محاسبه کوؤ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Pulmonary Ventilation = Tidal Volume X Respiratory rate**

Pulmonary Ventilation= 500 ml X 12/minute

Pulmonary Ventilation=6000 ml/min

Alveolar Ventilation عبارت دهغه مقدار هوا څخه دي کوم چي په يوه دقيقه کي د غازونو دتبادلي لپاره په مصرف رسيږي. لکه څنګه چي پوهيږو چه ټوله تنفس شوي هوا د غازونو دتبادلي لپاره نه استعماليږي بلکي يو اندازه هوا په مړه مسافه ( Dead Space) کي پاتي کيږي، نو پدي اساس ددي تهويي اندازه او مقدار د Pulmonary Ventilation په نسبت کمه ده چي په لاندي ډول محاسبه کيږي:

Alveolar Ventilation = (Tidal Volume – Dead Space Volume ) X Respiratory Rate

Alveolar Ventilation = (500 ml – 150 ml ) X 12 ml/min

Alveolar Ventilation = 350 ml X 12 ml/min

Alveolar Ventilation = 42oo ml/min

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتهويي دتوضيح لپاره ضروري ده چي په لاندي موضوعاتو رڼا واچوؤ:

1) <u>*دفشارتفاوت اود هوا جريان ( Pressure Difference and Airflow):*</u>

ددي لپاره چي دهوايي كڅورو او بهراتموسفير ترمنځ دهوا تبادله صورت ونيسي نوبايد د دويو ترمنځ د فشار تفاوت موجود وي چي په تنفسي تيوب كي دهوا په انتقال باندي عيناً هغه قوانين د تطبيق وړدي كوم چي په رګونو كي دويني په جريان تطبيق كيږي.

$$F = \frac{P1 - P2}{R}$$

پداسي حال كي چي F په تيوب كي د هوا جريان ( $^{Millimeter}/_{minute}$ )، P1 په اوله نقطه كي دفشار اندازه ، P2 په دوهمه نقطه كي د فشار اندازه ښيي او R دهوا جريان په مقابل كي دمقاومت څخه عبارت دي.
اوس كه چيرته په اولي نقطي كي فشار لوړ وي نو د هوا انتقال به د اولي نقطي څخه د دوهمي نقطي په لور او كه په دوهمه نقطه كي فشار لوړ وي نو د هوا انتقال به د دوهمي نقطي څخه د اولي نقطي په لور صورت ونيسي. عيناً قاعده په تنفس د عمل په وخت كي د تطبيق وړ ده، چي دساه اخستلو په وخت كي فشار د هوايي كڅوړو په نسبت بهراتموسفير كي فشار لوړ وي نو هوا هوايي كڅوړو ته داخليږي او د ساه اويستلو په وخت كي بيا فشار په هوايي كڅوړو كي د بهراتموسفيرپه نسبت لوړ وي نو هوا د هوايي كڅوړو څخه بهرته اوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2) *فشار او حجم (Pressure and Volume):*

د صدري جوف او هوايي کڅوړو دواړو باندي د غازونو عمومي قانون دتطبيق وړ دي.

P يي فشار، n يي دغازد مولونوشمير، R دغازونو ثابت ( 0.08203 $^{at.lit}/_{mole\ .\ K}$)، T يي د حرارت درجه او V يي حجم راښيي. چي لدي جملي څخه په انسانانو کي T او n يي ثابت دي نو هرکله چي دا دواړه ثابت شول نو دا جوتيږي چي فشار د حجم سره معکوساً متناسب دي.

3) *د هوايي کڅورو څخه دهوا خارجيدل اوداخليدل ( Airflow into and out of Alveoli):*

دتنفسي سيستم د فزيولوژي پوهانو له خوا دري قراردادونه ددغه سيستم د فشار د عددي ښودني لپاره قبول کړل شوي دي. اول يي Barometric فشار ($P_{(B)}$) دي چي د بدن په سطحه د اتموسفير فشار دي او په هر ځاي کي صفر قبول شوي دي. دوهم يي هغه کوچني فشار دي چي په Cm HOH سره اندازه کيږي (1 Cm HOH = 0.74 mm Hg). او دريم يي هغه فشار دي چي هوايي کڅوړو ترمنځ شتون لري او Alveolar Pressure ( $P_{alv}$) پنامه ياديږي، چي ددي فشار 1 Cm HOH يي د Barometric فشار څخه د 1 Cm HOH په اندازه زيات او -1 Cm HOH يي د Barometric فشار څخه د 1 Cm HOH په اندازه کم دي.

د Alveolar فشار او Barometric فشار دتفاوت په اساس هوا سږو او هوايي کڅوړو ته داخل او خارجيږي چي د تفس په وخت کي ددي دواړو فشارونو ترمنځ لاندي څلور حالتونه شوني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

a. دساه اویستلو په اخري وخت کي دا دواړه فشارونه سره مساوي وي نو ځکه د هوا تبادله صورت نه نیسي.

b. دساه اخستلو په وخت کي Barometric فشار د Alveolar فشار په نسبت لوړیږي نوځکه هوا دسږو او هوایي کڅوړو ته ورننوځي.

c. دساه اخستلوپه اخري وخت کي بیا دا داوړه فشارونه سره مساوي کیږي او د هوا تبادله بیا صورت نه نیسي.

d. د ساه اویستلوپه وخت کي Barometric فشار د Alveolar فشار په نسبت کمیږي چي داددي سبب ګرځي چي هوا له هوایي کڅوړو څخه بهرته اووځي.

4. *دهوایي کڅوړو د حجم تغیر:*

لکه څنګه مو چي مخکي یادونه وکړه چي سږو او هوایي کڅوړو ته د هوا داخلیدلو او خارجیدلو کي Alveolar فشار خاص اهمیت لري او فشار د هوایي کڅوړو د حجم تغیر پواسطه تغیر کوي نو لازمه ده چي د هوایي کڅوړو د حجم د تغیر لاملونه مفصلاً وڅیړو:

a. *دسږو د Recoil کیدل:*

دسږو Recoil کیدل ددي باعث ګرځي چي هوایي کڅوړي کولپس شي چي دا کولپس کیدل په دوو لاملونو سره منځته راځي.

i. دسږو الاستیکي خاصیت: داچي په سږو کي الاستیکي الیاف شتون لري او دا الیاف دسږو د کولپس کیدو ته زمینه مساعدوي.

ii. سطحي کشش: داچي د هوایي کڅوړو اندازه کوچني ده او د اندازي کموالي ددي د کولپس کیدولو لپاره زمینه برابروي او هاغه داسي چي د هوایي کڅوړو سطحه دیوي مایع پواسطه پوښل شوي ده او ددي مایع دمالیکولونو د کشش قوه نسبت دکوچنیو هوایي کڅوړو د توسع کیدو قوي ته ډیره ده نو ځکه دکولپس کیدوته خاص میلان لري. خو ددي لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ددي كولپس كيدو څخه مخنيوي وشي نو دلته دوه فكتورون شتو لري چي يو يي Surfactant اوبل يي Interpleural Pressure.

1) Surfactant:

Surfactant هغه مواد دي چي د يوي مايع سطحي كشش كموي. هغه Surfactant چي په سږو كي د هوايي كڅورو اپيتليوم پوښوي د Pulmonary Surfactant پنامه يادیږي چي دا Surfactant د Alveolar Membrane د سطحي كشش كموالي سبب ګرځي.

Surfactant د دوه ډوله حجرو پواسطه توليديږي لمړي ډول يي د سږو Type II Alveolar Epi. حجري دي كوم چي د Surfactant Secreting Alveolar Cell يا Pneumocytes پنامه يادیږي، چي د خپلي Alveolar سطحي باندي Microvillis د لرلو له مخي پيژندل كيږي او بل ډول يي د Bronchi د Clara پنامه حجري دي چي د Bronchiolar Exocrine حجرو پنامه هم يادیږي.

كه چيرته Surfactant دكيميا له نظره وڅيړو نو جوته به شي چي د فاسفوليپيډونو، پروتينونو او ايونونو څخه جوړ شوي دي. فاسفوليپيډونه د سرفكتانټ 75% جوړوي چي مهم فاسفو ليپډ يي DPPC (Di Palmitoyl Phosphatidyl Choline ) پنامه يادیږي اونور شحميات يي د تراي ګلسرايد او Phospatidylglycerol څخه عبارت دي. هغه پروتينونه چي په Surfactant كي شتون لري په څلور ډوله دي چي دوه يي Hydrophilic او دوه يي Hydrophobic دي، او همدا پروتينونه دي چي د Surfactant د ژونديو موادو له جملي څخه ګڼل كيږي. او هغه ايون چي په Surfactant كي شتون لري د كلسيم څخه عبارت دي.

دSurfactant خام شكل د Tubular Myelin پنامه يادیږي، چي د Tubular Myelin د جوړيدو وروسته د Exocytosis عمل پواسطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

Alveolar Lumen ته انتقاليږي او دلته په Monomolecular طبقي باندي چي د Surfactant فعال شکل دي بدليږي.

Surfactant لاندي دندي تر سره کوي.

- Surfactant دهوايي کڅوړو سطحي کشش کموي، چي دا عمل په لاندي مکانيزم سره ترسره کوي.

د Surfactant فاسفولیپډ دوه برخي لري يو يي Hydrophilic برخه ده چي په اوبو کي انتشار کوي او Alveoli پوښوي او بله برخه يي Hydrophobic برخه ده چي د Alveolar هوا ته خواته درومي، نوپدي اساس فاسفولیپډ د نورو برخو سره يوځاي کيږي دهوايي کڅوړو په سطحه خپريږي او دسطحي کشش د کموالي سبب ګرځي.

- Surfactant د هوايي کڅوړو د ثبات سبب ګرځي او دهوايي کڅوړو د کولپس کيدو مخه نيسي.

- Surfactant چي درشيمي ژوند دريمي مياشتني وخت څخه وروسته جوړيدنه پيل کيږي او په اومه مياشت کي دا جوړويدنه چټکتيا پيدا کوي، نو کله چي ماشوم پيداشي نو دتنفسي مرکزونه د Hypoxia د تنبي په اثر په لمړي تنفس شروع کوي او پدغه وخت کي چي سږي هم کولپس کيدو ته د خپل ذاتي خاصيت له مخي ميلان لري، نو همدا Surfactant دي چي دسږو کولپس کيدنه نهي کوي.په هغه Premature ماشومانو کي چي د اوه ماشتني څخه مخکي زيږيږي د Respiratory Distress يا Hyaline Membrane Disease Syndrome تر سترګو کيږي او داځکه چي لاتردي وخته پوري په کافي اندازه Surfactant نه وي توليد شوي ترڅو د سږو دکولپس څخه په تمامه معني مخنيوي وکړي، نوپدي ترتيب ريوي تهويه يي کمه او بلاخره د ماشومانو دمړيني سبب ګرځي. نوددي کار دمخنيوي لپاره بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورته Cortisole توصیه شي دا ځکه چي دا د Surfactant جوړېدنه تنبي کوي.

- داچي Surfactant د SPA او SPD پروټينولرونکي دي نو ددي پروټينو پواسطه د بکترياؤ او وايروسونو د Opsonization په طريقه له منځه وړي او د سږو په دفاع کي رول لري.

2) پلورال فشار Pleural Pressure:

دوهم هغه فکتور چي د سږو او هوايي کڅوړو د حجم تغير سبب ګرځي د Pleural Pressure څخه عبارت دي، هغه فشار چي د پلورال جوف کي شتون لري يا هغه فشار چي د جداري او حشوي پلوراؤ ترمنځ شتون لري د Pleural Pressure پنامه ياديږي. نو کله چي دا فشار د Alveolar فشار څخه کم شي نو Alveoli پراخيږي او کله چي د Alveolar فشار څخه زيات شي نو هوايي کڅوړي راټوليږي، داچي په عادي حالت کي دا فشار د Alveolar فشار څخه کم دي نو ځکه دسږو د کولپس د مخنيوي عامل ګڼل کيږي او بله داچي داد وريدي بازګشت لپاره يو تنفسي پمپ دنده هم ترسره کوي او دهغه داسي چي د جاذبي دقوي برخلاف دلته فشار منفي دي او دا منفي والي ددي باعث ګرځي چي دبدن د سفلي برخو څخه وريدي ويني بازګشت د بدن علوي برخو ته صورت ونيسي. دا فشار په نارمل ساه اخستنه کي 6 mm Hg- او ساه اويستنه کي 2 mm Hg- دي.

ديادوني وړ ده چي Pleural فشار په valsalva مانوري اويا په پتالوژيکو حالاتو لکه Pneumothorax، Hydrothorax، Hemothorax او Pyothorax کي مثبت کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Pneumothorax هغه پتالوژیک حالت دي چي پدي کي د پلورال جوف کي هوا راټول شوي وي چي دا مختلف عاملونه لري لکه ضربه، چاړه سره وهل، دپښتي ماتيدل او نور........


د ساه اخستني (Inspiration) اود ساه اويستني (Expiration) په وخت کي Alveolar او Pleural فشارونه په لاندي ډول سره تغير کوي:

په نارمل ډول د ساه اويستني په اخري وخت کي پلورال فشار -5 Cm HOH وي او Alveolar فشار د Barometric فشار سره مساوي وي، يعني 0 Cm HOH وي. خو په نارمل ساه اخستني په وخت کي پلورال فشار -8 Cm HOH ته ښکته کيږي او ددي سبب ګرځي چي هوايي کڅوړي توسع کړي او حجم يي زيات شي چي د حجم دزياتيدو له وجي يي فشار د Barometric فشار څخه کميږي او هوا سږو ته داخليږي، چي د هوا په داخليدو سره بيرته د ساه اخستني په اخري وخت کي Alveolar فشار د Barometric فشار سره مساوي کيږي.

داچي ولي د ساه اخستني په وخت کي Pleural فشار کميږي ددي دوه علتونه دي، يو داچي د غازونو دعمومي قانون له مخي د صدري جوف د حجم پراخوالي ددي سبب ګرځي چي pleural فشار ټيټ شي او دوهم دا چي دسږو د توسع له وجي د سږود Recoil کيدو ميلان زياتيږي او د Suction عمل د زيات اثر پواسطه هم پلورال فشار کميږي.

دساه اويستني په وخت کي پلورال فشار زياتيږي دا ځکه چي د يوي خوا د صدري جوف حجم کميږي اودبلي خوا د سږو د Recoil کيدو ميلان هم مخ ښکته راځي. هر کله چي پلورال فشار لوړ شي د هوايي کڅورو حجم کميږي او Alveolar فشارنسبت Barometric فشار ته لوړيږي او هوا سږو څخه بهر ته وځي چي د هوا د وتللو وروسته بيرته Alveolar فشار د Barometric فشار سره مساوي کيږي (۱۵-۲ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library




(ش۲-۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسږو د دندو اندازه کول

# Measuring of Lung Functions

ددي لپاره چي پوه شوو چي تنفسي سيستم خپل نارمل فعاليت تر سره کوي او که نه، نو بايد دتنفسي سيستم دندو په اندازه کولو لاس پوري کړو ترڅو ددي په مرسته وشو کړاي چی د تنفسي سيستم د فزيولوژيک او پتالوژيک حالت په اړه راپور ورکړو.

## دسږو او صدر ظرفيت

## Compliance of the Lungs and Thorax

ديوواحد Alveolar فشار د تغير پواسطه چي کوم بدلون د صدر او سږو په حجم کي راځي د سږو او صدر دظرفيت پنامه ياديږي او په لنډ ډول وايو چي دسږو او صدر د پراخيدو وړتيا ته د سږو او صدر ظرفيت وايي، چي په $^{liter}/_{Cm\ HOH}$ سره اندازه کيږي.

دسږو او صدر زيات پراخيدل د دويو د ظرفيت دلوړيدلو سبب ګرځي د بيلګي په ډول په Emphysema کي دسږو الاستيکي اليافو تخريب ددي سبب ګرځي چي دسږو د Recoil کيدو ميلان کم کړي چي دا د Recoil کيدو ميلان کموالي د سږو د ډير پراخيدو سبب ګرځي او بلاخره دسږو ظرفيت هم دنارمل اندازي په نسبت زياتيږي، د بلي خوا که چيرته د سږو او صدر د پراخيدو په مخ کي کوم خنډ شتون ولري لکه په Pulmonary Fibrosis، دهوايي کڅوړو کولپس کيدل، Pul. Edema، Asthma، Bronchitis او نورو کي نو داد سږو د ظرفيت د کموالي سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ريوي حجمونه او ظرفيتونه

# Pulmonary Volumes & Capacities

هغه پروسه چي دهغي پواسطه تنفسي سيستم ته داخليدونکی او لدي سيستم څخه خارجيدونکي هوا اندازه کيږي د Spirometry پنامه ياديږي او Spirometer بيا هغه اله ده چي ددغي هوا اندازه معلوموي. دا چي ددي هوا اندازه کول څومره د اهميت وړدي پدي باندي به هله پوه شوو چي مونږ دتنفسي سيستم د پتالوژي په باره کي پوره معلومات ولرو.

عموماً د سږو هوا په دوه ډوله ويشل کيږي.

1) سږو د هوا حجمونه ( Lungs Air Volumes)

2) سږو د هوا ظرفيتونه (Lungs Air Capacities )

## *1) دسږو د هوا حجمونه (Lungs Air Volumes)*

دسږو هوا حجم عبارت دهغه حجم څخه دي چي يو شخص يي په نارمل ډول دساه اخستلو په وخت کي تنفسي کوي چي دا حجمونه متغير (Dynamic ) دي.

a. *Tidal Volume (TV):* دا د هوا هغه مقدار حجم څخه عبارت دي چي يو نارمل انساني يي د نارمل تنفس په وخت کي اخلي او يا خارجوي يي چي نارمل اندازه يي 500 ml ده. او ددي حجم د مقدارله مخي مونږ د تنفس شدت معلوموالي شو(۲-۱۶ش).

b. *Inspiratory Reverse Volume (IRV):* دا هغه مقدار هوا ده چي يو شخص يي دنارمل Tidal Volume وروسته په جبري ډول اخلي چي نارمل اندازه يي 3000 ml ده(۲-۱۶ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library

c. *Expiratory Reverse Volume (ERV):* داهغه مقدار هوا ده چي يو شخص يي د نارمل Tidal Volume هوا ځخه وروسته په جبري توګه اوباسي چي نارمل اندازه يي 1100 ml ده(۲-۱۶ش).

d. *Residual Volume (RV):* په نارمل حالت كي سږي په مكمل ډول سره د هوا ځخه نشي تشيدلي بلكي د جبري ساه اويستني سره سره بيا هم يو مقدار هوا د سږو په داخل كي پاتي كيږي چي دغه مقدار هوا ته Residual Volume وايي چي نارمل اندازه يي 1200 ml ده. ددي حجم هوا شتون دوه اهميته لري يو داچي سږو شكل په ساتنه كي مرسته كوي او دكولپس كيدو ځخه يي مخه نيسي او بل داچي د ساه اويستني په وخت كي د ويني سره د غازاتو تبادله صورت نيسي(۲-۱۶ش).

## 2) <u>دسږو ظرفيتونه *(Lungs' Air Capacities):*</u>

كه چيرته د سږو دوه يا ځو حجمونه سره جمع كړو نو ديته د سږو ظرفيت وايي، چي په لاندي ډول سره دي.

a. *Inspiratory Capacity (IC):* كه د يو عادي ساه اويستني ځخه وروسته، يوي ساه اخستني (Inspiration) د پيل ځخه په جبري ډول شروع او تر اعظمي حده پوري ادامه پيداكړي نو دغه ټول مقدار هوا ته Inspiratory Capacities وايي(۲-۱۶ش). په حقيقت كي دغه هوا د Tidal Volume او IRV مجموعه ده چي په لاندي ډول يي محاسبه كوؤ

Inspiratory Capacity=TV + IRV

Inspiratory Capacity=500 ml + 3300 ml =**3800 ml**

(c) ketabton.com: The Digital Library

b. *Vital Capacity (VC):* دیو ژور ساه اخستني وروسته په جبري ډول چي کوم مقدار هوا خارجيږي دیته Vital Capacity وايي اويا په بل عبارت د سږو هغه مجموعي ظرفيت دي چه د Tidal, Reverse Inspiratory او Reverse Expiratory حجمونو د مجموعي څخه لاسته راځي. چي نارمل اندازه يي 4800 ml ده (۱۶-۲ش).

دیادوني وړده چي پورته ذکر شوی اندازه د منځکوره ځوان لپاره ده او دا اندازه نظر عمر، جنس، فزيکي جسامت، قد او نورو فزيکي حالاتو ته فرق کوي دمثال په ډول په ځوانو ښځو کي VC د 20-25% پوري کموالي پيداکوي، په لويانو کي د کوچنيو په نسبت، په ډنګرو خلکو کي د عادي خلکو په نسبت Vital Capacity زياته وي او همدارنګه هغه ناروغان چي په Muscular Dystrophy او Poliomyelitis اخته وي د Vital Capacity کچه يي تردي اندازي څخه هم ښکته کيږي چي د دويو ژوند د ګواښ سره مخامخ کوي.

Vital Capacity = IRV + TV + ERV

Vital Capacity= 3300 ml + 500 ml + 1000 ml = **4800 ml**

c. *Functional Residual Capacity (FRC):* د سږو هغه ظرفيت دي چي د يو نارمل Tidal حجم هوا اويستلو وروسته يي لري او يا په لنډ داسي وايو چي د سږو هغه ظرفيت چي مجموعاً يي د Residual Volume او Expiratory Reverse Volume لپاره لري د FRC پنامه ياديږي چي نارمل اندازه يي 2200 ml ده (۱۶-۲ش).

FRC = ERV + RV


FRC = 1000 ml + 1200 ml = **22oo ml**

(c) ketabton.com: The Digital Library

d. *Total Lung Capacity (TLC):* د سږو هغه ظرفيت دی چي د تولي هوا لپاره چي په اعظيمي ډول يي اخلي او اوباسي لري. چي نارمل اندازه يي 6 liters ده(۱۶-۲ش).

TLC = IRV + TV + ERV + RV

TLC = 3300 ml + 500 ml + 1000 ml + 1200 ml = **6000 ml = 6 lit**




۱۶-۲ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يادوني وړ ده چي يو تعداد نور ظرفيتونه او حجمونه هم شتون لري کوم چي د کلنيکي څيړونو په منظور ورڅخه استفاده کيږي چي په لاندي ډول ورڅخه يادونه کوؤ:

1. *Respiratory Minute ( Minute Ventilation) Volume (RMV):* هغه اندازه هوا ده چي په يو دقيقه کي اخستل کيږي او خارجيږي، چي د تنفسي Rate او Tidal Volume د حاصل ضرب څخه يي اندازه په لاس راځي. د RMV نارمله اندازه 6 lit ده چي د تمرين او احساساتي کارونو د ترسره کولو په وخت کي ډيريږي خو د پتالوژيکو حالاتو کي بيا کميږي.

2. *Maximum Breathing Capacity (MBC):* که چيرته يو شخص په يوه دقيقه کي په جبري ډول تنفس وکړي نوهغه ټوله هوا چي تنفس شوي ده د MBC پنامه ياديږي چي نارمل اندازه يي په نارمل ځوانانو کي $150\text{-}170\ ^{lit}/_{min}$ پوري او په نارملو ښځو کي $80\text{-}100\ ^{lit}/_{min}$ پوري ده. د يادوني وړده چي دغه مقدار هوا ته Maximum Ventilation Volume (MVV) هم وايي.

3. *Peak Expiratory Flow Rate (PEFR):* هغه اعظيمي Rate چي يو شخص د ژور ساه اخستني وروسته په جبري توګه هوا خارجوي د PEFR پنامه ياديږي چي نارمل اندازه يي $400\ ^{lit}/_{min}$ ده اود Wright’s Flow Meter پواسطه اندازه کيږي. په عمومي توګه په ټولو تنفسي امراضو کي کميږي،خوبيا همم ددغه مقدار هوا په واسطه د تنفسي سيستم Obstructive ( بندښت) او Restrictive (تنګ شوي) مرضونو ترمنځ فرق کيږي، داسي چي په Obstructive مرضونو کي د PEFR اندازه $100\ ^{lit}/_{min}$ او په Restrictive مرضونو کي $200\ ^{lit}/_{min}$ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.4 *Forced Expiratory Volume (FEV):* هغه مقدار هوا ده کوم چي په يو ورکړل شوي واحد د وخت کي په جبري توګه د سږو څخه اويستل کيږي، چي ديته Timed Vital Capacity او يا Forced Expiratory Vital Capacity هم وايي.

$FEV_1$ = Forced Expiatory Volume in one Second.

$FEV_2$ = Forced Expiatory Volume in Two Seconds.

$FEV_3$ = Forced Expiatory Volume in three Seconds.

چي نارمل اندازه يي په لاندي ډول سره دي:

$FEV_1$ = 83% of total vital capacity.

$FEV_2$ = 94% of total vital capacity.

$FEV_3$ = 97% of total vital capacity.

خو د دريمي ثانيي وروسته هوا 100% د Vital Capacity هوا وي.

تردي دمه مو هغه کميتونه ولوستل د کومو د اندازي پواسطه چي مونږ پدي پوهيږو چي سږي په کوم حالت کي ( فزيولوژيک او که پتالوژيک) قرار لري. اوس ديته راځو چي دغه کميتونه څنګه محاسبه کيږي يعني يوڅه په Spirometry هم رڼا اچوؤ:

هغه اله چي د Spirometry په عمليه کي په کار وړل کيږي د Spirometer پنامه ياديږي، چي ترددي دمه دري ډوله Spirometers اختراع او استعمال شوي دي.


1) Simple Spirometer
2) Respirometer
3) Computerized Spirometer

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچي هر Spirometer څه رنګه جوړښت لري او څنګه خپل کار ترسره کوي ددي موضوع د څیړو څخه تیریږو او یوائې هغه پایلي چي ددغه ماشینونو پواسطه تر لاسه کیږي څیړو: د یو کلنیکي ازمېښت څخه چي دلته باید یادونه وشي هغه له FEV څخه عبارت دي چي دا یو ساده ازمېښت دي او په لاندي ډول ترسره کیږي:

لمړي یو شخص یوه جبري ساه اخلي او وروسته د ساه اخستلو څخه امکان تر حده ژر به جبري ډول ساه په هغه پیپ کي چي دغه شخص په خوله کي نیولي خارجوي. نو هغه هوا چي په اخر د ازمېښت کي پاتي کیږي د Vital Capacity پنامه یادیږي. همدارنګه هر مقدار هوا چي په لمړي ثانیه کي Spirometer ته داخلیږي. داهم ددغه الي پواسطه اندازه کیږي چي دا اندازه په $FEV_1$ سره د دوهمي ثانیي اندازه په $FEV_2$ سره او د دریمي ثانیي د هوا اندازه په $FEV_3$ سره ښودل کیږي. دتنفسي لاري بندش لکه Asthma، Collapse، Tumor of Bronchi، Emphysema او یا سږو او صدري جدار د پراخیدو وړتیا کموالي لکه Pulmonary Fibrosis, Silicosis, scoliosis او نور د FEV د کمښت سبب ګرځي (۱۷-۲ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۷-۲ش

## د Functional Residual Capacity او Residual Volume اندازه ګرځي

داچي مونږ پدي بر لاسي کيداي نه شو چي د Spirometer پواسطه د FRC او RV اندازي تر لاسه کړو، نو ددي اندازو تر لاسه کولو لپاره لازمي ده چي دا لاندي ميتودونه استعمال کړو.

1) *Helium Dilution Technique:*

ددي لپاره چي FRC اندازه محاسبه کړو نود Respirometer د يو معلوم مقدار هيليوم غاز څخه ډکوو او بيا وروسته د يو نارمل ساه اويستني وروسته شخص ته د Respirometer د پيپ څخه د تنفس هدايت کوو نو کله چي د ا شخص ددغه پيپ څخه تنفس شروع کړي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیلیوم غاز به سږو ته داخل شي، او سږو د هوا سره به ګډ شي او دا پروسه تر هغه وخته پوري دوام ورکوو ترڅو چي د هیلیوم اندازه په سږو او Respirometer کي یو برابر شي اولدي وروسته بیا د هیلیوم غاز په Respirometer کي اندازه کوه او FRC یي د لاندي فارمول پواسطه لاسته راوړو:

پداسي حال کي چي V په Respirometer کي د هوا مجموعي حجم، C1 په Respirometer کي د هیلیوم د غاز اولني حجم او C2 په Respirometer کي د هیلیوم د غاز دوهمي حجم څخه عبارت دی.
او که RV محاسبه کوؤ نو شخص ته به د نارمل ساه اخستني په ځاي د جبري ساه اویستني څخه وروسته Respirometer څخه د تنفس کولو هدایت کوؤ.

2) ***Nitrogen Washout Method:***
داچي د نایتروجن اندازه په ازاده هوا کي تقریباً 80% ده، نو که چیرته د سږو دنایتروجن اندازه معلومه شي نو هغه هوا چي په سږو کي شتون لري هم معلوملاي شو، داسي چي د یو عادي ساه اویستني څخه وروسته شخص ته هدایت کوو چي اکسیجن څخه ډک تیوب څخه ساه واخلي اوخپله ساه بیرته په Valve لرونکي تیوب کي خوشي کړي او دا عمل باید د 6-7 دقیقو پوري تکرار شي تر څو دسږو ټول نایتروجن په اکسیجن بدل شي اوس نو په هغه تیوب کي چي شخص ساه خوشي کوله دنایتروجن اندازه پیداکوو او د لاندي فارمول پواسطه یي FRC لاسته راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پداسي حال کي چي V د تيوب په داخل کي د هوا حجم، C1 د تيوب په هوا کي د نايتروجن اندازه او C2 په ازاده هوا کي د نايتروجن اندازه راښيي.
د RV د معلومولو لپاره شخص ته د نارمل ساه اويستني پرځاي د جبري ساه اويستني وروسته د اکسيجن لرونکي تيوب څخه د ساه اخستلو هدايت کوؤ.

3) ***Plethysmography:***
دا يو داسي تخنيک دي چي ددي پواسطه د بدن د غړو د اندازي او حجم تغيرات تر څيړني لاندي نيول کيږي. هغه اله چي پدغه تخنيک کي پکار وړل کيږي د Plethysmograph پنامه ياديږي، چي د غازاتو د بائيل د قانون په اساس جوړه شوي ده. پدغه تخنيک کي شخص ته لارښونه کيږي چي د Plethysmograph د Pneumotachograph برخه په خوله کي ونيسي او تنفس عمل تري شروع کړي پدغه وخت کي ددي الي پواسطه دتنفس په مختلفو مرحلو کي د حجم او فشار تغيرات واضح کيږي او بيا شخص ته هدايت کيږي چي يو قوي تنفس وکړي چي په قوي ډول د ساه اويستني په اثر د سږو حجم ډير کميږي خو په مقابل کي دلوښي حجم زيات او فشار يي کميږي چي ددي اندازو په نظرکي نيولو سره د لاندي فورمول څخه FRC پيداکوؤ:

$$P_1 \times V = P_2 ( V- \Delta V )$$

پداسي حال کي چي V يي FRC او $P_1$ او $P_2$ يي د فشار تغيرات راښئي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړه ساحه

# Dead Space

Alveolar Ventilation هغه مقدار هوا ده چي په يوه دقيقه کي د غازونو تبادله پري صورت نيسي، پداسي حال کي چي ريوي تهويه ( Pul. Ventilation) هغه اندازه هوا ده کوم چي په يوه دقيقه کي تنفسي سيستم ته داخليږي. لدي ځايه معلوميږي چي تنفسي سيستم ته ټوله دخل شوي هوا کي د غازاتو تبادله صورت نه نيسي، بلکي دا عمل په يو خاص مقدار هوا کي ترسره کيږي هغه مقدار هوا چي تنفس کيږي 6 lit ده خو هغه مقدار هوا چي د غازاتو تبادله ورسره صورت نيسي 4.2 lit ده چي دا پاتي هوا ( 1.8 lit) يي د مړي هوا ( Dead Air) پنامه ياديږي.

مړه هوا (Dead Air) چي په کومي ساحي کي شتون لري دغه ساحي ته مړه ساحه (Dead Space) وايي چي داپه دوه ډوله ده.

1. Anatomical Dead Space
2. Physiological Dead Space

اناتوميکه مړه ساحه هغه ساحه ده چيرته چي د غازاتو تبادلي لپاره جوړښتونه شتون ونلري لکه Conducting Respiratory Tract خو فزيولوژيکه مړه ساحه هغه ساحه ده چيرته چي دغازاتو تبادلي لپاره جوړښتونه شتون ولري خودتبادلي وړتيا ېکي نه وي جمع يي اناتوميکه مړه ساحه لکه هغه هوايي کڅوړي چي کافي اندازه اروا نلري او يا هم د دندي له مخي غير فعاله وي.

په نارمل حالت که څه هم فزيولوژيکه مړه ساحه د اناتوميکي مړي ساحي په نسبت يوه څه زياته ده خو دا ډيرښت ډير کم دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاسبي وړ نه دي نو ځکه دا داواړه مړي ساحې يو له بل سره مساوي قبول شوي دي چې نارمل اندازه يې 150 ml ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم فصل

## د غازاتو د تبادلي فزيکي قوانين

تر اوسه مو هغه څه ولوستل چي دکوم پواسطه هوا تر هوايي کڅوړو پوري راځي، اوس د تنفسي سيستم د فزيولوژي د څېړني په پړاو کي يو بل قدم اخلو او دلته هغه څه تر څېړني لاندي نيسو د کومو پواسطه چي د هوائي کڅوړو او ريوي شعريه رګونو ( Pulmonary Capillaries) ترمنځ د غازاتو تبادله صورت نيسي او په عمومي ډول د غازونو ماليکولونه د لوړ څخه د ټيټ غلظت په لور په غير منظم ډول سره حرکت کوي.

ددي لپاره چي پوه شو چي څرنګه د ويني او هوائي کڅوړو ترمنځ د غازاتو تبادله صورت نيسي نو لازمه ده چي لاندي موضوعات په غور سره ولولو او ځان پري پوه کړو.

## قسمي فشار

## Partial Pressure

د بحر په سطحه د اتموسفير فشار 760 mm Hg دي چي ددي معني داده چي هغه غازونه چي دبحرپه سطحه يي اتموسفير يي جوړکړي دي، ددي ټولو غازاتو فشارونه سره جمع کړو نو مجموعي فشار به يي 760 mm Hg شي، دا چي د اتموسفير زياته برخه د نايتروجن ( تقريباً 69%) او اکسيجن (تقريباً 21 %) څخه جوړه شوي ده، نو ځکه ددي دواړو غازاتو فشارونه به هم پکي لوړ وي، چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نایتروجن فشار په اتموسفیر کي 597.5 mm Hg او د اکسیجن فشار 158.4 mm Hg دي. نو د همدغه مجموعي فشار هغه برخه کومه چي د یو غاز پواسطه جوړیږي د همدغه غاز د قسمي فشار پنامه یادیږي، چي د $P_x$ د سمبول پواسطه چي په x پرځاي د مربوطه عنصرسبمول اویا د مرکب فارمول لیکل کیږي لکه $P_{O2}$, $P_{N2}$, $P_{CO2}$ او داسي نور...

هرکله چي د اوبو مالیکولونه د هوا سره په تماس راشي نو یو اندازه لدي مالیکولونو څخه په مایع شکل بدلیږي او تبخیر کیږي چي دغه تبخیر شوي مالیکولونه بیا هم په هوا کي قسمي فشار تولیدوي چي دغه فشار ته د بخار (بړاس) فشار ( Water Vapor Pressure ) وایي.

په عمومي ډول سره د اتموسفیر هوا، د هوایي کڅوړو هوا او Expired شوي هوا د جوړښت له نظره یوله بل سره یو څه فرقونه لري چي په لاندي جدول کي دا فرقونه خلاصه کوؤ:

| Expired Air | | Alveolar Air | | Humidified Air | | Dry Air | | Gases |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| % | mm Hg | % | mm Hg | % | mm Hg | % | mm Hg | |
| 74.5 | 566.0 | 74.9 | 569.0 | 74.09 | 563.4 | 78.62 | 597.5 | Nitrogen |
| 15.7 | 120 | 13.6 | 104 | 19.67 | 149.3 | 20.84 | 158.4 | Oxygen |
| 3.6 | 27.0 | 5.3 | 40.0 | 0.02 | 0.3 | 0.04 | 0.3 | Carbon Dioxide |
| 6.2 | 47.0 | 6.2 | 47 | 6.20 | 47.0 | 0.0 | 0.0 | Water Vapor |

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچي ولي Expired هوا او د اتموسفير هوا ترمنځ د جوړښت له نظره فرق شتون لري ددي دري علتونه دي چي په لاندي ډول تري يادونه کوؤ:

1. د ساه اخستلو په وخت کي اخستونکي هوا د پوزي پواسطه مربوطيږي.
2. په هوايي کڅوړو کي د اخستل شوي هوا د اکسيجن او کاربن ډاي اوکسايد تبادله صورت نيسي.
3. د هري ساه اخستلو په وخت کي يواځي د Alveolar هوا يو کمه برخه د اتموسفير د هوا پواسطه معاوضه کيږي.

## دمايعاتو څخه د غازاتو نفوذ

## Diffusion of Gases through Liquids

هرکله چي غازات د اوبو سره تماس کي شي نو دوي ددي ميلان لري چي په مايعاتو کي منتشر شي، د Henry قانون په اساس کولاي شو چي په يوي مايع کي د يو غاز غلظت ددغه غاز د انحلاليت د ضريب او د همدي غاز د قسمي فشار له مخي داسي محاسبه کړو چي:

دغاز غلظت = دغاز قسمي فشار × د غاز د انحلاليت ضريب

د انحلاليت وړتيا د هر غاز لپاره فرق کوي مثلاً د اکسيجن د انحلاليت قابليت ضريب 0.024 اود کاربن داي اوکسايد د انحلاليت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضریب 0.57 دي اوپدي حسابد کاربن داي اوکسايد د اکسيجن په نسبت 24 چنده ډير د انحلاليت وړتيا لري.

دغازاتو قسمي فشار په مايعاتو کي هغه ډول منځته نه راځي لکه څنګه چي په غازاتو کي منځته راتللو، نو پدي اساس د غازاتو قسمي فشار په مايعاتو کي دغازاتو دحجم او غلظت د عمومي قانون له مخي محاسبه کيږي.


## دتنفسي غشا څخه دغازاتو تيريدنه

## Diffusion of Gases through The Respiratory Membrane

لکه څنګه مو چي مخکي يادونه وکړه چي تنفسي غشا هغه غشا ده چيرته چي په هوايي کڅوړو کي دغازاتو تبادله صورت نيسي. دا غشا چي په ځينو ځايونو کي د µ 0.2 څخه هم کم پيړوالي لري خو په اوسط ډول سره دا غشا µ 0.6 پيړوالي لري چي د لاندي اجزاو لرونکي ده ( ۳-۱ش).

- ✓ دسرفکتانټ د Monomolecular طبقه.
- ✓ د مايعاتو هغه نري طبقه چي هوايي کڅوړه يي پوښلي ده.
- ✓ Alveolar Epithelial Layer
- ✓ بين البيني مسافه ( Interstitial Space).
- ✓ د شعريه رګونو قاعدوي غشا.
- ✓ Capillary Endothelial Cells

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۱-۳ش**

ددي غشا څخه د غازاتو تبادله صورت نيسي او هغه فكتورونه چي د غازاتو تبادله متاثره كوي عبارت دي له:

1. دتنفسي غشا پيړوالي ( Respiratory Membrane Thickness).
2. په غشا كي د غازاتو دنفوذ ضريب ( Diffusion Coefficient ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. دتنفسي غشا سطحي مساحت ( Surface Area of Respiratory Membrane).
4. د غشا په دواړو خواو کي د قسمي فشار تفاوت.

چي اوس دتنفسي غشا څخه دغازاتو په تيريدنه باندي د هرفکتور اغيزه مفصلاً تر څيړني لاندي نيسو.

### 1. دتنفسي غشا پيړوالي (Respiratory Membrane Thickness):

دتنفسي غشا پيړوالي چي په اوسط ډول تر 0.6 µ پوري دي، ددي غشا څخه د موادو له تيريدني سره معکوساً متناسب دی. پدي معني که چيرته ددي غشا پيړوالي زياتوالی وومومي نو د موادو تيريدنه به بطي او که چيرته ډيروالی وومومي نو دا تيريدنه به چټکه شي. که چيرته د غشا دا پيړوالی د خپلي نارمل اندازي څخه دوه يا دري چنده اضافه شي نو د نفوذ په Rate کي به يي د پام وړ تغيرات منځته راشي. په Pulmonary Edema کي چي اکثراً د چپ زړه د عدم کفايي له وجي منځته راځي ددي سبب ګرځي چي د تنفسي غشا پيړوالي ډير او د غازاتو په نفوذ باندي اغيزه وکړي دا چي د چپ زړه عدم کفايه څرنګه د تنفسي غشا د پيړوالي سبب ګرځي، ددي خبري سپيناوي داسي کوؤ چي: د چپ زړه د عدم کفايي له وجي په ريوي شعريه رګونو کي وريدي فشار لوړيږي او دا ددي سبب ګرځي چي په هوايي کڅوړو کي مايعات تجمع وکړي او ددي غشا ضخامت زيات کړي. همدارنګه په توبرکلوز، نمونيا او پرمختللي Silicosis چي د سږو دنسجونو د التهاب څخه منځته راځي، هم په هوايي کڅوړو کي د هوا د تجمع سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 2. په غشا کي دغازاتو د نفوذ ضريب (Diffusion Coefficient):

دغازاتو د نفوذ ضريب د غاز هغه وړتيا ده چي په يو واحد د وخت کي په يوي مايع يا نسج کي نفوذ کوي، چي د نفوذ دا ضريب د غاز دماليکولي وزن د دوهم جذر سره معکوساً اود انحلاليت د قابليت سره مستقماً متناسب دی. که چيرته د اکسيجن د نفوذ ضريب يو قبول کړو نو د $CO_2$ د نفوذ ضريب به 20 وي. چي ددي خبري معنی داده چي د $CO_2$ د نفوذ وړتيا داکسيجن په نسبت 20 چنده زياته ده يعني که په يو واحد د وخت کي که د اکسيجن يو ماليکول ددي غشا څخه تيريږي نوهمدغه واحد د وخت کي 20 ماليکولونه د $CO_2$ به ددغه غشا څخه تيرشي.نوځکه په تنفسي مرضونو کي Hypoxia (داکسيجن کمښت) د Hypercapnia (دکاربن داي اوکسايد ډيرښت) په نسبت ډير ژر تاسيس کوي.

که چيرته تنفسي غشا د يو مرض له وجي په دوامدار ډول تخريبه شي نو دابه د ويني د اکسيجن په اندازي باندي اثر وغورځوي او تغير به پکي راولي نو که چيرته پدغه وخت کي ناروغ بيا هم ژوندي وي نو Oxygenthrapy ورته اجرا کيږي تر څو په سږو کي د اکسيجن قسمي فشار د لوړيدو په اثر په وينه کي هم د اکسيجن قسمي فشار لوړ شي.

## 7. د تنفسي غشا سطحي مساحت (Surface Area):

د تنفسي غشا نارمل اندازه $70\ m^2$ ده، نو که دا اندازه د يوي کوټي د مساحت سره پرتله کړو نو د هغه کوټي سره چي مساحت يي $30 \times 25$ ft وي مساوي دي، خو په مقابل کي د سږو د شعريه رګونو د ويني ټوله اندازه 60-140 ml پوري ده. اوس که د ويني دغه کمه اندازه پدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخه سطحه کي تصور کړو په ډيرپه اساني سره به پردي خبره پوه شو چي د اکسيجن او $CO_2$ تبادله په څومره چټکي سره صورت نيسي.
دريوي شعريه رګونو منځني قطر $5\ \mu$ دي، نو بنا پردي RBC لدغه ساحي څخه ښه د پوره فشار لاندي تيريږي، ځکه نو د RBC پرده د شعريه رګونو د جدار سره مستقماً تماس پيدا کوي. او پدي ډول اکسيجن او $CO_2$ د خپل نفوذ په وخت کي ديته اړ نه دي چي د يوي اوږدي مسافي ( پلازما مسافي) څخه تير شي کومه چي بايد د RBC او سنخ ترمنځ موجود وي، او دا کار په خپل نوبت د تنفس د عمليي د لا چټکتيا لامل ګرځي. ددغي سطحي په ډيرکم که تغير سره بيا هم د غازاتو په تبادله کي ډير زيات بدلون تر سترګو کيږي، که چيرته ددغه سطحي اندازه د $^1/_4 - ^1/_3$ پوري راکمه شي نو د استراحت په حالت کي هم د غازاتو په تبادلي ښکاره اغيزه کوي.

ددغي سطحي کموالی د سږي د نسج د ليروالي، د هوايي کڅوړو د جدارونو د تخريب، د توبرکلوز پواسطه د سږو نسج بدليدل په منضم نسج باندي او حتي په ځينو حادو حالاتو کي لکه د نمونيا او Pulmonary Edema له وجي هم رامنځته کيږي.

## 8. د غشا په دواړو خواو کي د قسمي فشار تفاوت:

دغشا په دواړو خواو کي د قسمي تفاوت عبارت دي له ريوي ويني او هوايي کڅوړو کي د غازونو دقسمي فشار تفاوت څخه. په عمومي ډول که چيرته يو خوا قسمي فشار لوړ وي نو ماليکولونه بلي خواته د Net Diffusion په اساس حرکت کوي. په نارمل ډول د اکسيجن قسمي فشار په هوايي کڅوړو او د $CO_2$ قسمي فشار په ريوي شعريه رګونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات دي، نو پدي ترتيب اکسيجن د ريوي رګونو خواته او $CO_2$ د هوايي کڅوړو خواته نفوذ کوي.

د سنخي تهويي ( Alveolar Ventilation) په زياتوالي سره په هوايي کڅوړو کي د اکسيجن قسمي فشار ډيرېږي او دا ددي سبب ګرځي چي نارمل حالت څخه ډير او چټک ډول اکسيجن ويني ته انتقال شي،
برعکس د سنخي تهويي د کموالي په صورت کي د اکسيجن قسمي فشار په هوايي کڅوړو کي کميږي او دا ددي سبب ګرځي چي د اکسيجن انتقال ويني ته د نارمل حالت څخه کم او بطي ډول صورت ونيسي.

که چيرته د پورته ټولو فکتورونو اغيزه د غاز په نفوذيه قابليت باندي په يو الجبري معادلي کي وڅيړو نو لرو چي:

پداسي حال کي چي DC يي د نفوذيه ظرفيت، S يي د نحلاليت ضريب، Pg يي فشارتفاوت، A يي د غشا مساحت او D يي دغشا پيړوالي افاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتهوئي او ريوي شعريه رګونو د ويني جريان ترمنځ اړيکه

# Relation between Ventilation And Pulmonary Capillaries Blood Flow

په نارمل حالت کي سنخي تهويه او د ريوي شعريه رګونو ويني جريان هغه څه دی کوم چي په موثر توګه د ويني او هوا ترمنځ د غازاتو تبادله متاثره کوي. په نارمل ډول دا اړيکه د ثبات په حالت کي وي، چي د تمرين په حالت کي هم دغه ثبات ټينګ وي او دا ځکه چي که له يوي خوا قلبي دهانه لوړيږي نو له بلي خوا څخه سنخي تهويه هم لوړيږي چي ددي دواړو لوړيدل د غازاتو د تبادلي د اندازي د ثبات سبب ګرځي.

په دوه حالتونو کي د سنخي تهويي او ريوي شعريه رګونو د ويني جريان ترمنځ دغه اړيکه خرابيږي، يو داچي د ويني جريان هوايي کڅوړو خواته کم شي او يا دا چي تهويي اندازه راکمه شي او د غازاتو تبادله په نارمل ډول سره صورت ونه نيسي.

که چيرته وينه په ښه ډول Oxygenated نشي نو د Shunted Blood پنامه ياديږي، چي مونږ په روغ صحت کي دوه ډوله Shunted Blood لرو، يو يي Anatomical Shunted وينه ده چي عبارت د هغه مقدار ويني څخه ده چي د Deoxygenated ويني په شکل د Bronchi او Bronchioles څخه راځي او د Pulmonary Vein سره ګډيږي، او بل ډول يي Physiological Shunted وينه ده، چي دا هغه مقدار وينه ده کوم چي د ريوي شعريه رګونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

Anatomic Shunted وینې د یوځایوالي څخه رامنځته راځي. د یادوني وړده چې Shunted وینه د قلبي دهاني %2-1 پوري جوړوي.

اکثراً مرضونه هم د Shunted وینې د زیاتیدو سبب ګرځي لکه Asthma چې پدې حالت کې Bronchi بندښت پیداکوي، او دا چې دا د وینې د جریان په مقابل کې یو خنډ جوړوي نو ځکه په ریوي شعریه رګونو کې وینه Deoxygenated پاتې کیږي. همدارنګه Pulmonary Edema او Pneumonia هم د وینې د ښه Oxygenated کیدل نهي کوي او د Shunted وینې د ډیرښت سبب ګرځي.

کله چې یو شخص د ولاړې په حالت کې وي نو د سږو قاعده یې د پورتنې برخې په نسبت د 22 mm Hg په اندازه لوړ فشار لرونکې وي دا لوړ فشار ددې سبب ګرځي چې په قاعدوي برخه کې د وینې جریان چټک او اوعیې ښه متوسع وي، خو په پورتنې برخه کې بیا خبره معکوسه ده یعنې دلته اوعیو ښه توسع نه وي کړې او حتی ځینې یې لا کولپس هم وي نو ځکه د وینې جریان پکې کم او یا هم هیڅ نه وي.

خو کله چې شخص په تمرین لاس پوري کړي نو د قلبي دهاني د لوړیدو په اثر یې ریوي فشار هم لوړیږي، او دا د فشار لوړوالي ددې سبب ګرځي چې سږو ته د وینې جریان زیات شي او هغه کم متوسع اویا هم کولپس شعریه رګونه پراخه کړي، چې بلاخره دا ټول ددې باعث ګرځي چې د سږو په پورتنې برخه کې وینې جریان شروع شي.

که څه هم د سږو د وینې جریان باندې د جاذبې د کشش قوه د پام وړ اثر غورځوي، خو پدغه جریان باندې د وینې د اکسیجن قسمي فشار هم له پامه نشو غورځولای، د بدن په نورو برخو کې لکه چې د اکسیجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار کم شي نو داد Histamine، Bradykanine او نورو موادو افراز پواسطه د Vasodilatation سبب ګرځي، خو په اسناخو کي د اکسیجن کموالي د Vasoconstriction سبب ګرځي او دا چي ولي ددي علت لاتراوسه په مکمله توګه ندي په ډاګه شوي.

## د تنفس د تبادلي نسبت

## Respiratory Exchange Ratio

د نسجونو د $CO_2$ د ورکړي او اکسیجن د اخستني نسبت ته د Respiratory Exchange Ratio (RER) وایي. چي په مختلفو حالتونو کي فرق کوي کله چي انسان یواځي قندونه د تغذیي په منظور استعمال کړي نو ددي نسبت قیمت 1، خو کله چي یواځي شحمیات د غذا په منظور استعمال کړي نو قیمت یي 7 او که چیرته یواځي پروتینونه د تغذیي په منظور استعمال شي نو قیمت یي 0.803 دي. خو که چیرته یو شخص داسي غذا استعمال کړي چي هم قندونه، هم شحمیات او هم پروتینونه ولري نو پدي وخت کي ددي نسبت قیمت 0.825 دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنفسي ضریب
# Respiratory Quotient

د نسجونو پواسطه په جذب شوي اکسیجني حجم باندي د هماغه نسجونو پواسطه د ازاد شوي کاربن داي اوکساید حجم ترمنځ نسبت ته تنفسي ضریب وائي.

ددي ضریب نارمل اندازه د غذا اخستلو یو ساعت وروسته د یو سره مساوي ده او دا ځکه چي په دغه وخت کي اخستل شوي قندونه په مصرف رسیږي او داچي د قندونو RER د یو سره مساوي دي نو ځکه تنفسي ضریب یي 1 دي. د قندونو د مصرف څخه وروسته ددي ضریب اندازه 0.7 ده ځکه چي پدغه وخت کي شحمیات په مصرف رسیږي او هرکله چي پروټین په مصرف ورسیږي نو ددي ضریب اندازه 0.8 کیږي.

په داسي حال کي چي د تمرین په وخت کي تنفسي ضریب زیاتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

## په ويني کي د اکسيجن او کاربن داي اوکسايد انتقال

## Oxygen and Carbon Dioxide Transport in Blood

اوس د تنفسي سيستم د فزيولوژي په څيړنه کي دريم قدم پورته کوو او هغه دا چي هر کله اکسيجن ويني ته ورسيده نو دا اکسيجن بايد د ويني پواسطه نسجونو ته ورسيږي او په مقابل کي د نسجونو څخه کاربن داي اوکسايد سږو ته را انتقال شي.

اکسيجن په وينه کي په زياته اندازي ( 98 % ) سره د هيموګلوبين پواسطه او پاتي برخه يي د ويني د پلازما پواسطه نسجونو ته ليږدول کيږي، او کله چي نسجونو پواسطه کاربن داي اوکسايد توليد شي نو دا کاربن داي اوکسايد د هيموګلوبين سره د Bicarbonate پشکل نښلي او سږو ته انتقاليږي.

داچي دغه پورته پروسه د کومو جزئياتو لرونکي ده ددي باندي پوهيدولو لپاره لاندي موضوعات څيړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


# داکسیجن د نفوذ تفاوت

# Oxygen Diffusion Gradient

په هوائي کڅوړو کي د اکسیجن قسمي فشار تقریباً 104 mm Hg او په ریوي شعریه رګونو کي دا فشار 46 mm Hg دی چي د فشار دغه لوړ تفاوت ددي زمینه مساعدوي چي د اکسیجن نفوذ دی د هوائي کڅوړو څخه دویني په طرف صورت ونیسي، او پدی ترتیب ریوي رشعریه رګونو کي د اکسیجن قسمي فشار هم 104 mm Hg ته لوړیږي، چي دا قسمي فشار د ریوي شعریه رګونو تر وریدي نهایت ( Venous end of Pulmonary Capillaries ) پوري همداسي پاتي وي خو کله چي ریوي وریدو ته دا وینه ورسیږي نو د Shunted ویني د ګډیدو په اثر يي د اکسیجن قسمي فشار 95 mm Hg ته راښکته کیږي چي دغه ګډي ویني ته Venous Admixture of Blood وائي.

د شعریه رګونو تر شریاني نهایت پوری د اکسیجن دا قسمي فشار همداسی پاتي وي، په بین البیني (Interstitial Space) کي د اکسیجن قسمي فشار 40 mm Hg ته او د حجري په داخل کي دا فشار تقریباً 23 mm Hg ته راښکته کیږي، نو پدي اساس د اکسیجن د شعریه رګونو څخه د Interstitial Space په لور او لدي څخه د حجرو په لور نفوذ کوي، چي په حجرو کي بیا د Aerobic میتابولیزم په اثر استعمالیږي (۱-۴ ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library




# دکاربن ډاي اوکسايد د نفوذ تفاوتونه

# Carbon Dioxide Diffusion Gradients

کاربن داي اوکسايد د حجرو د تنفسي بيکاره موادو (By-Products) په ډول د حجرو پواسطه توليديږي. د حجرو په داخل کي د کاربن داي اوکسايد قسمي فشار 46 mm Hg، په بين البيني مسافه کي 45 mm Hg، په شعريه رګونو په شرياني نهايت کي 40 mm Hg، د شعريه رګونو په وريدي نهايت کي 45 mm Hg او په هوائي کڅوړو کي 40 mm Hg دی. نو پدي اساس کاربن داي اوکسايد د حجرو داخل څخه بين البيني مسافي ته، له بين البيني مسافي څخه وريدي شعريه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رګونو ته او لدي ځخه هوائي کڅوړو ته او له هوائي کڅوړو ځخه اتموسفير ته انتقاليږي(۱-۴شکل).

## هيموګلوبين او د اکسيجن انتقال

## Hemoglobin and Oxygen Transport

تقريباً % 98.5 اکسيجن په وينه کي د هيموګلوبين پواسطه او پاتى نور ( % 1.5) ئي د ويني د پلازما پواسطه انتقاليږي. د هيموګلوبين سره د اکسيجن اتصال يو رجعي تعامل دى چي په سږو کي اکسيجن د هيموګلوبين سره يو ځاي او په نسجي مسافه ( Tissue Space ) کي د هيموګلوبين ځخه بيل او نسجونو ته ننوځي.


که چيرته ۲-۴ شکل ته زير شو نو ښکارى شي يوه هوائي کڅوړه د يوه Pulmonary Capillary ترڅنګ پروت او د سنخي هوا او ريوي ويني تر منځ اکسيجن د ماليکولونو نفوذ په ګوته کوي. ليدل کيږي چي په سنخ کي د اکسيجن قسمي فشار 104 mm Hg دي، پداسي حال کي چي وريدي وينه چي په Pulmonary Capillary کي جريان لري په خپل شرياني نهايت کي د اکسيجن د 40 mm Hg قسمي فشار لرونکي ده، او داځکه چي دي ويني د خپل اکسيجن زيات مقدار محيطي انساجوته لادمخه ورکړي دى، بناً لومړني تفاضلي فشار چي د اکسيجن د نفوذ سبب ګرځي داسي معلوموو:

**ريوي شرياني فشار - په هوائي کڅوړو کي د اکسيجن فشار = اکسيجن تفاضلي فشار**

**اکسيجن تفاضلي** فشار **= 104 mm Hg – 40 mm Hg = 64 mm Hg**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که د ګراف لاندیني برخي ته زیر شو نو ښکاری چي اکسیجن ددغه تفاضلي فشار په اساس په ځومره چټکی له اسناخو څخه ویني ته نفوذ کوي او دلته ئي $PO_2$ په چټکي سره لوړیږي. که شکل ته ځیر شو نو وبه ګورو چي کله چي وینه د کپیلری تقریباً $^1/_3$ برخه طي کوي نو د اکسیجن قسمي فشار يي د سنخ د اکسیجن له قسمي فشار سره مساوي کيږي يعني 104 mm Hg ته رسيږي.




ش۴-۲

خو دا چي د ورزش په وخت کي اکسیجن ته د بدن ضرورت شله ځله زیاتیږي نو که څه هم دا وخت له یوي خوا قلبي دهانه زیاتیږي خوله بلي خوا په ریوي شعریه رګونو کي د چټک دوران له کبله د ویني تم کیدو وخت هم د نارمل نیمایي ته کمیږي چي تر څنګ يي يو لړ کولپس شعریه رګونه هم خلاصیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بناً دويني اکسيجن اشباع دنومړو دواړو فکتورونو پواسطه متاثره کيداي شي. نو دا چي څرنګه د ورزش په وخت کي دا مشکل حل شي يعني په همدغه لږ وخت کي څنګه ډيره وينه په اکسيجن اشباع شي د اکسيجن د نفوذ لپاره يو ساتندويه عامل ( Safety Factor ) ته ضرورت دی، چي په لاندي ډول يي څيړو:

دمخه مو وويل چي د ورزش په وخت کي د اکسيجن د نفوذ ظرفيت د نارمل په نسبت دري ځلي لوړيږي چي دا کار له دوه لارو څخه صورت نيسي، يو دا چي په نفوذ کي دبرخه لرونکو شعريه رګونو ( Capillaries) ساحه پراخيږي او بل داچي $^{AV}/_{Q}$ ( Ventilation پر Perfusion نسبت) د سږو په پورتنيو برخو کي لوړيږي.


لکه چي په ۲-۴ شکل کي ښکاري کله چي وينه د شعريه رګونو د طول د هوايي کڅوړي تر څنګ طي کوي د وخت په هغه اندازه کي چي وينه د شعريه رګ ( Capillary) $^{1}/_{3}$ برخه طي کړي نود اکسيجن پواسطه په پوره اندازي سره مشبوع کيږي او پاتي $^{2}/_{3}$ برخه د وخت کي چي څومره اکسيجن نفوذ کوي چي وزګار او خوشي يي ګڼلي شو يعني وينه په نورمال ډول د سږو په شعريه رګونو کي دري چنده له هغه وخت نه زياته پاتي کيږي کوم چه باندي د اکسيجن د اشباع لپاره ضروري دی. نو که دغه سرعت د نارمل دري چنده هم شي بيا هم د په اکسيجن باندي د اشباع مسله کوم د مشکل سره نه مخ کيږي.

اوس کله چي شرياني وينه محيطي انساجو ته ورسيږي د اکسيجن قسمي فشار يي لا هم 95 mm Hg وي لکه چي په ۳-۴ شکل کي ښکاري.دغلته په بين الخلالي مايع کي چي د نسج د حجراتو په چاپير کي قرار لري د اکسيجن قسمي فشار له 40 mm Hg څخه عبار


(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. او دا حالت په کافي ډول د فشار تفاضل په ګوته کوي کوم چي د شعريه رګ ( Capillary ) له شرياني نهايت څخه بين الخلالي مايع ته د اکسيجن د نفوذ لپاره په کار دي. ځکه نو اکسيجن په ډيره چټکۍ او تر هغي له شرياني نهايت نه بين الخلالي مايع ته نفوذ کوي تر څو چي قسمي فشار يي له هغي سره مساوي شي ( 104 mm Hg). ځکه نو د دغو شعريه رګونو ( Capillaries) وريدي نهايت د داسي اکسيجن لرونکي دي چي قسمي فشار يي 40 mm Hgدی.

که يو نسج ته د ويني جريان زيات شي په حقيقت کي په يوه معين وخت کي دغه نسج د اکسيجن يو زيات مقدار رسيږي او پدي ډول نسجي $PO_2$ يي لوړيږي. دا وضعه په ۳-۴ شکل کي توضيح شوي، داسي چي که د ويني جريان له نورمال حالت څخه 400 % زيات شي، نسجي $PO_2$ به له 40 mm Hg نه 66 mm Hg ته لوړ شي، خو هغه اعظمي حد چي $PO_2$ ورته په انساجو کي د ويني زيات جريان له وجي لوړيداي شي له 95 mm Hg څخه عبارت دی، ځکه چي دا د شرياني ويني د اکسيجن قسمي فشار دی يعني نسجي او شرياني $PO_2$ به سره مساوي شوي. اوس نو که حجرات له نارمل څخه زيات اکسيجن د خپلو استقلابي وتيرو لپاره استعمال کړي د بين الخلالي مايعاتو د اکسيجن مقدار به کم شي دا حالت هم په ۳-۴ شکل کي ښودل شوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




**۳-۴ ش**

په لنډ ډول ويلي شوي چي نسجي $PO_2$ د دوه فکتورونو پواسطه په موازنه کي ساتل کيږي:

- دهغه اکسيجن اندازه چي دويني پواسطه نسج ته رسول کيږي.
- د هغه اکسيجن اندازه چي د نسج پواسطه تري ګټه اخستل کيږي.

يعني نسج ته د ويني په وسيله د رسيدونکي اکسيجن او د نسج پواسطه د استعماليدونيکي اکسيجن د اندازو پواسطه $PO_2$ په موازنه کي ساتل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دا چي د حجرو په داخل کي د اکسیجن قسمي فشار کم ( -5 40 mm Hg په اوسط ډول 23 mm Hg) دي نو اکسیجن د بین الخلالي مسافي څخه داخل د حجراتو ته داخلیږي او په داخل د حجرو کی د کیمیاوي تعاملاتو تر سره کولو لپاره 1-3 mm Hg فشار د اکسیجن ته ضرورت دي، دا عدد د 23 په نسبت ډیر کوچني دي نو بنا پردي 23 mm Hg یو لوي ساتندویه فکتور ( Safety Factor ) دی.

اوس که چیرته د کاربن داي اوکساید په انتقال وغږیږو نو کله چي د حجرو پواسطه اکسیجن په مصرف ورسیږي، کاربن ډای اوکساید تولید او دا کار د حجري په داخل کي د کاربن داي اوکساید قسمي فشار د نسجي شعریه رګونو د کاربن دای اوکسایډ د قسمي فشار په نسبت پورته وړي، ځکه نو کاربن ډای اوکساید له نسج نه نسجي شعریه رګ ته نفوذ او له هغه ځایه د ویني پواسطه سږو ته وړل کیږي. په سږو کي له ریوي شعریه رګونو څخه هوایي کڅوړو ته نفوذ کوي او پدي ډول د کاربن ډای اوکساید نفوذ د سږو په حذا کي د اکسیجن په مخالف لوري صورت نیسي، خو یو غټ فرق چي د کارن دای اوکساید نفوذ یي د اکسیجن دنفوذ په پرتله لري دا دي چي د کاربن ډای اوکساید د نفوذ سرعت د اکسیجن له نفوذ سرعت څخه شل ځله زیات دی او له همدي کبله د نفوذ لپاره یی تفاضلي فشار د اکسیجن په نسبت کم دی، چي په لاندي ډول دی:


✓ د حجري په داخل کي د کاربن ډای اوکساید قسمي فشار 46 mm Hg او په بین الخلالي مایعاتو کي 45 mm Hg دی بناً تفاضلي فشاريي یوازي 1mm Hg دی (۴-۴ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓ د انساجو په شرياني وينه کي د کاربن ډای اوکساید قسمي فشار 40 mm Hg او همدغلته يعني د انساجو د وريدي ويني قسمي فشار 45 mm Hg دی (۴-۴ شکل). د نسجی وريدي شعريه رګونو، د کاربن داي اوکسايد قسمي فشار په پاي کي د بين الخلالي مايعاتو د کاربن ډای اوکساید له قسمي فشار سره مساوي کيږي.

✓ د هغه وريدي ويني د کاربن داي اوکسايد قسمي فشار چي د Pulmonary Capillaries په شرياني نهاياتو کي 45 mm Hg، د سنخي هوا دکاربن داي اوکسايد له قسمي فشار 40 mm Hg دی، بناً يوازي 5 mm Hg تفاضلي فشار د نفوذ لپاره وجود لري لکه څنګه چي په ۴-۴ شکل کي ښکاري د Pulmonary Capillaries د کاربن داي اوکسايد قسمي فشار د سنخي هوا د کاربن داي اوکسايد له قسمي فشار سره ډير ژر مساوي کيږي يعني هغه فاصله چي په مخ کي يي لري، يوازي په لومړي $^1/_3$ واټن کي دا مساوات اعاده کيږي او دا کار لکه چي دمخه مو وويل همغسي دی لکه د اکسيجن لپاره، خو په دومره توپير چي دلته لوري د اکسيجن خلاف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**۴-۴ شکل**

نسجي ميتابوليزم او نسج ته د ويني د جريان اندازه د کاربن ډای اوکسايد په قسمي فشار باندي داکسيجن سرچپه اغيزي لري لکه په ۴-۵ شکل کي ښکاري او په لاندي ډول ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

✓ که چیرته د نارمل A نقطی څخه د ویني د جریان B نقطی ته تقریباً د $^{1}/_{4}$ په اندازه راکم شي نو نسجی $PO_2$ له نارمل څخه به 60 mm Hg ته لوړ شی، خو برعکس که د ویني جریان د نارمل په نسبت شپږ چنده زیات شي (C) نو $PO_2$ به له خپل نارمل حد نه 41 mm Hg ته راښکته شي یعني تقریباً د شریاني ویني د $PCO_2$ سره برار شي(۴-۵ش).

✓ که نسجي میتابولیزم لس چنده لوړ شي د بین الخلالي مایعاتو د کاربن داي اوکساید قسمي فشار به هم ورسره زیات شي، که څه هم د ویني جریان هر څومره زیات شي. په داسي حال کي چي که دا میتابولیزم $^{1}/_{4}$ ته کم شي د بین الخلالي مایعاتو د کاربن داي اوکساید قسمي فشار به 41 mm Hg ته راښکته شي، او لدي څخه نشي کمیدي، ځکه چي شریانی $PCO_2$ هم 40 mm Hg دی.




۴-۵ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په وینه کي د اکسیجن انتقال

لکه څنګه مو مخکي واویل په نارمل حالت کي تقریباً 98.5 % اکسیجن له سږو نه انساجو ته د RBC د هیموګلوبین پواسطه د یو کیمیاوي اتصال له مخي او پاتي 1.5 % یي د پلازما او د حجرو د اوبو پواسطه وړل کیږي. ددغي فیصدي له مخي ویلي شو چي په نارمل ډول د اکسیجن د انتقال مسولیت د هیموګلوبین په غاړه دی.

# د هیموګلوبین سره د اکسیجن مکرر یو ځاي کیدل

څرنګه چي د هیموګلوبین له کیمیاوي جوړښت څخه پوهیږو چي د اکسیجن مالیکول د هیموګلوبین د Heme له برخي سره یو سست او رجعي اتصال جوړوي. کله چي د اکسیجن قسمي فشار لوړ وي، لکه په ریوي شعریه رګونو کي اکسیجن له هیموګلوبین سره نښلي خو کله چي د اکسیجن قسمي فشار کم وي لکه په نسجي شعریه رګونو کي نو بیا اکسیجن له هیموګلوبین څخه خوشي کیږي چي همدا میخانیکت له سږو څخه انساجو ته د اکسیجن د لیږدیدني بنسټ جوړوي.

که چیرته ۶-۴ الف شکل ته ځیر شونو په اکسیجن هیموګلوبین منحنی کي ښکاری چي که چیرته په مترقي ډول سره د هیموګلوبین هغه فیصدي چي له اکسیجن سره نښلي او ورسره سم د ویني د اکسیجن قسمي فشار هم لوړیږي او دي ته د هیموګلوبین د اشباع فیصدي یا Hemoglobin Saturation Percentage وایي. او لکه چي دمخه مو هم وویل، هغه وینه چي له سږو څخه وځي او چاپیریالي دوران ته ځي د اکسیجن قسمي فشار یي د 95 mm Hg، چي د هیموګلوبین اشباع فیصدي یي 97 راځي، خو په نارمل ډول چي کله دا وینه د وریدي ویني په نوم بیرته سږو ته ځي د اکسیجن قسمي فشار یي 40 mm Hg او د


(c) ketabton.com: The Digital Library

هيموګلوبين اشباع فيصدي يي 75 وي. د اکسيجن هغه اعظمي اندازه چي د ويني له هيموګلوبين سره يو ځاي کيداي شي، په لاندي محاسبو کی خلاصه کوو، له هغه ځايه چي د يو فزيولوژيک شخص وينه په خپل هر 100 cc اندازه کي 15 gr هيموګلوبين لري او هر ګرام هيموګلوبين په اعظمي ډول د 1.34 cc اکسيجن د وړلو قابليت لري بناً اوس که 15 gr په 1.34 cc کي ضرب کړو 20.1 په لاس راځي او دا محاسبه دا معني چي د 100 cc ويني هيموګلوبين په نارمل ډول په اعظمي شکل 20 cc اکسيجن وړي شي چي دا وخت به د هيموګلوبين د اشباع فصيدي سل وي چي د Twenty Volumes Percent پنامه ياديږي ( ۶-۴ شکل). اوس که چيرته په انساجو کي داکسيجن هغه اندازه معلومول وغواړو کو م چي هيموګلوبين يي خوشي کوي، نو داسي محاسبه کووچي: لکه څرنګه چي پو هيږو په نارمل ډول 100 cc وينه په هغه صورت کي چي د هيموګلوبين د اشباع فيصدي يي 97 وي، 19.4 cc اکسيجن وړلاي شي ( ۶-۴ب شکل)، کله چي دا وينه د نسجي شعريه رګونو څخه تيريږي د اکسيجن اندازه يي 14.4 cc ته، د اشباع فيصدي 75 ته او د اکسيجن قسمي فشار يي 40 mm Hg ته راښکته کيږي، بناً په نارمل ډول يوازي 5 cc اکسيجن د هر 100 cc ويني پواسطه انساجو ته وړل کيږي.

لکه څنګه چي پو هيږو چي په شديدو عضلي فعاليتونو کي د عضلي حجرو په واسطه د اکسيجن مصرف زياتيږي، نو د بين الخلالي مايعاتو (Interstitial Fluid ) د اکسيجن قسمي فشارد 40 mm Hg څخه 15 mm Hg ته راښکته کيږي چي پدي فشار کي له هيموګلوبين سره يوازي 4.4 ml اکسيجن په 100 cc وينه کي تړلي پاتي کيږي (-۴ ۶ ب شکل)، بناً 15 cc اکسيجن د هر 100 ccويني پواسطه انساجو ته


(c) ketabton.com: The Digital Library

لیږدول کیږي چي نارمل (په نارمل حالت کي 5 cc اکسیجن انساجو ته رسیږي) له دري چنده سره سمون خوري ( 19.4 cc – 4.4 cc = ***15*** ***cc***). دا هم د یادوني وړ ده چي که چیرته ضرورت شي نو قلبي دهانه ( Cardiac Output) هم له شپږو څخه تر اوو چندو پوري خپل اکمالات لوړوي لکه په منډي وهونکو کي. که د قلبي دهاني ( Cardiac Output ) دا عدد او د اکسیجن د انتقال نوموړی عدد سره ضرب کړو(21=7×3) تقریباً 20 لاسته راځي چي دا دا معنی لري چي انساجو ته د نارمل په نسبت تر 20 چنده پوري د اکسیجن اکمالات زیاتیداي شي او پدي میکانیزم او یو لړ نورو میخانیکتونه (راتلونکی صفحه وګوري) ددي موجب ګرځي چي د شدیدو تمرینونو او د سختو فزیکي فعالیتونو په وخت کي نسجي $PO_2$ ثابت وساتي.




**۶-۴ الف شکل**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**۴-۶ ب شکل**

دويني هغه فيصدي چي په انساجو کي خپل اکسيجن له لاسه ورکوي د مصرف ثابت ( Utilization Coefficient ) پنامه يادېږي. دا عدد په نارمل ډول % 25 دی يعني که خپلو مخکينو محاسبو ته پام وکړو نو وبه ګورو چي يوازي % 25 وينه په عادي حالاتو کي انساجو ته د اکسيجن په رسولو کي مصروفه ده او لکه چي ومو ويل په شديدو فزيکي فعاليتونو او يا سختو تمرينونو کي دا عدد له % 85 – 75 پوري لوړېږي. په موضعي ( Local) ډول په يوه ساحه کي چي د ويني جريان يي کم، خو متيابوليک فعاليتونه يي زيات وي نوموړی عدد حتی تر 100 % پوري لوړيداي شي، پدي معني چي وينه سل په سلو کي خپل ټول اکسيجن پدغه ساحه کی له لاسه ورکړاي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نسجي $PO_2$ په ثابت ساتنه کي د هيموګلوبين اغيزه:

برسيره پردي چي هيموګلوبين انساجو ته د اکسيجن د انتقال دنده پر غاړه لري يوه بله دنده هم ترسره کوي کوم چي د ژوند د پايښت لپاره ضروري ده، چي هغه د نسجي اکسيجن غلظت ثابت ساتلو څخه عبارت ده يعني هيموګلوبين دی چي نسجي $PO_2$ ثابت ساتي او دا کار په لاندي ميخانيکيت سره ترسره کوي: لکه چه دمخه مو څو ځلي وويل چي په نارمل حالاتو کي کله چي وينه له يوه نسج څخه تيريږي له هر 100 cc وينې څخه يوازي 5 cc اکسيجن مصرفيږي. که چيرته ۶-۴ب شکل کي د اکسيجن هيموګلوبين بيلتون منحنی ته ښه ځير شو وبه ګورو چي کله نوموړي پيښه رامنځته شي نو د ويني د اکسيجن قسمي فشار تقريباً 40 mm Hg ته رسيږي او نسجي $PO_2$ هم په نورمال حالاتو کي همدومره راواخله او لدي څخه نشي لوړيداي، ځکه که فرضاً داسي وشي، نو بيا خو انساجوته د ويني له هيموګلوبين څخه اکسيجن نشي ورتلی، لدي کبله هيموګلوبين پواسطه نسجي $PO_2$ په خپل اعظمي حد يعني 40 mm Hg کي ساتل کيږي.

لکه چي ومو وويل، په شديدو فزيکي فعاليتونو او سپورتونو کي د اکسيجن مصرف شل ځله هم د نارمل څخه زيات شي بيا هم دا اکمال د هيموګلوبين پواسطه تر سره کيږي چي په نسجي $PO_2$ کي ډير لږ کمښت په سترګو کيږي ( 15-25 mm Hg). البته ددي کار لاملون دوه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- يو د اکسيجن هيموګلوبين بيلتون منحنی د Steep Slope له کبله.
- په کمه اندازه د نسجي $PO_2$ کموالي پر بنسټ انساجو ته د ويني د جريان زياتوالي.

کله چي د نسجي $PO_2$ لږ کمښت هغه نسج ته د زياتي ويني دتګ باعث شي، نو بيا د اکسيجن همدغه کم قسمي فشار ددي سبب ګرځي چي د ويني د هيموګلوبين څخه زيات اکسيجن واخلي.

بناً انساجو ته د ويني پواسطه د اکسيجن رسول پداسي طريقه کيږي چي نسجي $PO_2$ په خپل اندي ډول له 15—40 mm Hg تر منځ وساتل شي. که چيری د اکسيجن قسمي فشار په اتموسفيري هوا کي د پام وړ تغير وکړي د هيموګلوبين ثابت ساتلو ( Hemoglobin Buffer ) رول به لا بيا هم په صحنه کي حاکم او د انساجو د اکسيجن قسمي فشار به چندان تغير ته پري نه ږدي د مثال په ډول:

پوهيږو چي نارمل سنخي $PO_2$ له 104 mm Hg نه عبارت دی خو که څوک يو لوړ غره ته وخيژي او يا په الوتکه کي لوړي ارتفاع ته ولاړ شي، چيرته چي په اتموسفير کي د اکسيجن قسمي فشار د نارمل له نيمائي نه هم کم وي او يا برعکس يو څوک په داسي يوه بنده محوطه کي چي هوا يي Compressed شوي وي يا د سمندر د سطحي لاندي ژوروالي کي قرار ولري او يا په يوه Pressurized Chamber کي وي چيرته چي د اکسيجن قسمي فشار د نارمل په پرتله تر لس چنده پوري لوړ وي بيا هم پدي ټولو حالاتو کي ( د اکسيجن د قسمي فشار زياتوالی او کموالی) د انساجو د اکسيجن قسمي فشار چندان نه اغيزمنيږي او هغه پدي ډول چي په ۶-۴ الف شکل کي د اکسيجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیموګلوبین بیلتون منحنی څخه ښکاري چي که سنخي $PO_2$، 60 mm Hg ته کم شي شرياني هيموګلوبين به 89% اشباع شي، کوم چي د نارمل ( 97% ) په پرتله یوازي 8% کم دی او انساج به اوس هم د پخوا پشان له هر 100 cc ويني څخه هماغه 5 cc اکسيجن ترلاسه کړي چي پدي ډول به زور وريدي ويني ته ووزي او اوس به نو د وريدي ويني د اکسيجن قسمي فشار د 40 mm Hg پرځای 32 mm Hgوي. دا د نسجی په اصطلاح سخت تغيرات دی پداسي حال کي چي سنخي $PO_2$ ښه د پام وړ ټيټ شوي وي( له 104 mm Hg څخه 60 mm Hg ته) برعکس کله چي سنخي $PO_2$ حتی 500 mm Hg ته لوړ شي، د هميوګلوبين د اشباع اعظمي فيصدي به د 97 پر ځاي 100شي یعني یوازي شي یعني یوازي 3% فرق کوی ( یو څه اندازه به د ويني د منحل اکسیجن مقدار هم لوړ شي) او کله چي دا وينه انساجو ته ولاړه شي، يوڅو سی سی اکسيجن به له لاسه ورکړي او وريدي وينه به یوازي یو څو mm Hg د نارمل حد نه لوړ $PO_2$ ولري. د پورته توضيحاتو نتيجه په ډير روښانه ډول د هيموګلوبين د نسجي اکسيجن د ثابت ساتلو په هلکه کره ثبوت وړاندي کوي.

داکسيجن او هيموګلوبين اتصال د لاندي فکتورنو پواسطه متاثره کيږي.

## 1. داکسيجن د قسمي فشار اغيزه:

هغه لمړني فکتور چي د اکسيجن او هيموګلوبين اتصال باندي غيزه کوي د اکسيجن د قسمي فشار څخه عبارت دی. د اکسيجن هيموګلوبين د تجزئي منحني (Oxygen Hemoglobin Dissociation Curve) د اکسيجن په هر قسمي فشار کي د هيموګلوبين اشباع حالت ښيئ، او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیموګلوبین مشبوع کیږي چي اکسیجن اتوم یو له هغه څلور مالیکوله د Heme سره یو ځاي شي کوم چي د هیموګلوبین په جوړښت کي شتون لري. کله چي د اکسیجن قسمي فشار د 88 mm Hg څخه لوړ وي نو ددي اکسیجن پواسطه 95 % هیموګلوبین مشبوع کیږي، او دا چي په ریوي شعریه رګونو کي د اکسیجن قسمي فشار 104 mm Hg دی نو ځکه 98 % هیموګلوبین ددي اکسیجن پواسطه مشبوع کیږي(۷-۴ش).


په نارمل استراحت حالت کي هغه وینه چي د اسکلیتي عضلاتو څخه بیرته راځي 40 mm Hg قسمي فشار لري چي ددي پواسطه 75 % هیموګلوبین مشبوع کیږي او پدي ترتیب 23 % د هیموګلوبین سره نښتی اکسیجن ازادیږي، چي دا اندازه دیته کفایت کوي چي نوموړی اکسیجن نسجونو ته نفوذ وکړي. خو کله چي انسان شدید تمرینات تر سره کوي نو په ویني کي د اکسیجن قسمي فشار حتی تر 15 mm Hg پوری رسیږي، چي ددي پواسطه 25 % هیموګلوبین مشبوع کیږي، اوپدي ترتیب 73 % اتصالي اکسیجن ازادوي. نو کله چي اکسیجن ته ضرورت زیات شي نو په ویني کي د اکسیجن قسمي فشار کمیږي او دا ددي سبب ګرځي چي زیاته اندازه اکسیجن ازاد شي.

## 2. د pH اغیزه:

دوهم فکتور چي د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون باندي اغیزه کوي د ویني د pH څخه عبارت دي، چي نوموړی فکتور ددغه پیوستون سره مستقماً متناسب دي چي د ویني د pH په ډیروالي سره د اکسیجن او هیموګلوبین ترمنځ پیوستون ډیریږي، او د ویني د pH په کمښت سره دغه پیوستون کمیږي. دا چي ولي دا تغیر منځته راځي علت ئي داسي بیانوؤ چي: دویني pH کموالي په حقیقت کي په وینه کي د هایدروجن د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایون زیاتوالی دي چي د هایدروجن ایون زیاتوالي ددي سبب ګرځي چي د هیموګلوبین د پروتیني برخي سره یو ځاي او ددي پروتین دري بُعده جوړښت ته تغیر ورړي، چي دا تغیر بیا ددي سبب ګرځي چي د هیموګلوبین او د اکسیجن د پیوستون په لاره کي خنډ پیداکړي خو کله چي بیا د ویني pH لوړ شي نو د هایدروجن ایون کموالي باندي دلالت کي، او ددي ایون کموالي بیا د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون د مخي خنډ له منځه وړي. داچي دا تاثیر لمړي ځل لپاره د Christian Bhor پواسطه و څیړل شو نو ځکه دغه د pH اغیزه د Bhor effect پنامه یادیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## 3. د کاربن داي اوکسایډ د قسمي فشار اغیزه:

دریم فکتور چي د اکسیجن او هیموګلوبین په پیوستون باندي اغیزه کوي د کاربن داي اوکسايد د قسمي فشار څخه عبارت دی، چي دا فکتور ددي پیوستون سره معکوساً متناسب دی، پدي معني چي د $PCO_2$ په ډیربښت سره د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون وړتیا کمیږي او د $PCO_2$ په کمښت سره بیا دا وړتیا زیاتیږي. دا فکتور په غیر مستقیم ډول سره د pH په تغیر سره د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون باندي اغیزه کوي داسي چي: دویني په RBC کي یو انزایم د Carbonic Anhydrase پنامه شتون لري چي دا انزایم یو رجعي تعامل په لاندي ډول کتلایز کوي (۸-۴ شکل).


$$CO_2 + HOH \rightleftharpoons H_2CO_3 \rightleftharpoons H^+ + HCO_3^-$$

نو کله چي $PCO_2$ لوړ شي نو زيات شمير هايدروجن ايونونه توليديږي چي د pH د کمښت سبب ګرځي او pH کمښت د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون د کمښت سبب ګرځي، خو برعکس د $PCO_2$ کموالي د هایدروجن د ایونو دکموالي سبب ګرځي چي دا بیا د pH د ډیربښت سبب ګرځي او د pH د ډیربښت سره د اکسیجن او هیمو ګلوبین پیوستون زیاتوالي پیدا کوي.

نو کله چي وینه دنسجي شعریه رګونو څخه تیریږي دلته کاربن داي اوکسايد ویني ته داخلیږي، او د ویني د کاربن داي اوکسايد اندازه لوړیږي نو ځکه پدغه ځاي کي هیموګلوبین ډیر اکسیجن له لاسه ورکوي نسبت هغه ځاي ته چیرته چي کاربن داي اوکسايد نه وي، او کله چي وینه سږو ته راستنه شي نو دلته کاربن داي اوکسايد د شعریه رګونو څخه هوائي کڅوړو ته انتقالیږي او په وینه کي د کاربن داي اوکسايد

(c) ketabton.com: The Digital Library


اندازه کمېږي او دا ددي سبب ګرځي چي د اکسیجن یو ځاي والي د هیموګلوبین سره زیات شي.




## .4 حرارت:

څلورم فکتور چي د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون باندي اغیزه کوي، هغه د حرارت درجه ده، چي د حرارت په زیاتوالي سره دا پیوستون کمښت پیدا کوي او دحرارت د درجي په کموالي سره دا پیوستون قوي کیږي. هرکله چي حرارت درجه لوړه شي نو د حجري فعالیت هم ډیریږي، او زیات اکسیجن ته ضرورت پیداکیږي. خوکله چي د حرارت درجه ښکته شي د حجري فعالیت هم کمیږي او کم اکسیجن ته ضرورت لیدل کیږي(۹-۴ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library





هرکله چي د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون کمزوري شي نو د اکسیجن هیموګلوبین تجزئي منحني ښي خواته بیځایه کیږي او پدي ترتیب زیات اکسیجن د هیموګلوبین څخه ازادیږي. د تمرین په وخت کي د کاربن داي اوکساید او لکتیک اسید د تجمع او د حرارت د درجي د زیاتوالي له وجي دغه منحني ښي خواته ځي. چي پدغه وخت کي تقریباً 75-85 % پوري اکسیجن د هیموګلوبین څخه ازادیږي. خو د بلي خوا چي په سږو کي د کاربن داي اوکساید او لکتیک اسید تجمع کمه او حرارت درجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکته ده نو ځکه د اکسیجن هیموګلوبین تجزئي منحني يي چپ خواته ځي اوپدي ترتيب د اکسيجن او هيموګلوبين د پيوستون لپاره ډيره زمينه مساعديږي(۹-۴ش).

په استراحت حالت کي د ويني هر 100 ml پواسطه 5 ml اکسيجن انتقاليږي. او دا چي دقلبي دهاني ټوله اندازه 5000 ml ده نو پدي ترتيب په يوه دقيقه کي 250 ml اکسيجن انتقاليدلاي شي. خو د تمرين په وخت کي چي اکسيجن ته زيات ضرورت حس کيږي نو ځکه 15 چنده يي انتقال اندازه هم لوړيږي، يعني د تمرين په وخت کي د اکسيجن د انتقال اندازه 3750 ml پوري لوړيږي خو هغه لوبغاړي چي ډير زيات تمرين کوي په دوي کي د اکسيجن د انتقال اندازه په يوه دقيقه کي تر 5000 ml پوري لوړيدلاي شي(۹-۴ ش).



(c) ketabton.com: The Digital Library

## .5 د BPG (DPG) اغیزه:

پنځم فکتور چي د اکسیجن او هیمو ګلوبین پیوستون باندي اغیزه کوي د BPG (2,3 Bisphogycerate) څخه عبارت دی، چي داهغه مواد دي چي په RBC کي د انرژدي د تولي په منظور د ګلوکوز د تجزئي څخه منځته راځي او بیا د هیموګلوبین سره وصلیږي او دا وصلیدنه د اکسیجن د پیوستون مانع سبب ګرځي. نو کله چي BPG کم وي د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون قوي او که BPG زیات وي نو داکسیجن او هیموګلوبین پیوستون کمزوري وي.

هغه خلک چي په لوړو ارتفاعاتو کي اوسیږي د BPG اندازه یي زیاته وي نو پدي ترتیب پدي خلکو کي د اکسیجن او هیموګلوبین پیوستون هم کمزورې وي او اکسیجن ډیر ازادیږي.

هغه وینه چي د بدن څخه بهر ساتل کیږي د BPG مقدار ئي کمیږي، نو ځکه د Transfusion عمل په وخت باید ددغه موادو د غلظت ثابت ساتل ضروری دي.


## .6 د کاربن مونو اوکساید اغیزه:

شپږم فکتور چي د اکسیجن او هیموګلوبین په پیوستون باندي اغیزه کوي د کاربن مونو اوکساید څخه عبارت دی.

دا چي کاربن مونو اوکساید د هیموګلوبین په هماغه ځاي پوري نښلی چیرته چي اکسیجن وی، ځکه نو باید د ځان په خاطر اکسیجن بیځایه کړي، او دا کار کولی هم شي، ځکه چي د کاربن مونو اوکساید د یو ځاي کیدو امکانات له هیموګلوبین سره د اکسیجن په نسبت 250 ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات دی، کوم چي په ۴-۱۰ شکل کي په کاربن مونو اوکساید-هیموګلوبین تجزئي منحنی کي ښکاري.




**۴-۱۰ شکل**

دا شکل عیناً لکه د اکسیجن هیموګلوبین تجزئي منحنی پشان دی، یوازی په دومره فرق چي دلته د کاربن مونو اوکساید فشار د $^{1}/_{250}$ په واحد اکسیجن هیموګلوبین تجزئي منحنی په پرتله ښودل شوي دی. بنا پردي په اسناخو کي د کاربن مونو اوکساید قسمي فشار د 0.4 mm Hg په اندازه، چي د نارمل سنخي $PO_2$ له $^{1}/_{250}$ می برخي سره سمون خوری، د همدغه نارمل سنخي $PO_2$ (104 mm Hg) په اندازه زور او قوت لري، ځکه نو په همدغو فشارونو سره نیم هیموګلوبین د کاربن مونو اوکساید او پاتي نیم هیموګلوبین د اکسیجن په وسیله اشغالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که $PCO_2$، 0.6 mm Hg ته لوړ شي نوپه حجروبه اغیزه وکړی. که خپلو توضیحاتو ته ښه ځیر شو نو پوه به شو چي په کاربن مونو اوکساید مسموم ناروغان د خالص اکسیجن پواسطه تداوی کیږي، ځکه چي اکسیجن د کاربن مونو اوکساید پواسطه بیځایه کیږي همداسي کولاي شو چي د اکسیجن پواسطه کاربن مونو اوکساید بیځایه کړو، خو د یادوني وړ ده چي د خالص اکسیجن پواسطه د تداوئ په وخت کي باید 5% کاربن ډای اوکساید هم شتون ولري ځکه چي کاربن ډای اوکساید د تنفسي مرکز لپاره تر ټولو غوره تنبه ده، چي د سنخي تهوي (Pulmonary Ventilation) د زیاتوالی سبب ګرځي او دا کار بیا په خپل وار د سنخی کاربن مونو اوکساید د ښکته کیدو لامل وګرځي.

دا ګډه (Oxygen – Carbon Dioxide Treatment) د کاربن مونو اوکساید د تسمم په واقعاتو کي له ويني څخه د کاربن مونو اوکساید د لیري کولو عملیئ ته 10 چنده سرعت ورکوي (نظر هغه حالت ته چي دا ډول یي درملنه ونشي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رشیمی هیموګلوبین
# Fetal Hemoglobin

هرکله چي د رشیم وینه د پلاسنتا څخه تیریږی، نو پدغه ځاي کي اکسیجن د مور له وینی څخه د رشیم وینی ته او کاربن ډای اوکساید د رشیم له ویني څخه د مور ویني ته انتقالیږي. د رشیمي هیموګلوبین د اکسیجن د رانیولو لپاره نسبت د مور هیموګلوبین ته ډیر لیوال دی او دا ځکه چي:

1) د رشیمی هیموګلوبین غلظت د مور د هیموګلوبین په نسبت 50% لوړ دي.

2) درشیمی هیموګلوبین مور له هیموګلوبین سره فرق کوي. د رشیم د اکسیجن هیموګلوبین تجزئي منحنی د مور د اکسیجن هیموګلوبین د تجزئي منحني چپ خواته واقع ده، نو پدي ترتیب د رشیمي هیموګلوبین په یو $PO_2$ کي د مور د هیموګلوبین په نسبت ډیر هیموګلوبین لري.

3) BPG د رشیم په هیموګلوبین باندي کمه اغیزه لري، پدي ترتیب BPG د اکسیجن د ازادیدو سبب نه ګرځي.

4) د $CO_2$ انتقال د رشیم ویني څخه د مور ویني ته ددي سبب ګرځي چي د رشیم د اکسیجن هیموګلوبین تجزئي منحنی د مور د اکسیجن هیموګلوبین د تجزئي منحنی چپ خوا کي واقع شي، او په عین وخت کي د مور دغه منحنی ښی خواته انتقال شي. نو پداسی حالت کي به د مور هیموګلوبین ډیر اکسیجن له لاسه ورکړی او رشیمي هیموګلوبین به د ډیر اکسیجن د رانیولو وړتیا ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کاربن ډای اوکساید انتقال
# Transport of Carbon Dioxide

د نسجونو څخه $CO_2$ په زیاته پیمانه په لاندي دریو طریقو سره سږو ته وړل کیږي:

1) 7% په منتشر شکل ( Dissolved Form).
2) 30% د Carbamino مرکبونو په شکل.
3) 63% د بای کاربونیتونو په شکل.

چي اوس ئي هر شکل بیل بیل په تفصیل سره ترڅیرنی لاندي نیسو.

## 1) په منتشر شکل سره د کاربن ډای اوکساید انتقال:

هرکله چی کاربن ډای اوکساید ویني ته نفوذ وکړي نو د یو عادی محلول په ډول د ویني پلازما ته انتقالیږي، چی د پلازما کاربن ډای اوکساید تقریباً 3 $^{ml}/_{dc\ lit}$ پدغه شکل انتقالیږي، چی دا اندازه د وینی ټول کاربن ډای اوکساید 30% جوړوي.

## 2) د کاربن ډای اوکساید انتقال د Carbamino مرکبونو په شکل:

تقریباً د وینی د ټول کاربن ډاي اوکساید په سلو کي 30 پدغه طریقه انتقالیږي. کاربن ډای اوکساید د هیموګلوبین او یا د پلازما د پروتینو سره یو ځاي کیږي او د Carbamino مرکبونه جوړوي، که چیرته کاربن ډاي اوکساید د هیموګلوبین سره یوځاي شي د Carbamin

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hemoglobin اویا د carba-hemoglobin پنامه یادیږي، او که چیرته کاربن ډاي اوکساید د پلازما د پروټینو سره یو ځاي شي نو د Carbamino Protein پنامه یادیږي، چي دی دواړو ( Carba-hemoglobin او Carbamino Protein) ته په مجموع کي Carbamino Compounds وائي.

هرکله چي په نسجونو کي کاربن ډاي اوکساید د پلازما د پروټینونو او هیموګلوبین سره یو ځاي شی، نو دا پیوستون بیرته په سږو کي له منځه ځي، نو پدي اساس وایو چي د کاربن ډاي اوکساید پیوستون د پلازما د پروټینو او هیموګلوبین سره یو رجعی پیوستون دی. هغه هیموګلوبین چي اکسیجن یي له لاسه ورکړی وی نسبت هغه هیموګلوبین ته چي اکسیجن لري په زیاته اندازه د کاربن ډاي اوکساید د رانیولو وړتیا لري چي دیه Haldane Effect وائي.

هغه اندازه کاربن ډاي اوکساید چي د هیموګلوبین پواسطه انتقالیږي، نسبت هغي اندازی ته چي د پلازما د پرټینونو پواسطه انتقالیږي ډیر زیات دی، او دا ځکه چي د هیموګلوبین اندازه د پلازما د پروټینو په نسبت ډیره زیاته ده.

## 3) د کاربن ډای اوکساید انتقال د بای کاربونیټ په شکل:

تقریباً د ویني د مجموعی کاربن ډای اوکساید په سلو کي 63 پدغه شکل د نسجونو څخه انتقالیږي. داسی چي هر کله کاربن ډای اوکساید د نسجونو څخه ویني ته تیر شي نو لدي ځاي څخه بیا RBC کي د اوبو سره یو ځاي کیږي او د کاربونیک اسید پنامه یو بي ثباته مرکب

(c) ketabton.com: The Digital Library


جوړوي، دا چې پدغه ځاي کي د Carbonic Anhydrase پنامه یو انزایم هم شتون لري نو ځکه دا تعامل د پلازما په نسبت 200-300 چنده ژر اجرا کیږي، چي دغه مرکب ډیر ژر په باي کاربونیت او هایدروجن ایون باندي تجزیه کیږي، د RBC په داخل کي د زیات مقدار باي کاربونیتونو تولید ددي سبب ګرځي چي د RBC په داخل کی ئي غلظت لوړ شي او بهرته نفوذ وکړي.

*a) د کلوراید ایون تیریدلو پدیده ( Hamburger Phenomenon):*

دا چي د وینی په پلازما کی په زیاته اندازه سودیم کلوراید د $Na^+$ او $Cl^-$ پشکل شتون لري، نو هرکله چي د RBC د داخل څخه په زیاته اندازه بای کاربونیتونه چي د منفی چارج له ځانه سره لری بهرته راوځي، نو د الکترولیکی مساوات د تینګښت په خاطر باید د کلوراید ایون چی هم د منفی چارج لرونکي دی د RBC داخل ته انتقال شی، چي دغه پدیدی ته Chloride Shifting یا د Hamburger Phenomenon وائي.
پدغه ځای کی Band 3 Proteins د یو Antiport Pump ( یو ډول موادو داخلول او په مقابل کي د بل ډول موادو اوستلو پمپ) په حیث دنده ترسره کوي، چي د RBC څخه د یوی خوا بای کاربوني راډیکلونه اوباسی او د بلی خوا څخه د کلوراید ایونونه را داخلوي. بای کاربونیتونه د سودیم د ایونو سره یو ځای کیږي او د سودیم بای کاربونیت په شکل تر سږو پوري درومی، او هایدروجن ایون ئي د بفر محلول په تهیه کولو کي ونډه اخلي( ۱۰-۴ شکل). هرکله چي دا وینه هوائي کڅورو ته ورسیږي نو سودیم کاربونیت ئي بیرته په $Na^+$ او $HCO_3^-$ باندي تجزیه کیږی، چي بای کاربونیت ئي RBC ته داخلیږي او په مقابل کی د RBC څخه کلوراید راوځی او د سودیم سره یو ځاي کیږي، چیدغه بروسی ته Reverse Chloride Shifting وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه وخت کی اکسیجن هم د RBC داخل ته ننوځی او دا اکسیجن د هیموګلوبین څخه د هایدروجن ایون ازادوی، چې دا د هایدروجن ایون د بای کاربونیت سره یو ځاي کيږی او کاربونیک اسید جوړوي، چې دا اسید بیا په اوبو او کاربن ډای اوکساید باندی تجزیه کیږي، او کاربن ډای اوکساید ئي بهر ته ازادیږي (۱۱-۴ شکل).




۱۱-۴ شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کاربن ډای اوکساید او د وینی pH:

د وینی pH د پلازما د pH له مخي محاسبه کيږي، نه د RBC د pH له مخی. په پلازما کي کاربن ډای اوکساید د اوبو سره تعامل کوي او کاربونیک اسید جوړوی، چي دا تعامل د Capillary Endothelial Cell د سطحی د Carbonic Anhydrase انزایم پواسطه چټکتیا پيدا کوي، دا کاربونیک اسید بیا په هایدروجن ایون او بای کاربونيت باندي بدليږي، چي د هایدروجن ایون تولید د pH دښکته کیدو سبب ګرځي. نو په نتیجه کي وایلای شو چي د کاربن دای اوکساید د ډیرښت له وجی pH ښکته او د کمښت له وجی ئي pH لوړيږي. چي تنفسی سیستم د وینی د کاربن ډای اوکساید د اندازی د کنترول په اساس pH کنترولوی، چی دا ددی سیستم د عمده دندو له جملی څخه شمیرل کيږي.

په Hyperventilation کي د پلازما کاربن ډای اوکساید اندازه کميږی او د وینی pH لوړيږي، خو په Hypoventilation کي بیا د پلازما د کاربن دای اوکساید اندازه زياتيږی او د وینی pH کميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل

# دتنفسي سیستم کنترول
# Regulation of Respiratory System

## ریتمی تهویه
## Rhythmic Ventilation

ریتمی تهویه هغه تهویه ده چي د وخت په منظمو فاصلو کي په منظمی فریکونسی سره ترسره شي.

د تهوئي د ریتم کنترول د هغو نیورونونو پواسطه چي په Medulla Oblongata کي شتون لري صورت نیسي، چي دا نیورونونه بیا تنفسي عضلی تنبی یا نهی کوي. د زیاتو تنفسی عضلی الیافو فعالیدل او ددی عضلی الیافو د تنبی ډیربښت ددی سبب ګرځي چي تنفسی عضلی په قوي ډول تقلص وکړي او د تنفسی شدت لوړ کړي.

دتنفس فریکونسی او Rate د تنفسی عضلو د تنبی دفریکونسی پواسطه تعینیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتنفس تنظیم

## Regulation of Respiration

تنفس چي یوه عکسوی پروسه ده او کیدای شي چي په ارادی ډول هم تر یوه وخته ( تقریباً 40 ثانیي) پوری کنترول کیداي شي، چي دغه عمل زیات تکرارول ددي سبب ګرځي چي د ارادی کنترول وخت اوږد شي.

د تمرین او احساساتی حالتون کي د تنفس شدت او شمیر لوړیږي، خو د استراحت او خوب په حالت کی بیا د تنفس فریکونسی و شدت کمیږي.

تنفس د لاندی دوو مکانیزمونو پواسطه کنټرولیږي.

1. Nervous or Neural Control of Ventilation
2. Chemical Control of Ventilation

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 1) د تهويي عصبي کنترول (Neural Control of Ventilation):

دغه ميکانيزم تنفس د عکسي پواسطه کنترولوي، چي محتويات ئي په لاندي ډول سره ذکر کوؤ:

- ✓ Respiratory Centers
  - ○ Medullary Center
    - ■ Inspiratory Center
    - ■ Expiratory Center
  - ○ Pontine Centers
    - ■ Pneumotaxic Center
    - ■ Apneustic Center
- ✓ Respiratory Nerves
  - ○ Afferent Nerves
  - ○ Efferent Nerves

### A. تنفسي مرکزونه ( Respiratory Centers ):

تنفسی مرکزونه د نيورونونو هغه ګيډی ده چي د تنفس ريتم، شدت او شمير د کنترول مسوليت لري. هر مرکز د دماغی ساقی ( Brain Stem ) په دواړو خواو کی قرار لري او د همدي موقعيت له مخی په دوو ډلو ويشل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

a. Medullary Center:

دا مرکز بیا په دوو برخو ویشل شوی دی.

i. *Inspiratory Center :* دا مرکز د Medulla Oblongata په علوی او خلفی برخه کی موقعیت لري چي ددغه مرکز نیورونونه د Tractus Solitarius Nucleus جوړوی. دغه مرکز د ساه اخستنی پروسه تر تاثیر لاندي راوړی نو ځکه کله چي تنبی شی د ساه اخستنی د عضلاتو د تقلص او د یوی اوږدی ساه اخستنی سبب ګرځي. دد ی مرکز Tractus Solitarius هستی ته د Baroreceptors، Chemoreceptors او Pulmonary Receptors څخه سیالی د Vagus او Glossopharyngeal اعصابو پواسطه راځي.

ii. *Expiratory Center :* دغه مرکز د Medulla Oblongata دواړو خواو ته د Inspiratory Center قدامی او وحشی برخو کی موقعیت لري، نو ځکه دغه ګروپ نیورونونو ته Ventral Respiratory group وائي. دغه نیورونونه د Ambiguous او Retroambiguous هستی جوړوي. دا مرکزد عادی تنفس په وخت کي غیر فعاله وي او دا ځکه چي په عادي تنفس کي ساه اویستنه یوه Passive پروسه ده، خو کله چي عمیق تنفس اجرا شی او د Inspiratory Centers نهی شی نو بیا دا مرکز په فعالیت شروع کوي. چي ددی مرکز د تنبي په نتیجه کي د ساه اویستونکي عضلاتو تقلص صورت نیسي او د یوي اوږدی ساه اخستنی لپاره زمینه مساعدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**:Pontine Center .b**

دغه مرکز په Pons کي قرار لري چي په لاندي برخو ویشل کیږي.

.i ***:Pnemotaxic Center*** دامرکز د علوی Pons د Reticular Formation په علوي وحشی برخه کی شتون لري. دا ددی مرکز نیورونونه د Parabrachialis هسته جوړوي، دغه مرکز د Medullary Center د Inspiratory Center برخی د کنترول پواسطه د تنفس دوام ( Duration) کنترولوی، او همدارنګه په غیر مستقیم ډول د تنفس د دوام په کمښت سره د تنفس Rate هم لوړ وی، او دا ځکه چي هرکله د ساه اخستنی وخت کم شو نو طبیعی ده چي د ساه اویستنی وخت باید هم راکم شی او په نتیجه کی د تنفس Rate لوړیږي.

.ii ***:Apneustic Center*** دامرکز د سفلی Pons د Reticular Formation کی موقعیت لري چي دغه مرکز په Inspiratory Center باندي اغیزه کوی او د ساه اخستنی شدت لوړوي بر علاوه لدي چي ددي مرکز د تنبی په وجه د ساه اخستنی دوام زیاتیږي، یوه کمه اندازه په ستمیدلي شکل سره د ساه اویستنی پروسی ته زمینه برابروي، نو ځکه دد ي مرکز د تنبی په وجه چي کوم تنفس صورت نیسی د ستمیدلی تنفس ( Gaspe type of Respiration ) پنامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## B. اعصاب ( Nerves ):

a. <u>*مرسله اعصابو تګ لوری (Efferent Nerve Pathway):*</u>

اعصاب د تنفسي مرکزونو څخه ښکته د ستون فقرات د Lateral Columns قدامی برخی ته راځي، او پلاخره دغه اعصاب د Cervical او Thoracic سیګمنټونو په Anterior Horn Cell باندي خاتمه پیداکوي له Spinal Cord دحرکی نیورنو ( Motor Neurons) څخه دوه درجنه اعصاب راوځي چي یو ئي Phrenic Nerve دي چي دیافرام ( Diaphragm) ته ځی او بل ئي Intercostal Nerve دی چي بین الضلعی عضلاتو ته درومی.

د Vagus اعصاب هم د تنفسی مرکزونو د مرسله عصبی الیافو څخه یو کم مقدار په خپل ځان کي لري.

**۱-۵ شکل**



(c) ketabton.com: The Digital Library

b. *موصله اعصابو تګ لوری (Afferent Nerve Pathway):*

تنفسي مرکزونو ته سیالی د Vagal Nerve او Glossopharyngeal Nerve د شعباتو پواسطه د Baroreceptors او Chemoreceptors څخه راځي. همدارنګه د Vagus اعصابو د الیافو پواسطه هم د سږو د Stretch د اخذو څخه هم سیالی ورته راځي. داچي تنفسي مرکزونو ته د بدن له مختلفو برخو څخه سیالي رادرومی، نو ځکه دغه مرکزونه صدری قفس او سږو د تعادل او حرکتونو د کنترول په برخه کي د پام وړ اهمیت لري.

## د تنفسی مرکزونو همغږي او د ریتمی تهوئي جوړیدنه

## Intergration of Respiratory Centers & Generation of Rhythmic Ventilation

1) *د Medullary Center د همیت څیړنه:*

a. *Inspiratory Ramp*

مخکی لدي چي په ساه اخستنی Ramp او د یو ریتم لرونکی تهوئي په اړه وغږیږو لازمه ده چي د Ramp په لغوی معنی وپوهیږو: Ramp یو انګلیسی کلمه ده چي د مایلی لاری او په تدریجی ډول د پورته کیدو معنی لري.

اوس راځو دیته چي څنګه یو ریتم لرونکی تنفس ایجادیږی او پدی ایجاد کي د تنفسی Ramp څه اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عمومي ډول سره وايو چې تنفسی مرکزونه د يو نارمل ريتم لرونکی تنفس د سرته رسول مسوليت لري، ددې مرکزونو نيورونونه د وخت په منظمو فاصلو کې سيالي ايجادوی چې دا سيالی بيا د يو ريتمی تنفس سبب ګرځي.

Medullary تنفسی مرکزونه د وينی د غازونو د اندازی، د ويني د حرارت درجي، د عضلاتو او بندونو د حرکتونو څخه په دوامدار ډول د خپلو اخذو پواسطه تنبی کيږي. خو ساه اويستنه هغه وخت شروع کيږي چې هرکله ددی ټولو سيالو په نتيجه کې يو Action Potential ايجاد شي، دا Action Potential ډير کم شدت لري نو ځکه يو کم تعداد نيورونونه فعاليږي، لدې څخه وروسته د Action Potential د شدت په زياتيدو سره په تدريجی ډول نور او نور نيورونونه فعاليږي. چې دغه ډول د سيالو توليد تر دوه ثانيو پوری دوام کوي، چې د تنفس دغه ډول پروسه د Inspiratory Ramp پنامه يادېږي.

د دوه ثانيو وروسته Ramp Signals په ټپه دريږي او تر راتلونکی دريو ثانيو پوری نه تر سترګو کيږي چې په دغه وخت کې د ساه اويستنی پروسه تر سره کيږي. له دري ثانيو وروسته بيا د Ramp Signal راڅرګنديږي او ذکر شوي پروسه په مکرر ډول سره تکراريږي.

په يو نارمل تنفس کی د ساه اخستنی په وخت کې د ساه اخستنی مرکزونوپواسطه د ساه اويستنی مرکزونه نهی کيږي، او همداسی د ساه اويستنی په وخت کی د ساه اويستنی مرکزونو پواسطه د ساه اخستنی مرکزونه نهی کيږي. چې دا دواړه عملونه د Medullary تنفسی مرکزونو پواسطه کنتروليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2) *د Pontine مرکز د اهمیت څیړنه:*

Medullary تنفسی مرکزونه د Pontine مرکزونو تر تاثیر لاندي خپل عمل تر سره کوي، د Apneustic مرکز د ساه اخستنی مرکز تنبی کوی او د یو اوږدی ساه اخستنی لپاره زمینه مساعدوي، خو له بلی خوا Pneumotaxic مرکز د Apneustic مرکز د نهی سبب ګرځی او د یوي اوږدی ساه اخستنی مخه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه فکتورونه چي تنفسی مرکزونه متاثره کوي
# Factors Affecting Respiratory Centers

هغه فکتورونه چی تنفسی مرکزونه تر خپل تاثیر لاندی راولی په لاندی ډول تری یادونه کوو.

1) *د Higher Center څخه سیاله:*

Ant. Cingulate Gyrus، د Corpus Callosum د Genu برخه، Olfactory Tubercle او Orbital Gyrus د Cerebral Cortex هغه رخی دی چی د تنفس د نهی سبب ګرځي. خو د Cerebral Cortex حرکی ساحه (Motor Area) او Sylvain ساحه بیا د تنفس د شدید د زیاتوالی سبب ګرځي.

2) *د Stretch د اخذو څخه سیاله یا د Hering Breuer عکسه:*

هغه تنفسی عکسه چی د سږو له خوا تولیدیږی د Hering Breuer پنامه یادیږي. د Bronchi او Bronchioles جدارونه د Stretch اخذی لرونکی دی کوم چي د سږو د پراختیا په وخت کی عکس العمل ښیي، نو هرکله چي د ساه اخستنی په وخت کی چی هرکله سږی ښه توسع وکړی، نو دا اخذی د لسم قحفی زوج د الیافو له لاری خپلی سیالي تنفسی مرکزونو ته لیږدوی، چی د ساه اخستنی د پای او د سا اویستنی د شروع سبب ګرځي.

که چیرته دغه پورته میکانیزم ته ښه ځیر شو نو جوته به شی چي دا یو ساتندویه عکسه (Protective Reflex) دی، یعنی دسږو د زیاتی توسع مخه نیسي چي دیته Hering Breuer Inflation Reflex وائي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونى وړده چي دا عکسه هغه وخت توليديږي چي هرکله د سږو حجم د 100 ml څخه پورته شى خو په عادى ساه اخستنه کى دا عکسه غير فعاله وي.

ددغه پورته ذکرشوى عکسى معکوس حالت ته بيا Hering Breuer Deflation Reflex وائي، يعنى ددي عکسى پواسطه هرکله ساه اويستنه صورت ونيسى نو د سږو د توسع کميږي.

3) *د سږو د J اخذو څخه سياله:*

د J اخذى چي د Juxta Capillary اخذو له جملى څخه دي، دا په حقيقت کي د لسم قحفى زوج حسى نهايتونه دى چي Myline Sheet نلري او د نوعيت له مخى Type C اخذو په ډله کي راځي. دا اخذى په زياته اندازه د هوائي کڅوړو په جدارونو کي او همدارنګه په يوه کمه اندازه د Bronchi په جدارونو کي تر سترګو کيږي، چي لاندى حالاتو کي تنبى کيږي:

a. Pulmonary Congestion
b. Pulmonary Edema
c. Pneumonia
d. Overinflation of Lungs
e. Microembolism in Pulmonary Capillaries
f. Bradykanine
g. Histamine
h. Serotonin
i. Halothane
j. Phenyldiguanide

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه لا دا خبره نده څرنګنده چي دا اخذی په فزیولوژیکو حالتونو کي په تنفسی مرکزونو باندی څه اغیزی لري، خو په پتالوژیکو حالتونو کي د Hyper Ventilation مسولیت په غاړه لري.

4) *د سږو متخریشه اخذو سیاله:*

برعلاوه د Stretch او J له اخذو څخه یو بل ډول اخذی هم په سږو کي شتون لري چي د متخریشو ( Irritant ) اخذو پنامه یادیږي. دا اخذی هغه وخت تنبی کیږي کله چي د مضر موادو لکه امونیا او سلفر داي اوکساید سره مخامخ شي، چي دا اخذی بیا خپلی سیالي د Vagal اعصابو له لاری تنفسی مرکزونو ته رسوي او د Hyperventilation چي د Bronchispasm سره مل وی منځته راوړي، چي د Hyperventilation او Bronchispasm دواړه ددي سبب ګرځي چي دامضره مواد د حرکت په مقابل کي چي د هوائي کڅوړو خواته ئي کي وي خنډ جوړ کړي.

5) *د Baroreceptors سیاله:*

دا اخذی په Aortic Arch او Carotid Sinus کی شتون لري چي د وینی فشار تر اغیزی لاندي راوړی، نو ځکه وایو چي دا اخذی په غیر مستقیم ډول د تنفس کنترول په غاړه لري. په فزیولوژیکو حالتونو کي دغه اخذی په تنفس باندی کوم خاص تاثیر نلري (۲-۵ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

6) د *Chemoreceptors سیاله:*

دغه اخذی د تنفس په تنظیم کي د پام وړ ونډه لري، چي په اړه به وروسته معلومات وړاندی شي (۲-۵ شکل).

7) د *Proprioceptors سیاله:*

دا هغه اخذی دی چي د بدن د Position د تغیر په نتیجه کي فعالیږي او په بندونو، اوتارو ( Tendons) او عضلاتو کي شتون لري. چي ددي اخذو پواسطه سیالی Cerebral Cortex ته او لدی ځایه تنفسی مرکزونو ته انتقالیږي او د تنفس د عملیي د تغیر سبب ګرځي (۲-۵ شکل).

8) د *Thermoreceptors سیاله:*


دا اخذی د Somatic Afferent اعصابو پواسطه سیالي Cerebral Cortex ته لیږدوی او لدي ځاي څخه سیاله تنفسی مرکزونو ته ځي او بلاخره د Hyperventilation سبب ګرځي.

9) د *Pain Receptors سیاله:*

هغه اخذی دي چي د درد پواسطه فعالیږی او خپلی سیالي د Somatic Afferent اعصابو له لاری Cerebral Cortex ته انتقالوی، او لدي څخه تنفسی مرکزونو ته سیاله انتقالیږي او د Hyperventilation سبب ګرځي (۲-۵ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-۵ شکل




## 2. د تهوئي کیمیاوی کنترول :

لکه څنګه چي مو مخکی ووایل چي تهویه د عصبی او کیمیاوي میکانیزمونو پواسطه کنترولیږي، چي لدي جملي څخه د عصبی میکانیزم په اړه په تفصیل سره وغږیدو، اوس غواړو هغه د تهوئي کیمیاوی کنترول میکانیزم په اړه خبري وکړو.

دتنفسي سیستم پواسطه په ویني کي اکسیجن او کاربن دای اوکساید او همدارنګه د ویني pH کنترولیږي، خو که چیرته هر یو له


(c) ketabton.com: The Digital Library

دویو ځخه له خپل نارملی اندازی لوړ او ښکته شي نو د تنفسی سیستم باندي د پام وړ اثر اچوي. چي دا تاثیرپه عصبی مکانیزم باندي کوم چي د یو ریتمی تهویه منځته راوړی اوستوار دی.

1) *:Chemoreceptors*

هغه اخذی دی چي د وینی کیمیاوی موادو په مقابل کی عکس العمل ښيي. دغه اخذی د موقعیت له مخي په دوو ګروپونو ویشل شوی دي، یو ئي Central Chemoreceptors دی کوم چي په Chemosensitive ساحه کی شتون لري او د تنفسی مرکزونو سره اړیکه لري او یوائې د هایدروجن ایون په مقابل کي حساس دي. او بل ګروپ یي Peripheral Chemoreceptors دی چي په Carotid او Aortic ساحو کي موقعیت لري او د اکسیجن په مقابل کي ډیر زیات، خو د هایدروجن او کاربن داي اوکساید په مقابل کي ډیر کم حساسیت لري. تنفسی مرکزونه د Carotid ساحی سره د Glossopharyngeal اعصابو پواسطه او د Aorticساحی سره د Vagus اعصابو پواسطه اړیکه لري (۳-۵ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳-۵ شکل

Figure 41–4

Respiratory control by peripheral chemoreceptors in the carotid and aortic bodies.


2) د pH اغیزه:

دا چي Chemosensitive ساحه د Cerebrospinal Fluid (CSF) پواسطه خړوبیږي، نو ځکه د pH تغیر مستقماً ددغی ساحی د تنبی سبب نه ګرځي، او د pH پواسطه په غیر مستقیم ډول دغه ساحه متاثره کیږي، چی ددی خبری میخانیکت په لاندی ډول بیانوو:

CSF د ویني څخه Blood Brain Barrier (BBB) پواسطه جدا شوي دی، او دا چي د pH تغیر په حقیقت کي د H د ایون د غلظت تغیر دی او هایدروجن ایون له BBB څخه د تیریدو ورتیا نلري، نو ځکه واېو چي وینی pH باندي مستقیماً اثر نلري. اوس یي غیر مستقیم اثر څیرو: د وینی pH د تغیر اصلی عامل په وینه کي د کاربن دای اوکساید د غلظت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تغیر څخه عبارت دی، نو کله چي د کاربن دای اوکساید زیات شي نو دا کاربن دای اوکساید ته ځی ځکه چي د BBB څخه د تیریدو وړتیا لري، چي دلته بیا کاربن داي اوکساید د اوبو سره یو ځای کیږي او یو بی ثباته مرکب د کاربونیک اسید پنامه جوړوي، چي دا مرکب بیرته په هایدروجن ایون او بای کاربونیت باندي تجزیه کیږي، نو دا لاسته راغلی هایدروجن ایون اوس کولای شي چي په Chemosensitive ساحی باندي خپله اغیزه وښائي (۴-۵ شکل).




۴-۵ شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خود بلی خوا Carotid او Aortic ساحی بیا د ويني پواسطه خړوبيږي، او د وينی د pH تر مستقيم تاثير لاندي راځي.
د يو نارمل pH شتون د حجرو د فعاليت لپاره ضروری دی، ځکه چي د کاربن داي اوکسايد مقدار هم د pH د تغير سبب ګرځي.
تنفسی سيستم د Acid – Base توازون په ساتلو کي ستره ونډه لري، د مثال په توګه که چيرته په وينه کي د کاربن دای اوکسايد اندازه زياته شي نو دا د pH د ښکته کيدو سبب ګرځي او تنفسی مرکزون تنبی کوي چي په نتيجه کي د تنفس عمليه چټکه کيږي او د وينی pH بيرته نارمل حالت ته راځي. خو که د کاربن داي اوکسايد اندازه کمه او د اکسيجن اندازه زياته شي نو دا بيا د pH د لوړيدو سبب ګرځي او د تنفسی مرکزونو د نهی سبب ګرځي او په نتيجه کي د ويني pH نارمل اندازی ته راځي.

3) *دکاربن دای اوکسايد اغيزه:*
په وينه کي د $P_{CO2}$ د ډير کم تغير سره په تنفسی سيستم کي د پام وړ تغير منځته راځي، دا مثال په ډول که چيرته د ويني $P_{CO2}$ د 5 mm Hg په اندازه لوړ شی نو د تهوئي اندازه به د نارمل حالت څخه 100 % لوړه شي. په وينه کي د خپل نارمل حد څخه زيات کاربن دای اوکسايد ته Hypercapnia او کم ته يي Hypocapnia وايي.
کاربن دای اوکسايد مستقماً په تنفسی مرکزونو باندي اغيزه نلري، بلکی دا د pH د تغير سبب ګرځي او pH بيا په تنفسی مرکزونو باندي اغيزه کوي، چي مخکی مو پری تفصيل سره رڼا واچوله(۴-۵ شکل).


(c) ketabton.com: The Digital Library

4) <u>داکسیجن اغیزه:</u>

که څه هم د $P_{CO2}$ تغیر په زیاته اندازه په تنفسي عملیي باندي اغیزه غورځوی، خو پدي عملیي باندي د $P_{O2}$ اغیزه هم له پامه نشو غورځولای. هغه حالت چي په هغه کي د اکسیجن مقدار د خپل نارمل حد څخه کم وی د Hypoxia پنامه یادیږي. که چیرته pH او $P_{CO2}$ دواړه نارمل وی خو په $P_{O2}$ کی د پام وړ تغیر منځته راغلی وی نو بیا هم د تنفس عملیه کی تغیر منځته راځي. د یادونی وړ ده چي په عمومی ډول د اکسیجن د اغیزه د تنفس په عملیي باندي کمه ده، خو دا اغیزه هغه وخت د کمال حد ته رسیږي چي $P_{O2}$ د خپل نارمل حد څخه 50% راکم شي.

په وینه کي د $P_{O2}$ کمښت د Carotid Body او Aortic Body د ساحو د Chemoreceptors پواسطه درک کیږي، او بیا د تنفس مرکزونو ته سیالي انتقالوی. که چیرته $P_{O2}$ ډیر زیات کم شي نو د مرګ سبب هم کیدای شي (۵-۵ شکل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهوئي باندي د ورزش اغیزه

# Effect of Exercise on Ventilation

د ورزش په وخت کي د تهوئي تنظیم رقابتی ډول سره صورت نیسی، پدی معنی چي یو فکتور هیڅکله هم ددی وړتیا نلري چي ددي ټولو تغیراتو مسول واوسیږي، او هر فکتور د فعالیت له وجی نه فعالیږی. د ورزش په وخت کي تهویه په دوو مرحلو باندی ویشل کیږي.

1) *د تهویي ناڅاپی ډیریدنه:* د ورزش په شروع کی تهویه یو ناڅاپه زیاتیږي او دا تهوئي زیاتیدنه د هغی ټولی زیاتیدنی 50% تشکلیلوي کوم چي د ورزش په وخت کي ترسره کیږي هرکله چي تهویه زیاته شوه، نو دا به د بدن په میتابولیزم او د وینی د غازونو په غلظت کي د پام وړ تغیر منځته راوړي. هغه اکسونونه (Axons) چي د Cerebrum د Motor Cortex څخه د Motor Pathway په لوری غزیدلی دی، ددي لاري په اوږدو کی د دماغو د Reticular Formation څخه یو زیات شمیر نیورونونه هم ورګدیږي، نو ځکه د ورزش په وخت کي چی اکشن پوتنشیل د اسکلیتي عضلو د تقلص لپاره لیږدول کیږي، نو یو څه یي د تنفسي مرکزونو د تنبی سبب هم ګرځي.

دبلی خوا د بندونو او اوتار (Tendons) د حرکت پواسطه Proprioceptors فعالیږي او دا هم د تنفسی مرکزونو د تنبی سبب ګرځي.

همدارنګه د دماغو د زده کړي خاصیت له مخی کله چي ورزشکار ورزش کوي نو د دماغ د تهوئي اندازی ډیروالي زده کوي او وروسته د ورزش څخه همداسی په ډیر کم تفاوت سره پاتی کیږي، نو ځکه د بنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزل شوو ورزشکارانو د تنفس rate د عادی خلکو په نسبت ډیروی، خو لدي سره بیا هم ددی خبری پوره تصدیق ندی شوي.

2) *د تهوئي تدریجی زیاتیدنه:* د ورزش د شروع څخه 4-6 دقیقی وروسته د تهوئي تدریجی زیاتیدنه شروع کیږي، او ټول هغه عاملونه پدي زیاتیدنی کي دخیل دی کوم چي د تهوئي په ناڅاپی زیاتیدنی مسولیت لرير.

که څه هم پدغه وخت کي د اکسیجن مصرف او د کاربن دای اوکساید تولید زیاتیږي، خو بیاهم په Aerobic ورزش کی د ویني $P_{O2}$، $P_{CO2}$ او pH ترمنځ نسبت ثابت وي، نولدي څخه معلومیږی چي د ویني د غازاتوتبادله او pH د تهوئي په کنترول کی کومه اغیزه نلري، خو د تهوئي د کنترول لپاره Signal کیدای شي.

د ورزش هغه اندازه چي د ویني د pH د تغیر سبب ونه گرځي د Anaerobic Threshold پنامه یادیږي. خو که چیرته د ورزش شدت د Anarobic Threshold څخه زیات شی نو بیا د اسکلیتی عضلاتو پواسطه په وینه کي لکتیک اسید تولیدیږی او دا د وینی د pH د تغیر سبب گرځي. چي بیا د Carotid Bodies د تنبی په اثر د تهوئي اندازه زیاتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعمر تاثیر په تنفسی سیستم باندی

# Effect of Aging on the Respiratory System

که څه هم د عمر زیاتوالی څخه تنفسی سیستم هره برخه لکه Vital Capacity، دتهوئي Rate او د غازاتو تبادله متاثره کیږي، خو بیا هم ورزش ددغو بدبختیو پوه څه مخه نیسي.

د عمر په زیاتیدو سره د سږو د پو او پوس کیدو وړتیا دواړه کمیږي، چي دا ددی سبب ګرځي چي Minute Ventilation فریکونسی (Rate) کم شي، نو کله چي د تهوئي Rate راکم شی نو تنفسی عضلی ضعیفه کیږي او د غضروفونو او پښتیو د شیره کیدو له وجی د صدري قفس ظرفیت کمیږي چي دا بیا پخپل وار سره د سږو د ظرفیت د کموالی سبب ګرځي. د سږو ظرفیت په حقیقت کي د عمر په زیاتیدو سره زیاتیږي نو دا چي د یو خوا د صدری قفس ظرفیت کمیږي او د بلي خوا د هوائي کڅوړو د پوښوونکی مایع سطحی کشش هم کمیږي نو دا دواړه ددی سبب ګرځي چي د سږو ظرفیت دی کم شي. خو د یادونی وړ ده چي د سږو په الاستیکی الیافو او Surfactant باندي د عمر زیاتوالي کم خاص اثر نلري.

دعمر په زیاتیدو سره د لویو Bronchioles او Alveoalr Ducts د قطر لویوالی ددي سبب ګرځي چي Dead Space زیات کړی او هغه اندازه د هوا چی د غازاتو تبادله ور سره صورت نیسی راکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. د بلی خوا د تنفسی غشا پیړوالی او د هوائي کڅوړو د جدارونو له منځه تلل هغه څه دی چي د غازاتو د تبادلی اندازه راکموي.

چي دغه پورته ټول تغیرات بلاخره د Tidal Volume د کمښت سبب ګرځي.

د عمر په زیاتوالی د سلیا، په سطحه د مخاط تجمع صورت نیسی او دا د سلیاؤ حرکت کموي، چي دا بلاخره د انتان د مداخلی او Bronchitis لپاره زمینه مساعدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم فصل

# دتنفسی سیستم پتالوژی ته یوه لنډه کتنه

# Review of Pathologic Condition

# Of Respiratory System

دتنفس د ډیرو ناروغیو د تشخیص او تداوی لپاره دا خبره ډیره ضروري ده چي شخص دی د تنفس او غازی تبادلی په فزیولوژیکو اساساتو پوه اوسي، ځنی تنفسی ناروغی د ناکافی تهوئي له کبله وی پداسی حال کي چي ځنی نوری بیا د Alveoli Capillary Membrane له لاری د خراب نفوذ له کبله او بلاخره ځنی دغه تنفسی ناروغی د سږو څخه د نسجونو په لور د ویني پواسطه د خراب انتقال له کبله وي چي د هر حالت درملنه یي ځانته اوجدا ده ځکه نو ساده او سانه نه ده چي د تنفسی عدم کفایي دی په ډیر ساه ګی سره تشخیص شي.

په تیرو څو برخو کي مو د تنفسی انامليو د څیړني ځنی میتودونه ولوستل لکه د Vital Capacity ،Tidal Volume ،Functional Residual Capacity ،Dead Space ،Physiologic Shunt او Physiologic Dead Space خو داد فزیولوژی د پوهانو دکلینکی څیړنو هسی یوه نمونه ده. ځنی نور او مهم یي په لاندي ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1) *د وينې د غازاتو pH څیړنه:*

د ریوي سیستم د نورو ډیرو مهمو ازموینو تر څنګ د وینې د $P_{O2}$، $P_{CO2}$ او pH معلومول هم د زیات اهمیت لرونکي دي. سربیره پردی چې نوموړي شیان په اسانی معلومیږي د حادو تنفسی پریشانی او Acid Base توازن په حادو خرابیو کې له مناسبی درملنی سره هم مرسته کوي. زیات شمیر نور ساده او چټک میتودونه منځته راغلي چې نوموړي کارونه په څو دقیقو کې شونی کړي، او د وینې له یو څو ځاځکو څخه زیاته هم پکی پکاریږي چې په لاندي ډول دي:

a. *د وینې د pH معلومول:*

ددې کار لپاره یو داسې ښیښه ئي pH الکترود چې په ټولو لابراتوارونو کې عام دی استعمالیږي. دا الکترود ډیر کوچنی دی، د ښیښه ئي الکترود پواسطه تولید شوي ولټیج د pH اندازه په مستقیم ډول ښيئ، چې یا مستقماً د Volt Meter Scale څخه ولوستل کیږي او یا په یو جدول باندي ثبتیږي.

b. *د وینې د $P_{CO2}$ معلومول:*

یو ښیښه یي الکترود د pH متر ددې کار لپاره کاریږي او په لاندي ډول یي استعمالوو: که د $NaHCO_3$ یو ضیعف محلول د کاربن داي اوکساید له غاز سره مخامخ شي، د کاربن داي اوکساید غاز پدې محلول کې تر هغې حلیږي تر څو یو تعادل رامنځته شي. پدغه مساوی حالت کې د محلول pH د کاربن داي اوکساید او $NaHCO_3$ د ایونونو د غلظت یوه تابع ده، چې دا تابع د Henderson Hessel Balch معادلی په ساس په لاندي بیانو:

$$pH = Log^{HCO3}/_{CO2} + 6.1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي په وینه کي د کاربن داي اوکساید پروخت بنیبنه ئي الکترود کارول کیږي نو لومړی دا الکترود د $NaHCO_3$ د یو نري محلول پواسطه چي غلظت یي معلوم وي، پوښل کیږي بیا له ویني څخه د جدا کیدو په خاطر یو نازک پلاستیکی پوښ ورکول کیږي، داسي یو پوښ چي له ویني نه محلول ته د کاربن داي اوکساید نفوذ ته اجازه ورکړي. کیدای شي د ویني یو څاڅکی او یا لږی زیاتی ویني ته اړتیا پیدا شي. دا وخت pH د شیشه ئي الکترود پواسطه مستقماً معلومیږي او کاربن داي اوکساید د پورته معادلی له مخي معلومیږي.

c. *د ویني د $PO_2$ معلومول:*

په یوه مایع کي د اکسیجن غلظت د یوي طریقي پواسطه چي Polargraphy نومیږي، معلومیږي د مورد نظر محلول او یوه وړوکی منفی الکترود ترمنځ یو برقي جریان تیریږي که د الکترود ولټیج د 0.6 ولټو څخه په زیاته اندازه د محلول له ولټیج څخه فرق درلوده، اکسیجن په الکترود باندي راټولیږی داسی چي د الکترود څخه د برق د جریان اندازه د اکسیجن له غلظت سره مستقماً متناسبه ده په کي ددي کار لپاره د Platinum یو منفی الکترود چي د $1\ mm^2$ سطحی لرونکي وي، استعمالیږي. لکه چي ومو وویل د الکترود پواسطه د وینی نه د یو پلاستیکی نازکه پردی پواسطه چي یوازی اکسیجن ته د نفوذ وړ ده، جدا شوي. کله ناکله د دري واړو یعنی pH، $P_{CO2}$ او $P_{O2}$ د ټاکنی ضرورت وي او دا کاربن سبا شونی دی، هغه هم په ډیري ساده ګي او چټکی سره مثلاً په یوه دقیقه اویا له دی نه هم په لږ وخت کي د وینی له یوه څاڅکی څخه. بناً د ویني د غازاتو او د pH تغیرات شیبه په شیبه د ناروغ په بستر کي تعقیبدلی شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

2) *د اعظیمی ضفیر معلومول:*
د ساه په ډیرو ناروغیو کي په ځانګړي ډول په سالندۍ کي د ضفیر په وخت کي د هوا په مقابل کي د هوائي لارو مقاومت لوړیږي چي کله نا کله په قابل ملاحظه ډول د ساه د سختوالي سبب ګرځي او همدي ته اعظیمي ضفیروي جریان (Maximum Expiratory Flow) وائي چي په لاندي ډول تعریفوي:
کل چي یو څوک ښه په زور سره ساه اوباسی، ضفیری هوا یي خپل اعظیمی حد ته رسیږي، داسي یو حد ته چي که نور هرڅومره زور اوقوه استعماله کړي د ضفیري هوا په اندازه کي کوم تزایدنه تر سترګو کیږي. دا اندازه هغه وخت ډیره زیاته وي کله چي سږی د هوا د زیات حجم پواسطه ډک وي. دغه په ۱-۶ شکل کی ښکاري. د همدي شکل د A برخه د هغه بهرني لوړ فشار اغیزي په سنخ او انتقالي لارو باندي ښیئ چي د صدري قفس د تراکم له کبله د غشو لورى ښيي چي همدا قوه انتقالي لارو د دواړو سنخ او Bronchioles د باندنیو برخو تراکم سبب شویده او یوازي ددي باعث ګرځي چي هوا د سنخ نه Bronchioles په لور تیله کړي بلکی په عین وخت کي د Bronchioles د کولپس کیدو سبب هم ګرځي چي دا بهر ته د هوا وتلو په مقابل کي یوه قوه ده. کله چي یو ځل Bronchioles په نسبتاً پوره ډول کولپس شي اضافي ضفیري قوه د سنخ په داخل کي د فشارد نور لوړیدو سبب کیږي چي دا کار د Bronchioles د کولپس حالت او د هوائي لاري مقاومت په مساوي ډول پرمخ وړي او ځکه نو د نوري هوا د تګ مخه نیسي. لدي کبله د فضیري قوي د یوي بحراني درجي تر څنګ یو Maximum Expiratory Flow هم شوني ده. د ۱-۶ شکل د B برخه بیا د Bronchioles د کولپس د مختلفو درجو اغیزه په Maximum

(c) ketabton.com: The Digital Library

Expiratory Flow باندي ښيئ. هغه ګراف چي دلته رسم شوي Maximum Expiratory Flow د سږو د حجم په مختلفو درجو کي په داسي حال کي ښيئ چي روغ شخص لومړی يو جبر شهيق کوي او بيا تر هغه په جدي ډول ضفير کوي چي نور يي نشی کولی. ښکاري چي د شخص Maximum Expiratory Flow د $400\ ^{lit}/_{min}$ نه لوړيږي صرف نظر لدي چي شخص څومره اضافی هڅی د ساه اويستو لپاره پکار اچوي. دا هغه Maximum Flow ده چي شخص ورته خپل ځان رسوي. همدارنګه لکه څنګه چي د سږو حجمونه کميږي ور سره په موازي ډول Maximum Expiratory Flow هم کمښت مومي. ددي کار علت داسي ديچي په پراخو شوو سږو کي برانکسونه او برانشيولونه د يو لړ عواملو له کبله قسماً خلاص پاتي کيږي او دا د هغه الاستيکي کشش له امله چي د سږو بهر خواته د سږو د ساختمانی عناصرو پواسطه ايجاديږي نو کله چي د سږی کوچني کيږي نودا جوړښتونه استرخا کوي او برانګسونه او برانشيولونه د صدر د زيات فشار له امله په ډيره اسانی سره کولپس کيږي او دا کار په پرمختللی ډول د Maximuum Expiratory Flow د کمښت زمينه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱-۶ شکل

۲-۶ شکل د Maximum Expiratory Flow د ګراف د حجم ابنارمل حالات ښيئ. داسي چي خطی ګراف يي نارمل حالت ښيئ او تر څنګ يي دوه نور نقطوي ګرافونه (Flow Volume Curves) د منقبضو سږو او د هوائي لارو قسمي بنديش ښودونکی دي. لکه چي پوهيږو په منقبضو سږو کی TLC او RV دواړه کميږي او دا ځکه چي سږي خپل نارمل حد ته نشي پراخيدای نو که حتی د امکان په صورت کي د ضفير په حالت کي هڅه هم وشي بيا همدا وخت Maximum Expiratory Flow نارمل حالت ته نه رسيږي. په منقبضو سږو کي د سږو فايبروتيک ناروغي لکه توبرکلوز او Silicosis شامل دي. پداسي حال کي چي د صدري قفس دا ډول ناروغی له Kyphoisis،Scoliosis او Fibrotic Pleurisy څخه عبارت دي. د هوائي لارو د بندښت په حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي سږی نشي کولي هوا هغسی خارج کړي لکه څنګه يي چي اخلي، ځکه چي د هوائي لارو بندښت ته تمايل د اضافي مثبت فشار پواسطه شديداً تزايد مومي کوم چي په صدري جوف کي د ضفير لپاره پکار دی. بر خلاف اضافی منفی پلورايي فشار چي په شهيق کي ايجاديږي د هوائي لاري د کشولو له امله دغه لاري خلاصی ساتی چي په عين وخت کي دا مکانيزم اسناخو ته توسع هم ورکوي، ځکه نو هوا تمايل لري چي سږو ته ښه په اسانی سره ننوزي خو وروسته په سږو کي بنديږي چي پدي ډول د مياشتو او کلونو په اوږدو کي همدا ميخانيکت د TLC او RV د لوړيدو سبب ګرځيږي. دا حالت د ۲-۶ شکل يو نسبتاً غزيدلي نقطوي ګراف پواسطه افاده شوي له يوه پلوه د هوائي لارو بندښت لو له بله پلوه د نارمل په نسبت په زيات او اسان ډول د هوائي لارو کولپس ددي سبب ګرځي چي Maximum Expiratory Flow شديداً راکمه کړي. ځيني کلاسيکي ناروغی لکه سالنډي، چي دهوائي لارو د شديد بندښت سبب ګرځي، همدارنګه د Emphysema په ځينو مرحلو کي هوائي لاری په شديد ډول بنديږي.




**۲-۶ شکل**


(c) ketabton.com: The Digital Library

3) *جبري ضفيري حياتي ظرفيت ( Vital Capacity) او جبري فضيري حجم:*

د کلينکی ريوي ټيسټونو لد ډلي څخه يو بل ټسټ چي ډير زيات د استعمال وړ هم دی همدارنګه ساده او په Spirography کی د رسميدلو وړتيا هم لري. دا ټسټ عبارت دي له FVC ( Forced Volume Capacity). ددي ازمويني نارمل ګراف د ۳-۶ شکل د A برخه کي او ابنارمل ګراف يي چي د هوايي لارو يو بندښت ښيئ د ۳-۶ شکل د A برخه کي او ابنارمل ګراف يي چي د هوايي لاري يو بندښت ئيي د ۳-۶ شکل د B په برخه کي ښکاري. د FVC د رسمولو لپاره بايد شخص لومړی يو ښه قوي شهيق وکړي (په اعظمي ډول TLC ولري) او بيا په خپل ټول توان سره په يو Spirometer کي ضفير اجرا کړي. دا ضفير ددي تر څنګ چي بايد جبري وي دوه نور شرطونه هم بايدولري يو دا چي تيز او بل دا چي حتی الامکان مکمل اجرا شي د ګراف نزولی برخه چي د وخت په مقابل کي رسم شوي FVC څخه عبارت ده. اوص که موږ د نورمال سړي او د هوائي لاري د بندښت دوه ګرافه سره پرتله کړو، وبه ګورو چي د دواړو ګرافونو د سړو د مجموعي حجمونو تغيرات کوم چي د FVC لپاره رسم شوي چندان فرق نه لري بلکي يوازي د دواړو کسانو (روغ او ناروغ) په اساسي ريوي حجمونو کي يو متوسط توپير تر سترګو کيږي، خو برعکس ددي دواړو کسانو د هغو هواګانو د اندازو ترمنځ يو ستر فرق شته چي هره ثانيه خارجيږي. په ځانګړي ډول په لومړۍ ثانيه کي. ځکه نو دا ډيره مهمه ده په لومړۍ ثانيه کي د روغو خلکو سره پرتله شي. د ۳-۶ شکل د A برخه کومه چي د يو روغ شخص لپاره رسمه شويده که د FVC فيصدی يي کومه چي په لومړي ثانيه کي Expire کيږي په Total FVC باندي وويشو ( $^{FEV1}/_{FVC\%}$ ) 80

(c) ketabton.com: The Digital Library

5 به لاسته راشي. د ۳-۶ شکل د B برخي له مخي چي يو هوائي بندښت ښيئ دا عدد ( $FEV_1$) % 47 دی خو په ځینو شدیدو تنفسي انسدادي ناروغیو لکه سالنډی کي حتی % 20 ته ښکته کیدي شي.




۳-۶ شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د تنفسی سیستم د ناروغیو څخه په لاندي ډول یادونه کوو:

# خفګي یا د تنفس دریدل

# Apena

د تنفس نه شتون ته Apnea وائي. Apnea کیداي شي چي په ارادي ډول هم منځته راشي چي دیته بیا Holid Apnea او یا Voluntary Apnea وائي، چي نارمل وخت یي د 40-60 sec پوري دي.

Apnea په لاندي حالتونو کي منځته راځي:

- ✓ په اختیاري ډول ( Voluntary Apnea) لکه د خولی او پوزي بندولو سره.
- ✓ د Hyperventilation څخه وروسته.
- ✓ د بلع کولو خفګی ( Diglutition Apnea).
- ✓ Vagal Apnea
- ✓ Adrenaline Apnea

1) *ارادی خفګی (Voluntary Apnea):*

لکه څنګه مو چي مخکي ووایل چي دا هغه خفګی ده چي فرد ئي په ارادي ډول د خولي او پوزي دوړو په بندولو سره منځته راوړوي او نارمل وخت یي 40-60 sec پوري دي چي دغه وخت ته Breath Holding Time وائي. او که چیرته په ارادي خفګي ډیر تکرار شي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت ډیریداي هم شي، چي ددي وخت اخري نقطي ته Breaking Time وائي او دا چي پدغه وخت کي د کاربن داي اوکسایډ د زیاتي تجمع له کبله تنفسي مرکزونه ښه تنبي شوي وي نو ځکه فرد د تنفس کولو لپاره مجبوریږي.
سربیره د کاربن داي اوکسايد د تجمع څخه د هايدروجن ايون غلظت هم لوړيږي او دا تنفسي مرکزونو د لا تنبه سبب ګرځي، هو همدا وجه ده چي Hyperventilation څخه وروسته د تل لپاره د خفګي ( Apnea ) منځته راځي.

2) *د Hyperventilation څخه وروسته خفګی( Apnea):*
که چیرته Hyperventilation تر سره شي نو د کاربن داي اوکسايد د غلظت د کموالي له خفګی ( Apnea) منځته راځي، چي د کاربن داي اوکسايد دا کموالي د تنفسي مرکزونو د نهي سبب ګرځي.

3) *د بلع خفګي (Deglutition Apnea):*
هر کله چي غذائي مواد د بلعوم څخه تیریږي نو ددي لپاره چي شزن ( Trachea) ته دا مواد داخل نشی نو باید د Vocal Folds پواسطه هوائي لاره بنده شي او تنفس ودرول شي، چي دغه ډول د تنفس دریدلو ته د بلع خفګي ( Deglutition Apnea) وائي.

4) *:Vagal Apnea*
په حیواناتو کي په تجربوي توګه دا په ډاګه شوي ده چي د Vagus اعصابو د تنبي په وجه تنفسی مرکزونه نهي کیږي او د خفګي منځته راتګ سبب ګرځي، چي دا خفګي د Vagal Apnea پنامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5) *Adrenaline Apnea :*

د ادرينالين د زرق کولو له وجی هم خفګي منځته راځي او دا ځکه چي ددي موادو د زرق پواسطه Barroreceptors تنبی کيږي چي دا بيا په عکسوي ډول Vassomotor Center نهي کوي خفګي منځته راځي.

تردي دمخه مو خفګي ( Apnea) د دويو د عاملينو له مخي طبقه بندي کړه او غواړو چي Apnea د کلينکی څيرنو له نظره طبقه بندي کړو. د کلينک له نظره خفګي ( Apnea) په لاندي ډولونو ويشل شوي ده.

a. *Obstructive Apnea :*

داخفګي اکثراً د هوائي لارو د بندښت له وجي منځته راځي، او دا لاری هغه وخت بنديږي کله چي تانسلونو زياته نمو وکړي چي ديته Sleep Disorder Breathing (SDB) هم وائي. دا بندښت اکثراً په چاغو خلکو کي ليدل کيږي. دا خفګی په ځينو حالتونو کي مرګوني هم وي.

b. *Central Apnea :*

دا خفګی په Premature ماشومانو کي ډير ليدل کيږي، چي د دماغو له بي نظمي له وجه منځته راځي.

c. *Mixed Apnea :*

دا خفګی د Obstructive Apnea او Central Apnea مخلوط شکل دی او اکثراً په ماشومانو کي ليدل کيږي، چي علت يي دادي چي دماغو ښه تکامل نه کړی او يا فعلاً د تکامل په حال وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Hyperventilation

قوي تنفس په وجه د ريوي تهوئي ( Pulmonary Ventilation ) ډيربښت ته Hyperventilation او يا Overventilation وائي. دا چي په Hyperventilation کي سږو ته زياته هوا ننوځي او په مقابل کي ورڅخه زياته هوا وځي نو دا سږو د ښه پراخيدو او تنګيدو سبب ګرځي. پدغه حالت کي شخص ته ګنګستوب، ناراحتی او سينی درد پيداکيږي.

اکثراً Hyperventilation د تمرين په وخت کي منځته راځي او دا ځکه چي پدغه وخت کاربن داي اوکسايد زيات توليديږي او دا د تنفسي مرکزونو د تنبي سبب ګرځي، همدارنګه مونږ په ارادي توګه هم د تنفس د شدت او شمير په زياتوالي سره Hyperventilation حالت منځته راوړلی شوي چي ديته Voluntary Hyperventilation وائي.

که چيرته د Hyperventilation تاثيرات په بدن وڅيړو نو پوه به شو چي د Hyperventilation له وجی په وينه کي $P_{CO2}$ کميږي او دا د تنفسي مرکزونو د نهی سبب ګرځي او خفګی ( Apnea) ته زمينه مساعدوی، چي وروسته د Cheyne Strokes تنفس (وروسته به په تفصيل سره رڼا واچوؤ) کولو پواسطه حالت نارمل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Hypoventilation

د تنفس د قوی کموالی له وجې د ريوي تهوئي ( Pulmonary Ventilation ) کمښت ته Hypoventilation وائي. او هرکله چي ريوي تهويه کمه شي نو طبيعي خبره ده چي سږو ته داخليدونکی هوا اندازه او بيرته ورڅخه د خارجيدونکی هوا اندازه کميږي.

Hypoventilation هغه وخت منځته راځي چي کله تنفسی مرکزونه نهي او يا د تنفسی عضلاتو قسمی Paralysis شي.

Hypoventilation له وجې Hypoxia او Hypercapnea منځته راځي، چي دا د تنفس شمير اوشدت زياتوي. خو که چيرته حالت همداسی دوام پيداکړي نو بيا د Dyspnea لپاره زمينه مساعدوي او بلاخره د سختی کمزوری، شعورضايع (Coma) او مرګ سبب ګرځي.

## د اکسيجن کمښت

## Hypoxia

نسجونو ته د کافی اندازه اکسيجن نه رسيدلو ته Hypoxia وائي. دا کلمه بايد د Anoxia څخه فرق شی، د Anoxia کلمه د اکسيجن نه شتون معنی لري چي دا حالت په ژونديو کی امکان لري. پخوا به دغه دواړه کلمی د يو مقصد لپاره استماليدی، خو اوس د Anoxia کله د استعمال څخه غورځيدلی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د Hypoxia ډولونه او علتونه

Hypoxia عموماً دخپلو لاندی څلورو عواملو پواسطه منځته راځي.

- ✓ په شرياني وينه کي د اکسيجن نسبي فشار ( Oxygen Tension).
- ✓ د ويني پواسطه د اکسيجن د انتقال ظرفيت.
- ✓ د ويني جريان سرعت.
- ✓ د حجرو پواسطه د اکسيجن استعال.

ددغو پورته څلورو عواملو په نظر کي نيولو سره سره Hypoxia په لاندی څلورو ګروپونو ويشل ده.

## 1) Hypoxic Hypoxia:

په شريانی وينه کي د اکسيجن د مقدار کمښت ته Hypoxic Hypoxia يا Arterial Hypoxia وائي. دا Hypoxia د لاندي څلورو علتونو له وجی منځته راځي.

a) <u>*په اتمو سفير کي د اکسيجن د مقدار کمښت*</u>: لکه په لوړو ارتفاعاتو کی، له يوی بندی ساحی څخه تنفس کول او يا له داسی ځايه څخه تنفس کول چي هلته د اکسيجن مقدار ډير کم وي.

b) <u>*هغه تنفسی مرضونه چي د ريوي تهوئي ( Pulmonary Ventilation) سره مل وي*</u>: لکه په Pneumothorax کی، په سالنډي ( Asthma) کی د تنفسی لارو د بندښت له وجي، په Poliomyelitis کي د ستونزمن تنفسی حرکتونو له وجی او په دماغی تورمونو ( Brain Tumor) کي د تنفسی مرکزونه د فعاليت د کمښت له وجي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

c) *هغه تنفسی مرضونه چې د سږو د وینې د $P_{O2}$ د کمښت سره مل وي:* لکه Emphysema، هوائي کڅوړو ډکيدل د يوي مايع څخّ (Pulmonary Edema, Pneumonia)، د Bronchioles د بندښت له وجی او د Surfactant دنه شتون له وجي.

Hypoxic Hypoxia کی شریانی ويني $P_{O2}$ کم وی، خو د ويني پواسطه د انتقال ظرفيت، د ويني سرعت او د حجرو پواسطه د اکسيجن د مصرفولو وړتيا نارمل وي. دا ډول Hypoxia د Oxygen Therapy پواسطه سل په سلو کي له منځه ځي.

## 2) Anemic Hypoxia :

پدغه ډول Hypoxa کي که هکسيجن په کافی اندازه شتون لري، خو وينه ددي وړتيا نلري چي دغه اکسيجن تر نسجونو پوری ورسوي.

دا Hypoxia څلور علتونه لري چي په لاندی ډول تر يادونه کوو:

a) *د سروکرویاتو ( RBCs) کمښت:* لکه خونريزی (Hemorrhage)، د هډوکو د مغزو ناروغتياوئ ( Bone Marrow Diseases) او داسی نور....

b) *په وينه کی د هیموګلوبین کمښت:* ټول هغه عوامل چی د RBC د مقدار د کمښت او يا د RBC د شکل او اندازی د تغير سبب ګرځي د هيموګلوبين د مقدار سبب هم ګرځي.

c) *د هیموګلوبین د جوړښت بدلون:* د کلورايدونو، نايتريتونو، فيري سيانايدونو او نورو پواسطه مسموم کيدنه ددی سبب ګرځي چي د هيموګلوبين اوسپنه د فرس حالت څخه په فريک حالت واړوي، چي پدغه وخت کی هيموګلوبين د اکسيجن او کاربن ډای اوکسايډ سره د پيوستون کمه وړتيا لري نو ځکه په کافی اندازه اکسيجن نسجونو ته نه انتقاليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

d) *د اکسیجن او کاربن دای اوکساید پر ځای د هیموګلوبین سره د نورو غازونو نښلیدنه:* د کاربن مونو اوکساید، هایدروجن سلفاید او نایترس اوکساید او دا ډول نورو غازونو پیوستون د هیموګلوبین سره ددی سبب ګرځي چي د هیموګلوبین د پیوستون وړتیا د اکسیجن او کاربن داي اوکساید سره راکمه کړي او په نتیجه کی کافي اندازه اکسیجن نسجونو ته نه رسیږي.

پدغه ډول Hypoxia کي وینی پواسطه د اکسیجن د انتقال ظرفیت کم، خو د اکسیجن مقدار، د ویني سرعت او د حجرو پواسطه د اکسیجن د استعمال وړتیا نارمل وي. دغه ډول Hypoxia د Oxygen Therapy پواسطه سلو کی 75 صحت مومي.

## 3) **Stagnant Hypoxia** :

پدغه ډول Hypoxia کی د اکسیجن مقدار او د ویني پواسطه د اکسیجن انتقال ظرفیت نارمل وی خو دلته د ویني سرعت کم وي او ددي وړتیا نلري چي دغه اکسیجن په خپل ټاکلی وخت کي نسجونو ته انتقال کړي، نو ځکه دا ډول Hypoxia د Hypokinitic Hypoxia پنامه یادیږي.

د ویني سرعت په لاندی حالتونو کی کمیږي.

- ✓ د زړه ارثی عدم کفایه (Congenital Heart Fialure).
- ✓ جراحی شاک ( Surgical Shock).
- ✓ خونریزی ( Hemorrahages).
- ✓ Vasospasm
- ✓ Thrombosis
- ✓ Embolism

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدغه ډول Hypoxia کی د وینی سرعت کم، خو د اکسیجن مقدار، د وینی پواسطه د اکسیجن د انتقال ظرفیت او د نسجونو پواسطه د اکسیجن د مصرف وړتیا نارمل وي. دا ډول Hypoxia د Oxygen Therapy پواسطه په سلو کی 50 واقعات صحت مومي.

## 4) Histotoxic Hypoxia :

دغه Hypoxia د سیانایدونو او سلفایدونو د تسموم څخه منځته راځي، چی دغو موادو پواسطه د حجرو Cytochrome Oxidase System وړتجادیږي، چی لدي وروسه بیا حجری ددی وړتیا نلري چي داکسیجن څخه استفاده وکړي.

پدغه ډول Hypoxia کی حجري ددي وړتیا نلري چي اکسیجن په مصرف ورسوي، خو د شریانی وینی $P_{O2}$، د وینی پواسطه د اکسیجن انتقال ظرفیت او د وینی د جریان سرعت نارمل وي. دا ډول Hypoxia د Oxygen Therapy پواسطه هیڅکله هم نه تداوی کیداي شي.

تراوسه مو د Hypoxia په علتونو او ډولونو بحث وکړو، اوس غواړو چی هغه تاثیرات وڅیړو کوم چی د Hypoxia له وجی په بدن باندی واریږي. دا تاثیرات مونږ په دوو ګروپونو ویشو، یو یي هغه تاثیرات دی چی فوراً د Hypoxia سره منځته راځی اوبل ئي هغه تاثیرات دی چی په راتلونکی کی د Hypoxia له وجی منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

A. ***هغه تاثیرات چې د Hypoxia سره سمدستي پر بدن وارديږي:***

a. *وينه باندي د Hypoxia اغيزي:* هرکله چي Hypoxia رامنځته شي نو د پښتورګو د Juxtaglomeular Apparatus تنبی کيږي او د Erythropoietin هورمون افراز زياتيږي چي دا هورمون بيا د هډوکو د مغز (Bone Marrow) تنبی کوي او د RBC جوړښت زياتيږي. د RBC د تعداد د زياتوالي په اثر د زيات اکسيجن د انتقال لپاره زمينه مساعديږي او Hypoxia له منځه ځي.

*b. قلبی وعايوئي ( Cardiovascular ) سيستم باندي د Hypoxia اغيزي:* په بتدا کی د قلبی او Vassomotor مرکزونه دتنبی له وجی د زړه ضربان، د زړه د تقلص قوه، قلبی دهانه او د ويني فشار زياتيږي، خو وروسته بيا دا ټول بيرته کميږي.

*c. په تنفس باندی د Hypoxia اغيزي:* په ابتدا کي د تنفس شمير زياتيږي او زياته اندازه کاربن داي اوکسايد بهر ته خارجيږي او Alkalemia ( د وينی pH زياتوالي) ته زمينه مساعدوي، خو وروسته بيرته د تنفس شمير کميږي او بلاخره تنفسی مرکزونو په عدم فعاليت باندي خاتمه پيدا کوي.

*d. په هضمي سيستم باندي د Hypoxia اغيزي:* هرکله چي Hypoxia رامنځته شي نو د اشتها نه شتوالی، د زړه بدوالی، استفراق کولو، د خولی د وچولي او د تندی سبب ګرځي.

*e. په پښتورګو باندي د Hypoxia اغيزي:* هرکله چي Hypoxia رامنځته شي نو د پښتورګو د Juxtaglomerular Apparatus څخه د Erythropoietin هورمون افراز زياتيږي او همدارنګه په ادرارو کي زيات مقدار قلوی موادو ته د اطراح زمينه مساعديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*f.        په عصبی سیستم باندي د Hypoxia اغیزي:* هغه Hypoxia چي ډيره شديده نه وي په عصبی سیستم عیناً هغه ډول تاثير لري لکه څنګه چي د الکولو تاثير دی چي پدغه حالت کي شخص پر ځان کنترول له لاسه ورکوي، خبري ډيري کوي، جګړه مار، بي ادبه او سپين سترګی وي. خو که چيرته Hypoxia مزمنه او شديده وي نو بيا د احساس درک فوراً له منځه ځي او که تداوی نشی نو د Coma او مرګ سبب ګرځي.

***B.       هغه تاثيرات چي په راتلونکي وخت کي د Hypoxia له عمله منځته راځي:***

دا تاثيرات د Hypoxia د دوام او شدت پوری اړه لري. دغه اشخاص ډير حساس ( Irritable) وی او د Moutain Sickness ناروغی نښی نښاني پکي تر سترګو کيږی چي دا نښی نښاني عبارت دی له زړه بدوالي، استفراق کول، Depresion، کمزورتيا او ستوماني څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اکسیجن تراپی پواسطه د Hypoxia درملنه
# Treatment For Hypoxia

# (Oxygen Therapy)

د Hypoxia درملنی لپاره تر ټولو بهترینه لاره اکسیجن تراپی (Oxygen Therapy) ده چي دا په دوو طريقو سره صورت نيسي.

- ✓ د مريض سر په يو داسي ځاي کي ايښودل چي زيات اکسيجن ولري.
- ✓ مريض ته د Mask او يا Intranasal Tube ور اچول تر څو مريض ور څخه تنفس وکړي.

## اکسيجن تراپی د نارمل اتموسفير فشار سره:

پدی طريقه کی مريض ته له يو داسی ځاي څخه د تنفس کولو هدايت کيږي چي زياته اندازه اکسيجن ولري. که څه هم د اتو ساعتو او يا لدي څخه زيات وخت پدي طريقه تنفس کولو څخه وروسته د سږو په نسجونو کي اديما منځته راځي خو بيا هم د بدن نور غړي د Hemoglobine – Oxygen Buffer سيستم د شتون له وجی سالم پاتی کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اکسیجن تراپی د لور اتموسفیر فشار سره :(Hyperbaric Oxygen)

زیات اکسیجن د لوړ اتموسفیریک فشار (2 mm Hg او یا لدي ځخه زیات) سره د Hyperbaric Oxygen پنامه یادیږي.

پدي طریقه کی د Hyperbaric اکسیجن تر پنځو ساعتونو پوري مریض ته د تنفس لپاره ورکول کیږي، او پدي ترتیب په وینه کي اکسیجن په منتشر ډول زیاتیږي ( دا ځکه چی هیموګلوبین یو ټاکلی مقدار اکسیجن سره د پیوستون وړتیا لري)، او $P_{O2}$ تر 200 mm Hg پوری لوړیږي او په نتیجه کي Hypoxia له منځه ځي. خو که چیرته Hyperbaric اکسیجن د زیات وخت لپاره تنفس شي نو د اکسیجن تسموم (Oxygen Toxicity) منځته راځي.

## اکسیجن تسموم

## Oxygen Toxicity (Poisoning)

د خپل نارمل اندازی څخه د اکسیجن ډیر زیات زیاتوالی ته د اکسیجن تسموم ( Oxygen Toxicity) وائي، چي د Hyperbaric Oxygen له زیات تنفس کولو څخه منځته راځي.

د اکسیجن تسموم په بدن باندی لاندي اغیزی لري:

✓ تر ټولو لمړی د سږو نسجونه متاثره کوي او د Trachiobronchial Irritation او Pulmonary Edema سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ د ټول بدن میتابولیک فعالیت زیاتیږي او زیات حرارت د تولید سبب ګرځي، چي دا حرارت د نسجونو د سوزیدو او تخریب عامل ګرځي.
- ✓ دماغ ( Brain ) تری هم متاثره کیږي او لمړی د Hyper irritability او وروسته د ګنګستوب، Muscular Twitching او په غوړو کي د کړنګار اوریدل منځته ارځي.
- ✓ او بلاخره دغه تسموم د احساس د درک نه شتون، کوما او مرګ سبب ګرځي.

## د کاربن دای اوکساید ډیربنت

## Hypercapnea (Hypercaba)

په وینه کي د $P_{CO2}$ ډیربنت ته Hypercapnea وائي. هر هغه عامل چي د Asphyxia (د تنفسی لارو بندبنت) سبب ګرځي، Hypercapnea هم منځته راوړی. او همدارنګه Hypercapnea هغه وخت منځته راځي چی کله داسی هوا تنفس شی چي په هغی کی د کاربن دای اوکساید مقدار ډیر زیات وي.

Hypercapnea په تنفس باندي اغیزه کوي او د تنفسی مرکزونو د تنبی سبب ګرځي، خو که چیر ته Hypercapnea بیا هم ختمه نه شوه نو بیا د Dyspnea (په تنفس کی د ستونزو شتون) سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hypercapnea په وینه باندی اثر کوي او pH ئي راښکته کوي، او په قلبی وعایوئي سیستم باندی د اثر په وجه Tachycardia او د فشار لوړوالی منځته راوړي.

همدارنګه Hypercapnea په مرکزی عصبی سیستم باندی اثر کوي او د سردرد، Depression او لټي سبب ګرځي، چي دا نښي نښاني په عضلي شخوالي (Muscle Rigidity)، تومورونو او بلاخره د حساس د درک په منځه تللو باندی خاتمه مومي.

## د کاربن ډای اوکساید کمښت Hypocapnea

په وینه کي د $P_{CO2}$ کمښت ته Hypocapnea وائي، چی د Hypoventilation له وجي منځته راځي او د همیش لپاره اوږی مودی Hyperventilation پسی رامنځته کیږي او دا ځکه چي پدغه وخت کي زیاته اندازه کاربن دای اوکساید خارجیږي.

Hypocapnea په تنفس اغیزه کوي او د تنفس شدت او شمیر زیاتوي، د وینې باندي اثر کوي او pH او کلسیم غلظت يي زیاتوي، چي دا د Tetany سبب ګرځي، او همدارنګه په مرکزی عصبی سیستم اغیزه کوي او عصبی تشوش، لټي، د درک احساس نه شتون او Muscular Twitching سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Asphyxia

د تنفسی لارو بندښت ته Asphyxia وائي، چي د Hypoxia او Hypercapnea د دواړو یو ځاي شتون له مخی تشخیص کیږي، کوم چي د ځندی کولو، ځوړندولو اوډوبیدلو او نورو وجو څخه منځته راځي.

په بدن باندی Asphyxia تاثیرات په دریو مرحلو کي مطالعه کوو:

1) <u>*د Hypocapnea مرحله:*</u>

دغه مرحله چي د Asphyxia لمړی مرحل بلل کیږي او تر یوي دقیقی پوري دوام کوي د تنفسی مرکزونو د زیات او قوي تنبی په وجه تنفس شدید او چټک وي، پدغه مرحله کي سترګي ټیغي راوتی وي، چي بلاخره د Dyspnea او Cyanosis سبب ګرځي.

2) <u>*د تشنج مرحله (Stage of Convulsions):*</u>

ددغی مرحلی دوام د یوي دقیقی څخه کم دی او دا چي په Spinal Cord او دماغو کي ټول مرکزونه تنبی کیږي نو ځکه لاندي اغیزي لري:

a. د ساه اویستنی لپاره د هڅو ډیرښت.
b. د لړزی راتګ.
c. د ویني فشار لوړوالی.
d. د درک احساس له منځه تګ.

3) <u>*د کولیس مرحله:*</u>

دا مرحله چي تر دریو دقیقو پوري دوام کوي لاندي تاثیرات له ځانه سره لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

a. د اکسیجن د کمښت له وجې په دماغ کي د ټولو مرکزونو Depress کېدل.
b. تنفسی ستمیدنی منځته راتګ.
c. د Pupil پراخیدل.
d. د زړه د ضربان کمښت.
e. دتنفسی ستمید نی تر منځ د وخت تدریجی زیاتیدنه.
f. او بلاخره مرګ.

# Dyspnea

په تنفس کي د ستونزو منځته راتګ ته Dyspnea وائي.

په نارمل ډول کله چي انسان تنفس کوی نو توجه ئي نه وي، خو هر کله چي تنفس د ستونزو سره مخ شی او د تنفس په ترسره کولو ته ئي توجه پیدا شی نو دیته Dyspnea وائي.

هرکله چي تنفس کی کم تغیر منځته راځی نو شخص يي درک نه احساسوی او متوجی ورته نه وي، خو که چیرته د Ventilation اندازه د خپل نارمل څخه د 4-5 چنده پوری زیاته شي او شخص ناراحتی احساس کړي نو دغه اندازی او Level ته Dyspnea Point وائي.

په فزیولوژیکو حالتونو کي په ورزش کولو خصوصاً Muscular Exercise سره Dyspnea منځته راځي او په پتالوژیکو حالتونو کي Dyspnea په لاندي حالتونو کي منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ تنفسی ناروغي: Dyspnea په سینه بغل (Pneumonia)، Pulmonary Edema، Pulmonary Effusion، Poliomyelitis، Pneumothorax او سالنډي (Asthma) کی منځته راځي.
- ✓ قلبي ناروغی: په Left Ventricular Failure او Decompensated Mitral Stenosis کی منځته راځي.
- ✓ میتابولیکی ناروغي: لکه د هایدروجن ایون غلظت زیاتوالی، یوریمیا او Diabetic Acidosis کي.

## :Dyspnea Index

Dyspnea Index هغه ضریب دی چي د Breathing Reserve ( د تنفس اعظمي ظرفیت او په یوي دقیقه کي د تنفس شوي هوا د حجم ترمنځ تفاوت) او تنفس اعظمي ظرفیت ( Maximum Breathing Capacity) تر منځ نسبت څخه عبارت دی.

$$\text{Dyspnea Index} = (\text{B.R.} \div \text{MBG}) \times 100$$

او یا

$$\text{Dyspnea Index} = (\text{MBC} - \text{RMV}) \div \text{MBC} \times 100$$

Dyspnea هغه وخت انکشاف کوي کله چي دا ضریب د 60 % څخه ښکته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوروی تنفس
# Periodic Breathing

د تنفس غیر نارمل ریتم ته دوروی تنفس ( Periodic Breathing ) وائي. دوروی تنفس دوه ډولونه لري، چي هر یو ئي په تنفصيل سره تر څیړنی لاندي نیسو.

## 1) Cheyne Stokes Breathing:

دا یو عام دوروی تنفس دی چي د چټک او ژور تنقس پواسطه لکه په Hyperperic Period کی او په مکمل ډول د تنفس په نه شتون (Apnea) پواسطه مشخص کیږي.

a. *Hyperpneic Period:* په ابتدا کي تنفس شدت کم وی خو وروسته په تدریجی ډول یي شدت زیاتیږي او تر اعظمی حد رسیدو وروسته بیرته په تدریجی ډول کمیږي او بلاخره په خفګی ( Apnea) باندي خاتمه پیداکوي، چي دیته د تنفس Waxing – Waning ( په تدریجي ډول پورته او ښکته کیدل ) وائي. دا چي Waxing – Waning په کوم میکانیزم منځته راځي داسي ئي څیړو:

په قوي تنفس کولو سره په زیات اندازه کاربن دای اوکساید بهر ته وځي او د ویني د $P_{CO2}$ اندازه کمیږي چي دا بیا د تنفسی مرکزونو د نهی سبب ګرځي او خفګی ( Apnea) منځته راځي ( دا ئي د Waning برخه)، د Apnea په دوران کي د ویني د $P_{CO2}$ زیا او $P_{O2}$ کمیږي او دا بیا د تنفسی مرکزونو د تنبی سبب ګرځي او دا تنبی په تدریجي ډول زیاتیږي ترڅو چي خپل اعظمي حد ته ورسیږي (دا ئي د Waxing

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه)، او وروسته بيا په تدريجي ډول کميږي او د دوهم ځل لپاره دا لړي بيا تکراريږي.

.b   _:Apneic Period_ هرکله د تنفس شدت تر اصغری نقطی پوري راکم شی نو بيا تنفس د يو کم وخت لپاره دريږی، او لدي وروسته بيا Hyperpneic Peroid صورت نيسی، او دا لړی همداسی دوام مومي، چي هر دوره يوه دقيقی په برکی نيسي.

Cheyne – Stokes Period په دواړو حالتونو کي يعنی هم په فزيولوژيکو او هم په پتالوژيکو حالتونو کي منځته رآځي. چي فزيولوژيک حالتونه ئي عبارت دي له: ژور خوب، لوړه ارتفاع، اوږد Voluntary Hyperventilation په نو زيږديدلو ماشوم او د سخت عضلاتي ورزش څخه.

او پتالوژيک حالتونه ئي عبارت دي له: Intracranial Pressure ډيربنت، د زړه ناروغي چي د زړه د عدم کفايي سبب ګرځي، د پښتورګو ناروغي چي د يوريميا سبب ګرځي، د Narcotics پواسطه تسموم او Premature ماشومان.

## 2) Biot's Breathing :

پدي ډول تنفس کي د Waxing – Waning ميکانيزم نشته، بلکی دا د خفګي (Apnea) او Hypercapnea د يوځاي شتون له مخي تشخيص کيږي، پدي تنفس کي د Hypercapnea څخه وروسته فوراً Apnea منځته رآځي او دا ځکه چي د Apnea په وخت کي د کاربن داي اوکسايد د زياتی تجمع له وجی Hyperventilation منځته راځي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي سبب ګرځي چي په زياته اندازه کاربن داي اوکسايد بهر ته ووځي، نو پدي اساس تنفسی مرکزونه نهي کيږي او Apnea واقع کيږي.

دغه ډول تنفس يوازي په پتالوژيکو حالتونو کي لکه دماغي ناروغيو کي تر سترګو کيږي.

# Cyanosis

په وينه کي د ارجاعي هيموګلوبين د شتون له وجي د پوستکي ابی کيدل د Cyanosis پنامه ياديږي. ددغه ارجاعي هيموګلوبين اندازه بايد % 5-7 g پوري وي. هرکله چي Cyanosis واقع شی نو په ټول بدن کي خپريږي خو په هغو ځايونو کي چي پوستکی نری وي لکه شونډي، غومبوري، پوزه او نوکانو څخه پورته د ګوتو څوکو کي دغه ابي رنګ په ډير واضح ټوګه معلوميږي.

په هغو حالتونو کي چي Cyanosis منځته راځي عبارت دي له:

- ✓ شرياني Hypoxia او Stagnant Hypoxia
- ✓ هرکله چي د هيموګلوبين جوړښت د تسموم کوونکو موادو پواسطه تغير ومومي چي پدغه وخت کي د پوستکي د رنګ پيکه والی ددي موادو له وجی وي نه د ارجاعي هيموګلوبين له وجي.
- ✓ په Polycythemia حالت کي.

# Atelectasis

د سږو د حجم کمښت د Airspace د پوره يا قسمي نه پراخيدو له وجی پيښی ته Atelectasis يا کولپس وايي يا په بل عبارت کله چي هوايي کڅوړی په پوره يا قسمي ډول پراخه نه شي او دهغی له وجي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سږو حجم لږ شي Atelectasis ورته وايي. هرکله چي د سږو يوه زياته برخه کولپس شي نو دا ددي سبب ګرځي چي په وينه کي د اکسيجن مقدار راکم کړي او د تنفسی ستونزی رامنځته کړي.

هغه عوامل چي د Atelectasis سبب ګرځي عبارت دی له:

- ✓ د Surfactant کمښت او غير فعاليت چي د سطحي کشش د زياتيدو په اثر سږي کولپس کيږي او د Respiratory Distress Syndrome منځته راوړي.
- ✓ د Bronchi او Bronchioles بندښت چي پدي وجه هغه هوائي کڅوړی (Alveoli) چي ددغو برانشی او برانشيولونو سره وصل دی کولپس کيږي.
- ✓ په Pleural Space کي د هوا،ويني او زوی (Pus) شتون لکه په Pneumothorax ،Hydrothorax Hemothorax او Pyothorax کي.

# Pneumothorax

په پلورال جوف (Pleural Cavity) کي د هوا شتون ته Pneumothorax وائي. چي ددي پواسطه Intrapleural Pressure مثبت کيږي او د سږو د کولپس کيدو سبب ګرځي.

Pneumothorax په دري ډوله دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## a) Open Pneumothorax :

د قوي جرحى د واقع کيدو وروسته که چيرته پلورال جوف د بهر سره ارتباط پيدا کړي نو دا د Open Pneumothorax پنامه يادي، چي دلته د ساه اخستنى په وخت کي هوا پلورال جوف ته ننو ځي او د ساه اويستنى په وخت کي بيرته ورڅڅه اوځي، او د سږو د کولپس له وجى Hypoxia، Hypercapnea ، Dyspnea، او Asphyxia منځته راځي.

## b) Closed Pneumothorax :

د منځ مهال جرحى په وخت کي هوا پلورال جوف ته ننوځي، خو د پوستکي د الاستيکي خاصيت له مخي پلورال جوف د بهر اتموسفير سره اړيکه نه پيدا کوي. دا هوا که کمه وي نو وروسته په کراره – کراره د پلورال جوف څخه بهر ته خارجيږي او د Hypoxia سبب نه ګرځي.

## c) Tension Pneumothorax :

په ځينو جرحو کي هغه نسجونه چي د صدري جدار له پاسه واقع دى اويا پخپله سږي د Fluttering Valve پشان دنده تر سره کوي، چي پدغه وخت کي پلورال جوف ه هوا داخليږي خو د وتلو اجازه نه ورکوى او پدي ترتيب په پلورال جوف کي فشار لوړيږي او د سږو کولپس کيدو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سینه بغل

# Pneumonia

سینه بغل چي د ځينو موادو د تنفس کولو او يا د بکترياؤ او وايروسونو د مداخلی په اثر منځته راځي، پدي کي د سږو نسجونه په التهاب اخته کيږي او د ويني د حجرو  تجمع پکي هم ليدل کيږي.

سینه بغل د تبی، د سینی د درد، کم تنفس، سیانوزس او بی خوبی سبب ګرځي.

# سالنډي

# Asthma

د بیلا بیلو تنبی ګانو په مقابل کي د هوائي لارو څو څو ځلی تنګوالی ( Bronchaspasm) ته استما وايي. چی د کلینک له مخي ناروغ په نوبتی ډول ټوخی، Dyspnea او Wheezing لري.

دا دواړه خصوصیات ئي د برانشي د ملسا عضلاتو د تقلص له کبله منځته راځي. چي دا تنګوالی د اديما او د برانشيولونو په لومن کي د مخاط د تجمع له ډيربنت سره پيدا کيږي. هغه عوامل چي سالنډي ورڅخه منځته راځي عبارت دي له:

- ✓ د هوائي لارو التهاب ( Inflammation of Air Passage): د Mast cells او Esoniphils څخه د Leukotriens افرازيږي او دا د Bronchospasm سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ د پوزي او حنجري د اعصابو Hypersensitivity چې د بیګانه پروتین له وجي منځته راځي.
- ✓ Pulmonary Edema او د سږو منجمد کيدل: دا چې د سالنډی دغه حالت د چپ زړه د عدم کفائي څخه منځته راځي نو ځکه د Cardiac Asthma پنامه يادیږي.

سالنډی په جريان کي په ساه اخستنه او ساه اويستنه دواړه کي ستونزي موجودی وي، برانشيولونه په ذاتی ډول ددي ليوالتيا لري چي د ساه اخستنی په وخت کي پراخه او دساه اويستنی په وخت کي راتنګ شي نو ځکه د ساه اخستنی په نسبت د ساه اويستنی په وخت کي ستونزي ډيري وي او ددي لپاره چي له سږو څخه هوا بهرته اووځي نو بايد بطنی او صدري عضلات دواړه په شدت سره تقلص وکړي. که پدي ساه اويستنه کي له يو خوا سږي ښه تراکم نه کوي نو له بلي خوا کاربن دای اوکسايد د تجمع سبب هم ګرځي، چي دا تجمع د Acidosis، Dyspnea او Cyanosis سبب ګرځي.

# Pulmonary Edema

د سږو په هوائي کڅوړو او بين البينی نسجونو ( Interstitial Tissues) کي د مايعاتو تجمع ته Pulmonary Edema وائي، کوم چي د سينه بغل، د چپ زړه عدم کفائي او د Mitral Valve د امراضو له وجی چي د ريوي شعريه رګونو ( Pulmonary Capillaries) فشار لوړوي او د مضره موادو لکه کلورين او سلفرداي اوکسايد د تنفس کولو څخه منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Pulmonary Edema ، Dyspnea ، ټوخي، وينه لرونکي بلغم او سيانوزس د شتون له مخي تشخيص کيږي.

مزمنه بين البينى اديما ( Chronic Interstitial Edema) دومره خطرناکه ده که چيرته تداوى نشي نو د سالنډي ( Asthma) سبب ګرځي.

# Pleural Effusion

په پلورال جوف کي د زيات مقدار هوا تجمع ته Pleural Effusion وائي، کوم چي د Atelectasis، Dyspnea او نورو تنفسي مرضونو سبب ګرځي.

دا ناروغي د لمفاوي تخليي د بلاک، Pulmonary Capillaries Pressure د ډيروالي له وجي د ريوي شعريه رګونو څخه د زياتى مايع تيريدنه او د Pleural Membrane د التهاب له وجي منځته راځي.

# توبرکلوز

## Tuberculosis

توبرکلوز چي د Tubercle Bacili پواسطه منځته راځي د بدن هره برخه متاثره کوي خو ددي ټولو په نسبت سږي ډيري متاثره کيږي، چي دغه متاثره برخه ئي بيا د Macrophage پواسطه له منځه ځي او په فبروزس باندي بدليږي چي دغه برخى ته Tubercle وائي.

توبرکلوز پواسطه د سږو تر ټولو لمړى هوائي کڅوړى متاثره کيږي او دتنفسى غشا د ضخامت د زياتوالى له وجى د غازونو د نفوذ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ کي خنډ پیدا کوي. که چیرته توبرکلوز تداوی نشی د سږو دمنځه تللو سبب ګرځي.

# Emphysema

Emphysema چی د تنفسی لارو بندښت یوه ناروغي ده او د سږو دخرابیدو سبب ګرځي، کوم چی سګرټ څکولو، د Oxidant غازونو د تنفس او د Bronchitis د نه تداوی په نتیجه کي منځته راځي.

هغه تغیرات چی ددی ناروغی د انکشاف په نتیجه کی منځته راځی په لاندي ډول تری یادونه کوؤ:

- ✓ د سګرټ څکل او یا د Oxidant غازونو تنفس د برانشی د تخرش سبب ګرځی او مزمنو انتاناتو ته زمینه مساعدوي.
- ✓ پدغه وخت کی د Respiratory Epithelial حجرو پواسطه زیات مخاط افرازیږي چي دهوائي لارو د بندښت سبب ګرځي.
- ✓ سیلیاؤ حرکت ډیر زیات راکمیږي او پدي ترتیب دمخاط د انتقال مانع ګرځي، او دمخاط تجمع له وجی د هوائي لارو بندښت صورت نیسي.
- ✓ Alveolar مخاطی غشا تخریب صورت نیسي.
- ✓ د الاستیکي نسجونو تخریب صورت نیسي.

پاي .

ومن الله توفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# INDEX


## A

Adam's Apple · 26
Adenoid · 24
*Adrenaline Apnea* · 163
*Afferent Nerve Pathway* · 134
Afferent Nerves · 130
Air Conditioning · 22
Alveolar Duct · 39
Alveolar Macrophage · 35
Alveolar Sac · 39
Alveolar Ventilation · 58
Alveoli · 39
Anatomical Dead Space · 79
Anatomical Shunted · 90
**Anatomy and Histology of** · 17
Anemic Hypoxia · 167
*Angiotensine Converting Enzyme* · 16
*Anticoagulant Function* · 16
Antiport Pump · 125
**Apena** · 161
Apneustic Center · 130, 132
Arthynoid Cartilage · 26
Asphyxia · 176
**Asthma** · 184
Atelectasis · 181
Azygos Vein · 52

## B

Bhor effect · 114
Biot's Breathing · 180
Blood Brain Barrier · 143
BPG · 119
Bronchi · 17
Bronchial Vein · 52
Bronchioles · 37
Bronchiopulmonary Segments · 43

## C

Carbamino · 123
Carbamino Compounds · 124
Carbonic Anhydrase · 115, 127
Carina · 32
*Central Apnea* · 163
Cerebrospinal Fluid · 143
*Chemoreceptors* · 142
Cheyne Stokes Breathing · 179
Closed Pneumothorax · 183
**Compliance of the Lungs and Thorax** · 68
Computerized Spirometer · 74
*Conchea* · 19
Conducting Zone · 34
Corniculate · 26
Costal Cartilages · 46
**Cough and Sneeze Reflexes** · 57
Cricoid Cartilage · 26
Cyanosis · 181

## D

Dead Air · 79
Dead Space · 59, 79
*Defense* · 15
*Deglutition Apnea* · 162
Diaphragm · 17, 47
Dyspnea · 177
Dyspnea Index · 178

(c) ketabton.com: The Digital Library


## E

*Efferent Nerve Pathway* · 133
Efferent Nerves · 130
Emphysema · 187
Epiglottis Cartilage · 26
Expiratory Center · 130, 131
*Expiratory Reverse Volume (ERV* · 70

## F

False Vocal Cords · 28
**Fetal Hemoglobin** · 122
$FEV_1$ · 74
$FEV_2$ · 74
$FEV_3$ · 74
Fissure · 43
*Forced Expiratory Volume (FEV)* · 74
Function of Respiratory System · 14
*Functional Residual Capacity (FRC)* · 71

## G

Gases Exchang · 14
Gaspe type of Respiration · 132

## H

Haldane Effect · 124
*Hamburger Phenomenon* · 125
Hard Plate · 19
***Helium Dilution Technique*** · 76
Hemoglobin Buffer · 111
Hemoglobin Saturation Percentage · 106
*Hering Breuer* · 137
Hering Breuer Deflation Reflex · 138
*Higher Center* · 137
Hilum · 43
Histotoxic Hypoxia · 169
Hyaline Cartilage · 26
Hyaline Membrane Disease · 64
Hyperbaric Oxygen · 173
Hypercapnea (Hypercaba) · 174
Hypercapnia · 87
Hyperventilation · 164
**Hypocapnea** · 175
Hypocapnia · 145
Hypoventilation · 165
Hypoxia · 87, 146, 165
Hypoxic Hypoxia · 166

## I

Inferior Conchea · 20
Inferior Meatus · 20
*Inspiratory Capacity (IC)* · 70
Inspiratory Center · 130, 131
*Inspiratory Ramp* · 134
*Inspiratory Reverse Volume (IRV* · 69

## L

Laryngopharynx · 23
**Larynx** · 26
Lower Respiratory Tract · 17
**Lungs** · 43
*Lungs Air Volumes* · 69
*Lungs' Air Capacities* · 70

## M

Maintenance of Body Water Balance · 16
*Maximum Breathing Capacity (MBC)* · 73
Maximum Expiratory Flow · 157
*Meatus* · 20
Medullary Center · 130, 131, 134

(c) ketabton.com: The Digital Library

Middle Conchea · 20
Middle Meatus · 20
*Minute Ventilation* · 73
*Mixed Apnea* · 163
**Muscles of Respiration** · 46

## N

*Nares* · 19
Nasal Septum · 19
Nasopharynx · 23
***Nitrogen Washout Method*** · 77
Nose · 18
*Nostrils* · 19

## O

*Obstructive Apnea* · 163
*Olfaction* · 15, 22
Open Pneumothorax · 183
Oropharynx · 23
Overventilation · 164
Oxygen Hemoglobin Dissociation Curve · 112
**Oxygen Therapy** · 172
**Oxygen Toxicity (Poisoning)** · 173
Oxygenthrapy · 87

## P

*Pain Receptors* · 140
Parietal Pleura · 50
**Partial Pressure** · 81
*Peak Expiratory Flow Rate (PEFR)* · 73
**Periodic Breathing** · 179
Pharyngeal Tonsil · 24
**Pharynx** · 23
Physiological Dead Space · 79
***Plethysmography*** · 78
**Pleura** · 50
Pleural Cavity · 46, 50
Pleural Effusion · 186
Pleural Fluid · 35, 50
**Pleural Pressure** · 65
*Pnemotaxic Center* · 132
Pneumocytes · 63
**Pneumonia** · 184
Pneumotaxic Center · 130
Pneumothorax · 182
*Pontine* · 136
Pontine Center · 132
Pontine Centers · 130
Primary Bronchi · 32, 35
*Proprioceptors* · 140
Pulmonary Edema · 86, 88, 185
Pulmonary Ventilation · 58
**Pulmonary Volumes & Capacities** · 69

## R

Recoil · 62
*Regulation of Blood pH* · 14
*Regulation of Body Temperature* · 16
*Residual Volume (RV* · 70
*Resonance* · 23
Respiratory Membrane · 86
Respiratory Centers · 130
Respiratory Distress Syndrome · 64
**Respiratory Exchange Ratio** · 92
Respiratory Membrane · 41, 84
*Respiratory Minute* · 73
Respiratory Minute Volume · 58
Respiratory Nerves · 130
**Respiratory Quotient** · 93
Respiratory Zone · 34, 39
Respirometer · 74
Reverse Chloride Shifting · 125

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Rhythmic Ventilation** · 128

## S

Secondary (Lobar) Bronchi · 37
Segmental Bronchioles · 43
Shunted Blood · 90
Simple Spirometer · 74
Soft plate · 23
Spirometer · 74
Stagnant Hypoxia · 168
Steep Slope · 111
Superficial Lymphatic Vessels · 56
Superior Conchea · 20
Superior Meatus · 20
Surfactant · 41, 63
*Synthesis of Hormonal Substance* · 16

## T

Tension Pneumothorax · 183
Terminal Bronchioles · 37
Tertiary (Segmental) Bronchi · 37
*Thermoreceptors* · 140
**Thoracic Wall** · 46
Thyroid · 26
*Tidal Volume (TV* · 69
*Total Lung Capacity (TLC)* · 72
Trachea · 17, 32
Trachialis Muscles · 32
Trachiobronchial Tree · 34
**Transport of Carbon Dioxide** · 123
True Vocal Cords · 28
Tuberculosis · 186
Twenty Volumes Percent · 107
Type I Pneumocytes · 40
Type II Alveolar Epi. · 63
Type II Pneumocytes · 41

## U

Utilization Coefficient · 109

## V

*Vagal Apnea* · 162
Venous Admixture of Blood · 95
**Ventilation** · 58
Vestibular Folds · 28
*Vestibule* · 19
Visceral Pleura · 50
Vital Capacity · 75
*Vital Capacity (VC)* · 71
Vocal Folds · 28
*Vocalization* · 15
*Voluntary Apnea* · 161

## W

Water Vapor Pressure · 82
Waxing – Waning · 179

## Z

Zone 1 · 55
Zone II · 55
Zone III · 55

## ب

-Baroreceptors · 139

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


1. Seeley, Stephens, Tate Anatomy & Physiology, $6^{th}$ edition, Mc Graw Hill Company
2. K.Sembulingam, Prema Sembulingam Essentials of Medical Physiology, $4^{th}$ edition, JAPEE Company 2006 India
3. GUYTON & HALL Text book of Medical Physiology, $11^{th}$ edition, ELSEVIER Saunder Company 2006 China
4. LUIZ Carlos JUNQUEIRA, Jose CARNEIRO Basic Hisotology, $11^{th}$ International edition, Mc Graw Hill Company, 2005 USA

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ليکوال لنډه پېژندنه

ډاکتر حامد شيرشينواري د ننګرهار ولايت د هسکه ميني د لالاکلي پوري اړه لري، چي د نوموړي ولايت په مرکزجلال اباد ښار ځلورمه ناحيه کي په 1369 هجري شمسي کال د حمل په 16 نيټه کي د الحاج ګلبرخان په يوديندراه او مدني کورني کي نړي ته سترګي پرانستلي.

لمړني زده کړي يي د خپل پلار او دمسجد مولوي صيب څخه پيل کړي او په 1374 هجري شمسي کال کي د نصرت متوسطه (چي اوس مهال ليسه ده) ښونځي کي شامل شو، تر ابتدايه دوري پوري د همدي ليسي د مهربانو او علمي کدرونو څخه زده کړي وروسته د شهيد محمد عارف عالي ليسي ته تبدلي وکړه او پدي ليسي د استادانو هڅوني او تشويق نور هم د نوموړي ژوند ته علمي رڼا راوستله او په نوموړي ليسه کي د پيژندل شوو ممتازو زده کوونکي کي يادېدلو چي د متوسطي دوري پوره کولو څخه وروسته يي ننګرهار عالي ليسي ته تبدلي وکړه او بلاخره په 1385 کي په عالی درجه د دولسم ټولګي څخه فارغ شو.

ډاکترشينواري د 1386 کانکور امتحان له لاري د شيخ زاهد پوهنتون طب پوهنځي ته کامياب شو چي وروسته د قانوني مرحلو د ترسره کولو څخه ننګرهارپوهنتون طب پوهنځي ته يي تبدلي وکړه او په 1393 هجري شمسي کال يي فراغت سند تر لاسه کړ.

ډاکترحامد شيرشينواري ليکلی کتابونه:

1 - دتنفسي سيستم اناتومي اوفزيولوژي (همدا کتاب)
2 - د زړه او رګونو اناتومي او فزيولوژي (ناچاپ)
3 - اسلام او زړه او رګونو سيستم (ژباړه)(ناچاپ)

ډاکتر لياقت (فضلي مومند)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**